موږ په ټول مجاهدان يو
ستا په لار خدايه روان يو
د قانون ساتندويان يو
چه قانون وي شرعي نه شرقي او نه غربي اسلامي او اسلامي
د حق لاره کښي جدال کړو
د ملحد سره قتال کړو
سم په دين به ښه اعمال کړو
چه وي روح يې قرآني نه شرقي او نه غربي اسلامي او اسلامي
صابران دي په بلا يو
مؤمنان دي په قضاء يو
ځان سپاري ټول په تا يو
داو عده ده بنيادي نه شرقي او نه غربي اسلامي او اسلامي

●

افغانستان وژاړه

پښتو

۱۷ / ۱ / ۱۳۵۹

زړګيه پاڅه په بمو دي وطن وران وژاړه
په حال د خوار او د مظلوم افغانستان وژاړه

چه له یوې خوا د صهیونزم پرې وار وښه کیږي
له بلې خوا د کمونزم گوزار وښه کیږي
شو له د نیا و ر باندې تنگه مسلمان وژاړه
په حال د خوار او د مظلوم افغانستان وژاړه

چه په تاریخ کښې یې نښان لویه نامه د ر لوده
د میړنتوب او شجاعت یې کارنامه د رلوده
اوس خوار او زار او د ر په در دغه افغان وژاړه
په حال د خوار او د مظلوم افغانستان وژاړه

لوی او واړه یې تر تیغ تیر کړه و دادی کار د دښمن
څوک په جیلونو کښې وراستر شو څوک په دار د دښمن
څوک تری تم شو نامعلوم مو گورستان وژاړه
په حال د خوار او د مظلوم افغانستان وژاړه

خوراك پوښاك له موره غواړي ماشومان د وطن
له غمه تښتی دی بهرته زوړ او ځوان د وطن
بیا دیتیم لوڅ سر او پښې څیرې گریوان وژاړه
په حال د خوار او د مظلوم افغانستان وژاړه

شوروی راغی په نامه هیڅ مسلمان نه پریږدي
دا خو لا پریږده زاره ښځې ماشومان نه پریږدي

په جو ماتو نو کښی سپځلی پاك قرآن وژاړه
په حال د خوار او د مظلوم افغانستان وژاړه
چه لیکوالان او ادیبان يې کړل معدوم له ملکه
پوهان باد ړده منور يې کړل محروم له ملکه.
چه ټول وطن شو تړي خالی د اعالمان وژاړه
په حال د خوار او د مظلوم افغانستان وژاړه.

اسلامی ترانه

لاهور

۱۳۵۹/۳/۲۵

ای د اسلامیت لمره خیژه په ځلاشه
ای د عدالت لمره خوره موپه فضا رشه

دا تیاره به تیره شي | زموږ په ولسو باندې
نور به ناروا نه وي | کلیو او ښارو باندې
ورك به شي وژل نیول | مهر هم په خولو باندې
لمر د انسانیت ښکاري | دلته په ختو باندې

ای د اسلامیت لمره خیژه په ځلاشه
ای د عدالت لمره خوره موپه فضا رشه

نور به په دې خاوره کښې — د غه سره بلا نه وي
بیا د انسانیت په نوم — جوړه به غوغا نه وي
ولاړ به شي د شرم ژوند — نور به بې بقا نه وي
د او طن د موږ به وي — کار به د [illegible] نه وي

ای د اسلامیت لمره خېژه په ځلا شه
ای د عدالت لمره خور موږ په فضا شه

ورك به له جهانه شي — نور د کمونزم دام
د غه د وحشت قانون — دا د لنینزم دام
دا د بې خدایه غېږه — د غه د مارکسزم دام
د غه نقاب پوښه مخ — دا د سره فاشزم دام

ای د اسلامیت لمره خېژه په ځلا شه
ای د عدالت لمره خور موږ په فضا شه

هیڅکله موږ نه غواړو — دا د پوړ غلام ژوندون
دا د سرو وحشیانو واك — سراسر بد نام ژوندون
موږ به په نړۍ کښې تل — غواړو یو آرام ژوندون
سم د حریت ژوندون — د غه د اسلام ژوندون

ای د اسلامیت لمره خېژه په ځلا شه
ای د عدالت لمره خور موږ په فضا شه

اسلامی جمهوري

جوزا، ۱۳۵۸

سعادت عالمی شریعت د قرآن
اسلامی جمهوری دا مو غږ دا ارمان
د حق لارکې به دو پل دا مو فکر او عمل دا مو هاند او امل
دا دی دین الٰهی سم یې حکم فرمان
سعادت عالمی شریعت د قرآن
اسلامی جمهوری دا مو غږ دا ارمان
زموږ هدف دی ښکاره نیکمرغي د جهان کرامت د انسان
زموږ دستور آسمانی تل کوي دا بیان
سعادت عالمی شریعت د قرآن
اسلامی جمهوری دا مو غږ دا ارمان
موږ غواړو وحدت شرافت عدالت جمهوریت جمهوریت
اسلامی اسلامی موږ یې یو فدایان
سعادت عالمی شریعت د قرآن
اسلامی جمهوری دا مو غږ دا ارمان.

له ما اتل ننشته

ثور ، ۱۳۶۱

داميرکروړ په قافيه

کمونمي ورك کانونړۍ ننبه په زابل ننشته   له ما اتل ننشته
دخلق غبړ په شا او خوا کښې د کابل ننشته   له ما اتل ننشته

وطن مو ټول دی پاڅيدلی اسلامی قيام دی
يو عمومی قيام دی
د وړو وړولی قيام دی

تنها خبره د پامير او دشيګل ننشته   له ما اتل ننشته

شوروی وبه دې زغلم په سمو غرونو باندې
ټولو ملکونو باندې
په فريادونو باندې

خرسه قطبی د ټيټيدو دې نوړ ځنګل ننشته   له ما اتل ننشته

د مونږ ه خاوره دې زلزلې او طوفانونه لري
سنګې همتونه لري
باتوره ميړونه لري

دلته دې پلونه د زمروډبل چاپل ننشته   له ما اتل ننشته

موږ اوږ بل کړی همیشه په چنګیزانو باندې
په انګریزانو باندې
بیا په روسانو باندې
شاه شجاع و پوښته حاجت بیاد کارل نشته لـه ما اتل نشته
موږ د ایمان په خدای لرو د ښمن به پرېږدو راته
له ویرې غورزي راته
نرګی یې ورزي راته
تېښته په خدای ده مرګ او ژوند بې اجل نشته لـه ما اتل نشته

●

د ظلم ختلی

ثور، ۱۳۶۰

وطن مو روس اشغالوینه هیڅوک اظهار د عقیدې ته نه پرېږدینه
هو! په رښتیا
د روس د لاسه وطن اور شو
ټوله ناآرامه کلی کور شو
پیدا ولس کښي شور ماشور شو
سمه او غر بمبار وینه هیڅوک اظهار د عقیدې ته نه پرېږدینه

هو! په رښتیا
روس نن راغلی په تلوار دی
په مسلم ملک کښی یې ناتار دی
ظلم دی زور دی او اجبار دی
په هیچا رحم نکوینه   هیڅوک اظهار د عقیدې ته نه پرېږدینه
هو! په رښتیا
دیر په وحشت دی نن راغلی
دا د سوسیال امپریال څلی
د موږ میلمه دی نابللی
ښځې او نر حلالوینه   هیڅوک اظهار د عقیدې ته نه پرېږدینه
هو! په رښتیا
وطن یې ټول ویران ویران کا
د ګاز ناپالم بمباران کا
تخریب کا ژوبله کا قتلان کا
هیواد په سرو وینو لړینه   هیڅوک اظهار د عقیدې ته نه پرېږدینه
هو! په رښتیا.

اختره!

۱۸/۷/۱۳۶۰

اختره ته د مظلومانو اختر؟ اختره ته د یتیمانو اختر؟
اختره ته د کونډو رنډو اختر اختره ته د شهیدانو اختر
چې یې اولاد دی په بمو الوتی ته یې د داسې باباګانو اختر
اختره ته د چاغو پېړو خلکو که د لغړو او خوارانو اختر

اختره ته وایه د چا اختر یې؟
ته دیو څو، که د هر چا اختر یې؟

اختره ته د مسیحیانو نه یې اختره ته د یهودانو نه یې
هندوان دي هم بې التفاته د ته اختره ته د ملحدانو نه یې
له خدای منکرو له اخلاقو لیرې ته د خلقیانو پرچمیانو نه یې
چې په زړه نلري باور درباندې ګوره ته دې منافقانو نه یې

اختره ته د خدای د دین نښه یې
ته د اسلام د پوخ آیین نښه یې

اختره ته د موږ بخمو ته راشه ته د موږ سوو سوو زړو ته راشه
په موږ به څه حال دی او څه تیریږي له ښادۍ پاخیږه غمو ته راشه
تا به لیدو چه موږ به درته ګنلي له تیرو تیرو زمانو ته راشه

له بنګلو لاړشه سارا ام وويشه لېږه د مونږ سره تود وستړاشه

اختره ته يې د غمونو اختر

اختره ته د هجرتونو اختر

اختره ته د خوار غريب اختر شه رنځور وزړو نو ته طبيب اختر شه

مړاوي غنچې په تبسم را وله نيم ژواند ګلزار ته عندليب اختر شه

د مونږ هيواد ته نيکمرغي راوړه ته د ټيغ خوا په شان حبيب اختر شه

چه په ربښتيا سره دې بنه ونمانځو ته د شاعر ته داديب اختر شه

اختره ته ربښتيا اختر شه مونږ ته

د نيکي ستوري بختور شه مونږ ته

دا نسل

ميزان، ۱۳۶۰

دا د فکر شباب نسل دا د انقلاب نسل

دغه د طوفان بچي دغه د ګرداب نسل

دغه د تنا مر بښنا دغه د سحاب نسل

ورکړه قربانۍ پلار ياد شو د سيلاب نسل

دا په تندرونو ګډ

دا په سرو اورونو ګډ

د قام د غه پرېشان حالت چه وينمه څوريږم
فرياد مې له خولې ځي درد او الم مې نه بنديږي
ملګري د کمونې مې د ې بربنډ او خوار ولس ته؟!
تل وايي په غرو رکښې چه ستم مې نه بنديږي
(بيا وايي چه تانکونه، ذره پوښ مې بنه خوردن کا
د ابرګ هيلی کوپتر د غه لړم مې نه بنديږي
بادار مو شوروی په هسکه غاړه راته وايي
چه هر څو وسلې غواړې دا کرم مې نه بنديږي)
هر څو مره تسلا چه زړه ته ورکړمه ملګرو!
له زړه نه چه راځي د ستر ګو نم مې نه بنديږي
بهير چه د وسلو وي نو بهيږي به سرې وينې
ولس مې چه قتليږي نو ماتم مې نه بنديږي
په ورح کښې اره دوړ په شپه بنديز دی خلقيانو
اشعار انقلابی د صبحدم مې نه بنديږي.

• ● •

●

•

لوړه تمه لري هیله د سبا لري
ساتي به وطن په ننګ وینه د بابا لري
غواړي د قرآن دستور دی لویه دنیا لري
ناست دي په ګردونو کښې ژوند د ګوریلا لري

دا عقاب د غرو بچي
دا د سردرو بچي

څوك يې تېر ایستی نشي ننګ نه تېرېدی نشي
درس يې د اسلام لوستی بل سبق لوستی نشي
غوږ کښې يې اذان شوی دا لار پرېښودی نشي
دا د اتلانو زوی چاته تښتېدی نشي

تل به دا هېواد ساتي
خپل تاریخ به یاد ساتي

پنجشیر ته

عقرب - ۱۳۶۰

پنجشیره ته له څوګلونو نه ډك ځګر له تاو دې سره لمبه جګه شوه
له دنګو غرونو او فضا دې خدایږ د هستونو یوه نغمه جګه شوه
پیغام يې راوړ د شهید له مزار له هدیرو نه دې وږمه جګه شوه
ستا د زامنو په بې ساري ایثار د هندوکش د غره شمله جګه شوه

ته د ویاړونو افتخار نښنه يې
د سربندنو او ایثار نښنه يې

سنګر دې تینګ ساتلی ساتی به یې | پښتنو ته یې د وحدت نمونه
په بده ځوک د رته کتلی نشي | ته د افغان عالی همت نمونه
جهان دې ولړزاو حیران شو درته | ته هر غدار ته د عبرت نمونه
رښتیا چه خالد شیرانو یې ته | ته د رښتینی اسلامیت نمونه

په سپیرو مستو کښی دې زور وینمه
په وچ وجود کښی دې یو شور وینمه

پښتنو تا ته ځوک در تللی نشي | که در شي بېرته په شا کیږي درنه
که درته وګوري په بد نظر ځوک | سترګې یې وزي او ړندیږي درنه
غرو کښی دې دا رنګه تاثیر وینمه | ځوک چه در ځیږي بېرته لویږي درنه
د مړو بوی به یې جهان ته رسي | دښمن به مري یا به ژوبلیږي درنه

ته یې د موږ د عظمتو حماسه
د تیرو تیرو زمانو حماسه

د زمانو طوفان دې سترې نکړي | ګوره لږ پام کوه د وکه نشي ته
د جهان آس ته نوره هم پونده وركړه | ګوره په لاره کې سوکه نشي ته
تا ته جهان دی منتظر او ګوري | ګوره چه غلی یا او که نشي ته
ته د اسلام مرکز د منګ تا توبی | د همت سسته یې نو که نشي ته

ثابت په خپل هدف مرام او سیږې
همداسي لوړ او سې نیکنام او سیږې .

د اولسونو

١٣٦٠/١١/٢٨

که زمکه سره ده   خپره فضاء ده
که غرونه اوړدی   توره بېدیا ده
د بم راکټو   درزا غرؤا ده
که ورځ ده سله   د ما او تا ده

که هره ورځ مو یو لوی محشر دی
ورته په چورت کښی هر سترګوردی

که کور نړېږي   د مسلمانو
که نوم ورکېږي   د آریایانو
تاریخ پاتېږي   د قهرمانو
سیل بین مه شئ   ای جهانیانو

که نن په ما ده سبا په تا ده
که استیلا ده که تاروا ده

مونږه سر ایښی   د دین د پاره
دامو آرزو ده   دا مو ده لاره

له مړ ییتوب تل یو بېزاره
په دښمن ترپلو لړ هر کناره
هېوا د به خلاص کړو له سره ښاماره
یا به په مرګ ځو له خپل د یاره

غلیمه پوه شه په دغه باندې
ګټه دې نشته که هر څه کاندې
په زور او جبر که ټول کړې لاندې
خرسه ناکام یې که ژاړې خاندې
که استعمال کړې دا ټول زورونه
تابع به نشي دا ولسونه.

●

کله هغه کله دا

۱۳۶۱/۶/۱

دوطن سره افغونه — رنګ په وینو د ښتي غرونه
دناسیالو بد خیالونه — تورې وریځې ظلمتونه
چپاوونه یرغلونه — بدې لوبې بد قتلونه
دسوړ ځوو وحشتونه — د مریو پېغورونه

دا چې ولاړ شي تصور نه
راته راشي بېرته بيا
څوړ وي مې څوړ وي مې
ګله هغه، ګله دا

ګله ياد شي تېر برمونه لويې فتحې جهادونه
د سلطان محمود عزمونه احمد شاه، ميرويس نيكونه
اسلامي شان عظمتونه پكښې يو شان ولسونه
بيا راياد شي هجرتونه اسويلي او حسرتونه

د چاوچې سپيرې شونډې
نعمتونه د بل چا
څوړ وي مې څوړ وي مې
ګله هغه ګله دا

وطن تول ويران ويران شو هره لوېشت يې بمباران شو
لولپه پكښې نور ځوان شو تعقل ورته حيران شو
د اانسان خنګرانسان شو د وحشت په لور روان شو
بيا په خه حال مسلمان شو رنګ په وينو يې جهان شو

د اسلام په باب دامو نه
رالوخيږي نن سبا

خوږوي مې خوږوي مې
کله هغه کله دا

د ریدلې موخیمې وي — پکښې مېشتې پرګنې وي
اسلامي احساس جذبې وي — څومره پاکې عقیدې وي
د ورورۍ ښې مشورې وي — په هر کار کښې مرکې وي
څومره ښې وي څومره ښې وي — نه ځنځير نه زولنې وي
وو په پټ کې شوو بې پته
ټول جهان له رسوا

خوږوي مې خوږوي مې
کله هغه کله دا

دا جهان خدایه آباد کړې — بیا جاري پکښې تېر داد کړې
له پردو نه مو آزاد کړې — مونږ بې غم کړې مونږه ښاد کړې
مونږ یو لاس یو اتحاد کړې — تېر ننګونه را ته یاد کړې
ورکې لومې د شیاد کړې — بریالي مو د اجهاد کړې
چې شهباز د خپلواکۍ مو
پرواز وکړي هره خوا

خوږوي مې خوږوي مې
کله هغه کله دا .

رښتینی مسلمان

۶ میزان ۱۳۶۱

کاشکې یو ځلې ښکاره پاك او ناپاك وی
گر بوانو نه وی پاره او سینې چاك وی
بیا وی نه پوه گویا شوی چه زه څوك یم
زه یو اصل انسانی جوهر که پوك یم
زه د خدای په بندگی کښې یم سپېڅلی
او که هسې تظاهر کـــوم نـاولی
او یا دا چه د مادې تمه هیڅ مه وی
خاص د خدای د پاره لمونځ او کلمه وی
نه معاش یې له افتاء نه له شبان وی
نه د سیاه او کې،جی،بی زیر فرمان وی
نه یې نخته اچولې سپین او شـنه وی
نه له ښتې نه د دجال تویې پریشـنه وی
نه مجبور او نه ککړ په د غه حال وی
نه فضاء وی خړه پړه نه جنجال وی

نه دا مونږ د انګریز، روس، امریکې وی
نه آشنا د ډالر، روبل د سیکې وی
بیا معلوم به وو چه څوک ږغلي راږغلي
څوک د خدای په بندګۍ کښې دی سپېڅلي
څوک به لمونځ څوک به نفلونه بې ریا کا
څوک به حق له ردګاته باطل ته مشا کا
څوک به پرېږدي خپلې ږیرې په مخ باندې
څوک به واچوي په ولو زلفې تاندې
څوک ودرېږي په کتار د مسلمانو
څوک میلان کوي په لوري د ملحدانو
څوک د خدای حکومت غواړي په جهان کښې
څوک بندیږي بیا په لومه د شیطان کښې.

●

چنګال د کمونزم

جوزا، ۱۳۶۲

په سرو وینو لړلې ماضي حال د کمونزم　　چنګال د کمونزم
امید به څه لري له استقبال د کمونزم　　چنګال د کمونزم

کمون تول حماقت دی
ژوندون د حیوانیت دی
عالم پکښې بې پت دی
فحشاء او برګ اتڼ دی استقلال د کمونزم　　چنګال د کمونزم
د روس عجب پلان دی
ګیر کړی یې افغان دی
هدف یې تول جهان دی
فتنه او توطئه د تورو ډال د کمونزم　　چنګال د کمونزم
هدف یې غولول دي
د خلکو تیرایستل دي
خپل ځان سمبالول دي
هدې لارکښې صرف شوي دی ایډیال د کمونزم　　چنګال د کمونزم
نارام تري ولسونه
ایښودي یې دامونه
تیرباسي عالمونه
مجیب ګوره چه ولاړ دی په بنګال د کمونزم　　چنګال د کمونزم
عجیب یې دی شعار
بالعکس یې کردار

غلط يې تول گفتار
اوبوته تمر لنشي له غرباله د کمونزم   چنگال د کمونزم
همیشه تري ټپر خنگ شه
ولاړ پر نام او ننگ شه
کمون سره پر جنگ شه
بیدار شه چه کېنوزي پرگودال د کمونزم   چنگال د کمونزم

●

اسلامي جهان

۱۳۶۲/۱۱/۲۹

نور نو د تزویر دا خځيرونر نر منه
لري شه له مخې مې د پوال د تور خمه

زه له مریتو بېرېم بېزاره استقلال غوارم
زه د طاغوتیانو نابودي محوه زوال غوارم

زه یو مسلمان یم اسلامي برم او جلال غوارم
دا یو تش خیال نر دي حقیقت دد غه خیال غوارم

زه بر اسلامي حکم بیا بیا نافذ ومه
لري شه له مخې د پوال د تور خمه

له سالنګه

کابل

سنبله، ۱۳۵۸

شځ خبر د افغانانو له غورزنګه
پاڅیدلي کړي د فاع له خپله ننګه
په شیبه او ماهیه کښې زلزلې دي
د هیبت غږ ونه خیژی له سالنګه
د کمون د زړه ریښې دې کړلې غوڅې
مجاهده زه دې چار شم له کلنګه
من به اخلو خپل کسات له سره غلیم نه
که پرون مو و اخستی له پرنګه
بس کابل دی او خلقیان پکښې راګیر دی
په دښمن مو ساحه کړله ډېره تنګه
د دنیا والو، نه کارګر او نه بزګر شته
ځان خبر کړئ د اسلام ـ کفر له جنګه.

●

دا زموږ نه خاوره د اسلام ده دا اسلام به وي
وخت د خلافت به وي د شرعې استحکام به وي
ځوند به د اصیل وي نه مزدور او نه غلام به وي
دلته شرافت به وي د عدل لوی امام به وي
دا چې دا به کیږي دا خبره ده مسلمه
لږې شه له مخې مې دیواله د تورخمه

دلته تاریخونو دیر دوره ونه اړولي دي
دلته ظالمان په ناکامه راپرزیدلي دي
دلته د باطل بتان نسکوره او نړیدلي دي
دلته خدای پرست او باایمانه اوسیدلي دي
دلته یو مذهب ځوله آدمه تر دې دمه
لږې شه له مخې مې دیواله د تورخمه

دلته د محمود بت ماتوونکي کارنامې ګوره
دلته د میرویس او احمدشاه د وخت نیزې ګوره
دلته د صالحو شهداؤ بنې کیسې ګوره
دلته د اسلام د شهکاریو منظرې ګوره
نور نو نه و دریږم هغه وخت تازه کومه
لږې شه له مخې مې دیواله د تورخمه

خلاص به داوګړی کړم له قید او اسارت څخه
دغه دالحاد له ذليل ژوندانه او له وحشت څخه
داچه سراسر ډک دی له قتل او بربريت څخه
داچه بې بهرې دی له جوهر د معنويت څخه

نه يم يوانسان او انسانيت به مړ او لمه
لرې شه له مخې مې ديوال د تور ځمه

نه مې دي هيرکړي د اسلام ماضی دوره څه هيڅ
نه دي راته ورك هغه ځلانده تاريخونه هيڅ
نه له زړه ايستی شم مسلمانان مليتونه هيڅ
هيڅ دي راته هيڅ دي دا د سيمې بنديزونه هيڅ

نه ده دغه پريکړه د فطرت سره سمه
لرې شه له مخې مې ديوال د تور ځمه

زه به اندلس ته بيا هماغه عدل او داد يوسم
زه به مسلمانو ته بيا فکر د جهاد يوسم
زه به له نړيوالو نه بيا هر ډول استبداد يوسم
زه به ټول جهان ته د افغان د زړه فرياد يوسم

دا مې عقيده ده استوار او مستحکمه
لرې شه له مخې مې ديوال د تور ځمه

ماتې به طلسمونه د زړو استعمار چیانو کړم
ورک به وحشتونه له جهانه د روسانو کړم
محوه به دا کرښې د ړیوړندانو او د ړیوړندیانو کړم
مړې آتشکدې به د آزر او نمرودیانو کړم
څه به کابل ته په لحظه کښې په یوه دمه
لرې شه له مخې مې د یواله د تورې خمه
دا د خدای ج دستور دی حقایق به ښکاره کیږي زه
ظلم او وحشت به نابودیږي نسکوریږي زه
دا نو مکه د خدای ج ده صالحانو ته رسیږي زه
هسې فکرونه دي دا عمل دی تطبیقیږي زه
نور مې د غه خیال ته د عمل جامه ګنډمه
لرې شه له مخې مې د یواله د تورې خمه.

●

د محمد ظاهر شاه په وخت کې

خوب مې ولید زما د پلار په آشیانه کښې
د زړې خونې په سر بالاخانه کښې

په دوران د ظاهرشاه د سلطنت کښې
د نیمه دیموکراسۍ په حکومت کښې
چه یو څو پوقانۍ وچوي په هوا کښې
تور دود وږ تري ایله شي په فضاء کښې
سره خان عمر وه د ك وي سرگردانه
د پرته وراو لا لهانده پریشانه
ږده وایم چه د اخر چل وشوا وځه دي
هاتفي غربوراته وائې چه څه ښه دي
بس یوازې ظاهرشاه ولویدله تخته
د شاهي ساز او سامان هوس او بخته
نه څه مرګ پکښې صورت ونیونه ږو بلي
نه ناپالم استعمال شول او نه شو بلي.

د سردار داؤد په وخت کښې

خوب مې ولید د کابل ښار کښې ها ها وي
خلکې یو تربل تیریږي او غوغا وي

د ماسپښین دوولس بجې دوه توپه وار شي
دکلتور په وزارت بې کلک گوزار شي
خړه پړه وي هوا گرد او غبار وي
په تیار وکښې له هر چا نورکه لار وي
په هدي تیارو کښې ورشم وزارت ته
غواړم ورسیږم حال د "هدایت"(۱) ته
مطمئن چه شوم بیا ولاړ لم جومات ته
د شیر پور عبادت ځي قبله حاجات ته
دخپل ورور(۲) خطیب مې وکړ له پوښتنه
له جوماتنه بې چا پیره وه هتولنه
دکورمځ کښې بې ولاړ وو عالمونه
د محشر ورځ وه برپا ر پیدل ز پونه

---

(۱) زما دتره زوی .

(۲) مولوی عبدالباقی .

• د خلقیانو کودتا په هدې شکل وه ـ خو دوه توپه په دوولسو بجو د دفاع په وزارت وارشول او زما ورورې هم تری تم کړ .

خو هغه ته بې پیدا نکړله لاره
بیا راویښ شو لم له خوبه ناکراره
د داود چه کیدل د خوب تعبیر و
او ښو د لی بې د مونږ د ژوند مسیر و.

●

مېړ ویښ

بیا هېڅکله په یرغل را غلی نه دی
له دې خاورې نه چه تللی په کوکو دی
چه قاتل او د یکتاتور وي مېړ ویښ
که تره کی که چنګیز که هلاکو دی.

●

مړوژنې

پرېږدۍ دا د قیامونو اورمه وژنې
د افغان د ولسونو شور مه وژنې
افسرانو لږ همت ځان ته پیدا کړئ
په عوض کښې د روبلونو ورور مه وژنې.

دفاعي قدرت

د وطن د بل د پاره په زور وي ساته ساته
په توپو په الوتکو په ټانکو يې ساته ساته
دفاعي قدرت د پاره د پردو کومک په کار دى
په څو کمو افغانيو پر و بلو يې ساته ساته.

غرمو ته

ځان مو ور کړ لو توپو نو او ټانکو ته
لوړ و تند و د ساړ اا و سر و غرمو ته
آزادى به کړي حاصل په سر و وينو
بيا يې ور نکړې نا ولو ارادو ته.

عقيده

که مې غاړه په چاړه باندې پرې کيږي
که مړ دک مې له زړ ګې څخه تيريږي

که پوستکي مې څوك باسي له وجوده
که اوړې مې له نوکو څخه بېلېږي
له دې خپلې عقيدې نه به وانهوړم
څو مې وينه په رګو نوکښې چلېږي،

باداري

ترپنه وړکه اندېښنه تشويش خواري شوه
چه ثابته د بادارې باداري شوه
سل په سلو کښې ملت يې طرفدار دی
چه يې عامه په ولس کښې بمباري شوه.

نهضتونه

پاڅېدلي ده نړۍ د نهضتونو
لنډوي اوږده منزلونه د عمرونو
حرکت دی پر مخ تګ دی وړاندې يون دی
لوږه مرګ به وي د چاپه نصيبونو

زړه مې هسې د فکر ونو يوه څوله شو
لکه ړکه چه اېشيا ده له غمونو.

بزي

په بمونو د اور ونو بلول
د ماشوم او بېګناه پکښې سېځل
دوام ورکړئ دوام ورکړئ د غه کار ته
څو موږ وي څوموګټه اخستل
ښر به پوه شي څوک به ړ سمې لوی بري ته
او د چا به وي لوی دل نسکوريدل.

خره فضاء

په وطن باندې ړا غلې د ه بلا
خره په خون آلوده د ه فضا
له سپين ږيرو ئې کړل هېر حکايتونه
د ماشوم په خوله کښې وچه ده خندا

چه د بل د وطن تر گدیړي هغه تر بیځ
ای له حاله ناخبره امش چُنْدرا.[1]

رښا

دی جنبش او قیام ونه هره خوا کښی
بری نغښتی وي د توره وپه رښاکښی
د کابل په تاریخي ښار کښی هرګوره
د اسلام بیرغ به رپي من سبا کښی.

سبا

په خپل مړي بې کفن مي زړه سوځیږي
تر ښکیل لاندي په وطن مي زړه سوځیږي
سبا رسولوی بري تر که خدای(ج) کاندي
په پریشانه حال د من مي زړه سوځیږي.

---

(۱) د هند د کمونستو مشر.

دامنیت ټیکه داران

کابل ته دکمونستانو دسولې هیئت درا تګ په مناسبت

سنبله، ۱۳۵۸

ای یو څو کمونستانو د جهان
دا چې راغلئ هیواد ته د افغان
لږ له کلیو او بانډو نه خبر واخلئ
څو مره سوځي په اور و کښې مظلومان
بې ګناه خلک یې وژنی و نیول په جرم
هم مرې د کرېل زاړه ښځې، ماشومان
په ګولو یې کلي وران، حاصلات وسول
شپه او ورځ ښئ دی په موښږه بمباران
دا کارونه دبادار په اشاره د کا
بلکه ګډ یې عملیات دی یو پلان
یو ځای سره د کاندي لاسونه په سرو وینو
بل ځای شي د امنیت ټیکه داران

هوس

په اسلام که وژل کیږم پروا نکړم
د خدای لار کښی که وژنیږم پروا نکړم
چه دده په رضا، بیرته راژوندی شم
د غه کار ته هوسیږم پروا نکړم.

●

ناروا

ستا په قبر دي ردي د دره پوشو
د بي رحمو ظالمانو انسان کشو
خدای نه وغواړه بری لوی استازه
ناروا وي چه ته وینې د سرخپوشو
دا وطن بې په روبلو نوباندي خرڅ کا
دی شعار وطنپالی د وطن فروشو.

●

وعدې

په نامه د کارګرانو بزګرانو
وطن ونیوه اجیرو قاتلانو
د بادار په خوله یې مړه او یو بېناکړو
لږ خبر و اخلئ د کونډو یتیمانو
خو هغه وی هم د بادار په لاس حلال شول
دا وعدې وې د اوفاد شوروی یانو.

تره

په وطن باندې بیا راغله توره لړه
استعمار را وړه کړې ده خپره
لا مو وینې د پلرونو پاکې نه وې
بیا په وینو شوه ګلګونه هره تره
زندانونو ته لېږل دي او وژل دي
سیاسي فضا ښکارېږي راته خړه.

سوالونه

بل ته ناست یو کړو سوالونه
دا مونږ نګ دا همتونه
لوی وارې زاړه او بشځې
نیسو لاړې ګودرونه
وطن پاتې شو د بشمن ته
نه حیا، شته نه شرمونه.

●

تیکه دار

نه د ه تنده ماته شوې د خونخوار
که هر څوېې جوړ د مړو کا امبار
بې حسابه یې را ولیږه لښکر خیل
دی د سولې نړیوالې تیکه دار
داې لوړ او زړه سوی دی په موږ باندې
څوک مومړه شول په بمبار دا وڅوک په دار.

فتنه

یوه فتنه را پورته شوې له ختیځه
د لمبو لوګي یې د ه ویې تر لوید یځه
دا تیاره به خدای افغان باندې رڼا کا
د ستم څراغ بل نه ويي تر ګڼیځه.

●

اور

داخو شر دی دا خو شور دی چې وینم
په اېشیا کښې بل سور اور دی چې وینم
عدالت او حق داد واړه پایمال شوي
په هر ځای کښې ظلم زور دی چې وینم.

سلسلې

د حق سوک د باطل خولې ور ماتوي به
بې بنیاده یې کلې ور ماتوي به
زندانونه به بې رنګه توږي توږي کا
د زورورو سلسلې ور ماتوي به.

انقلاب

د خپلواک او انسانیت د ژوند تهداب یم
د ظالم او دیکتاتور په کور سیلاب یم

چه رښتيني ښکمرغي خلکوته راوړم
زه هغسي انقلاب يم انقلاب يم.

وينه

شعر نه دی د زړه وينه بل څه نه ده
د ځپلي ولس مينه بل څه نه ده
راټول شوي حقايق دي که يې ګوري
وهرچاته خبر سپينه بل څه نه ده.

ښکرماتي

چه راځي نو بيا به د رومي وزرماتي
سره روسيه وزرماتي لښکرماتي
پوزه غوڅه او غوږونه دي پرې شوي
د افغان په غروکښې رغښتي او سرماتي
يوه لکۍ درلره بس ده چه يې نيوسي
چه حيوان غونډي راځي ځي به ښکرماتي.

غوغا

د غم شور او دا غوغا به وي تر څو
په مظلومانو وا به وي تر څو
د یورپ ښامار به څو وخت په لار کیږي
تسلط یې په ایشیا به وي تر څو.

آغاز

پریږدئ کور مې یو عجیب ژوند آغاز کا
د بلبلتون ویر او ماتم نغمه او ساز کا
د هوالو زوي ګلاوي انسان نه وي
ښې کوترې او مرغیانې پرې پرواز کا.

ښیالی

په همت کښې ښیالی کاندي یو له بله
په میړانه زړ ونه کاږي له ګو ګله

چه لرغوني خاطري بېرته ژوندۍ کا
دبابا نغرۍ دې تود وي تل تر تله.

ځاله

دمؤمن دمټ په زور به آزاديږي
دافغان په ننګ او شور به آزاديږي
له دغه وحشي ښاماره که خدای کاندي
دموږ ځاله دموږ کور به آزاديږي.

●

زړه سوی

پروا نکوي دخوارو مسلمانو
دربښتينو مجاهدو سربازانو
دیووالي مفکوره ورسره تشته
زړه سوی ئې پر کوندو يتيمانو.

ژړا

د وطن پر غر و ر غوګېږي ګلان ښوري
غوټه غوټه وريږي هم په آسمان ښوري
وريږي نه دي آسمان ژاړي زموږ په ويرګېږي
ګلان نه دي د وطن شهيدان ښوري.

دښمني

چه دې څومره ربړولم هومره ګلک شوم
په اسلام او مير منتوب ګېږي يو په لک شوم
دښمني دې چه په ړاګه کړله ښه شوه
که څه هم په وحشتو دې هک اوپک شوم.

نادودې

واړه يادې چه نادودې د ناکس کړم
که خوراک وي که خنداوي وار د بس کړم
خو بيا بيرته زړه راغونډه تکيه په خدای کړم
د دنيا له ننګه پاڅيږم هوس کړم.

دحق آواز

ژبې ښورې او پرزړونوکښې ګداز دی
په هرځای کښې دحق شور دحق آواز دی
دشهیدانو وینو سره لالهٔ کاپوره
دسرتیرې مجاهد د روح دمستاز دی.

پسرلی

پسرلی مې معطر را معلومیږي
که دسرو وینو منظر را معلومیږي ؟
د وطن دآزادۍ فتحې په هکله
لرکوم لورې نه خبر را معلومیږي؟!

لیونۍ څپې

دخپل کور توليې سوداوې اندېښنې مې
یا شي تبه یا د سرخوږ یا کلنج شي
لیونۍ څپې په شان د سمندر کا
پرې اشغال چه د نارام زړګی هرکنج شي.

ناهیدته

افتخار دی د وطن هر یو شهید ته
درېدلې چه توپونو دیزمېد ته
چه یې سر په اسلام وړکړلو ورلیږم
رحمتون وجیلهي[1]، شهلا[2]، ناهید[3] ته.

اټک ته!

خاوره خاوره دې بې ننګه راته ښکاري
تیره تیره دې بد رنګه راته ښکاري
غره بهار دې شولو غلي او بهیر دی
بې خپو او بې غورزنګه راته ښکاري
ګردآلوده شوې اټکه چه وجود دې
د بې درده زړه د خمنګه راته ښکاري.

---

(۱)، (۲)، (۳)، افغانی شهیدانې.

تاسو نه بنايئ له حق نه چه تېرېږئ
مه غولېږئ داچه وايئ څو خلقيان
دلته ظلم، دلته زور، دلته وژل دي
له کاروونو يئ نفرت کا هر انسان.

گورېښ.

وردګ
اسد، ۱۳۵۸

په وردګو کښې يو جهادي مرکز

ګورېښته ته د تاريخونو شاهد
ته د افغان د عظمتونو شاهد
سرې، تو دې در باندې تېرې ډېرې
ته د زمان د طوفانونو شاهد
د ښمن او دوست دې پېژندلی دی ښه
ته د ترخو، خوږو ننګلونو شاهد
تا د غليم ناخوالې و کالې
ته د چنګېز د چپاوونو شاهد

د روس مزدور

مهاجرت چه په بده سترګه ګوري
راته ښکاري د روسانو یو مزدوریې
چه اسلام، وطن په روبلو باندې پلوري
بیا ګیله هیڅ ذرته نشته ده معذوریې.

افغانان دي

داچه ګوډ داچه ړانده او بې درمان دي
چه د روس دګاز د لاسه په فغان دي
نه انګرېز نه امریکا او نه د چین دي
کړیې ګوري همه واړه افغانان دي.

حقیقت

دا افغان د شهیدانو تأثیرات دي
چه مسکو نن رټل کیږي په وار ساکښې
حقیقت چه شو څرګند خلکو ته ځکه
د کمون تغر ټولیږي هره خوا کښې.

پانګه

تول بې وینو چه روا که ناروا کا
چه موږ وويني له قصده راترشا کا
له دې لويه پانګه کله څوک ميندای شي
چه په سر د مجاهد باندې سودا کا!

خدنګ

څوم غیاسنې په دا نه سره په جنګ وي
وزره ماتې بې پروا له نام او ننګ وي
لوږې پوځې د بنا مار په خوله کښې ګيرشوي
ناخبره د دښمن وله خدنګ وي.

ناموس

بې پروا چه له اسلام ننګ او ناموس شي
د مسلم ملت په زړه وږو کښې منحوس شي
لاس به راچوي په هره خوابه نه غلي
چه د خدای له لوی رحمت څخه مایوس شي

بیا هاله دخدای له مرستي بې بهرې وي
چه تکیره ئې په رېګن یا په قابوس شي.

غوبل

یم حیران دسیاست دغه غوبل ته
دو دلی ته بزدلی ته چل او ول ته
دا وو ده یو ترمنځ متحیر دی
ستر ګګونه وهي یوه او خاندي بل ته.

دګوربت بانه

تاته سلام دی دګوربت بانه
د بدلون نه پریږد ژوند آوانه

په سر نسندنو دخدای په لاره کښنې
د اسلام بنې دي کړلو شیرانه.

دکونړ سین

دکونړ سینه دکونړ سینه
خواته دې ناست یم په ډېره مینه
په تاکښې گورم دتوحید څاڅکې
تا ده راوړې د شهید وینه.

طوفان

گوره تیر وتې روسیه مسلمان یم
بیا په غبرگو سترگو ړوند شولې افغان یم
اوس که نروې نو به ځان راته تکیه کړې
زه د دهر حوادثو ته طوفان یم.

بې ننگي

پیلوټه راغلی خوار اسپه ننگ و
د اسلام کفر حق باطل جنگ و
د الوتکې میدان ئې ننبنو د
بلوڅ دکوټې څومره بې ننگ و.

د پښتنو مطبوعاتو ته

ترهٔ کی امین کافر چه مرحوم بو لي
څه څوي نن د غنمو په نرخ شولي
خونریزي د اکتوبر ته عظیم وایي
مسلمان په دې خبره باندې زمولي.

سپين کوتره

ای نری له تمدن څخه خبري
دلته وسوې د افغان ولس ککري
څه شوې څه شوې پرواز وکړه په دې لوړي
د ملګرو ملتو سپينې کوترې.

معيار

راته خلق راته پرچم شو پښتنو ه
له اټک نه له پېښور نه تر خيبر
کمونست و ده کوي په هغه ملک کښې
چه معيار د انسانيت وي سيم او زر

خو که د لته سوړ وحشي انقلاب راشي
بیا به چیرې لټوو د تهښتې ووړ.

حماسه

روسه که موږ دې په ګانو کړو تباه
نه به ستا هم آش او کاسه پاتې شي
افغان که ورک شي ځو جهان ته به ئې
تل دیاد ونو حماسه پاتې شي.

پښتونستر

پښتونو ستاسې کښې عالمان دې راټول شوي
د وحشت له قیده تښتي ټول پوهان دې راټول شوي
په سینه کښې دې ځای ورکړه او په ورین تندي ئې ساته
لیکوالان دې راټول شوي شاعران دې راټول شوي
په هوښ دې راغلي کړي جهاد د خدای دپاره
دا په ننګه راپاڅیدلي افغانان دې راټول شوي.

ښامار

که خلقي که پرچمي که پیپلي دی
که شعله که مساوات که ننشنلي دی

په اسلام چه راغونډ نشي مړي وینه
که بلوڅ که پنجابي که بنګالي دی

سور ښامار به یې له ستوني ځنځیر کړي
که د سند که د سرحد که کابلي دی.

هدف

داد مني ښانه نرده نو خه ده
زیړې پاڼې چه توییږي او ګلها کا

لاندې نه مکه کښې اتڼ د بره بوکیو
کارغان هم پاس په آسمان کښې جوړه وراکا

د هدف د قافلو باروته لیرې دي
وړاندې تګ کاما او تالره خنداکا

دا وطن به آزاديږي

۱۳۵۹/۷/۲۶

که پرې الوزي بادونه — د ظلمونو ستمونو
که پرې راشي طوفانونه — د روسانو د قهرونو
که يې زمکه ټوله اور کا — که يې غرونه لولپه کا
ننګيالی افغان جنګيږي
دا وطن به آزاديږي

که يې هر مجاهد ګوره — په ګازونو سوی سکور شي
که کورونه يې تباه شي — که واړه يې ټول په اور شي
که فضا يې شي لوخړه — که يې مال تالاوالا شي
خپلواکې ته به رسيږي
دا وطن به آزاديږي

که په لار ورته بمونه — وکړي په سرو لاسونو
که محکم ديوال ترې تاو کا — د خاردار سيم او پولادو
که ټانکونه که توپونه — الوتکې د فضاء نر
پرې غورځيږي پرې درزيږي
دا وطن به آزاديږي.

نوې دنیا

حوت، ۱۳٦۰

پرېږده نور زړه دنیا   داد شرق او غرب دنیا
نوې دنیا جوړه کړه   ښکلې انساني دنیا
شرق نور رټل شویدی   مخ يې ور تور شویدی
قتل او جفا، کوي   تر ده کارګري دنیا
نوې دنیا جوړه کړه   ښکلې انساني دنیا
غرب کې د آزاد کلچر   ژوند د لېونتوب ښکاري
بد دی دا بې قیده دود   دا دیموکراسي دنیا
نوې دنیا جوړه کړه   ښکلې انساني دنیا
نظم برکرار کړه کښې   محوه استعمار کړه ترې
ټولو ته کړه یو نظر   شي به اسلامي دنیا
نوې دنیا جوړه کړه   ښکلې انساني دنیا.

پامیرته

۵/۵/۱۳٦۰

پامیره هرڅوک په پېړه تیرې شوې
ته لاهما غسې مغرور ولاړ یې

پامیره ته د موږ زړونو دنیا
څومره په ننګ او په غرور ولاړ یې
داچه دي هسکه غاړه تل نیولې ... ځکه چه چاته شرمیدلی نه یې
په لوړ قامت په ښېګڼو ښکلو څوکو ... دخپل هیواد دي مدام څارکوې ته
دښمن چه دي خواستګې ولېږي که ... نو ته یې هلته کړې لرهوی پناه
پخپله ځینې یې اوره اوره کړې ... بیا نو بل څوك جرأت کولی نشي
دموږ ښه روح دموږ دزړونو څوکې
ته په ریښتیا چه کوه طور ولاړ یې
پامیره ته دموږ دزړونو دنیا
څومره په ننګ او په غرور ولاړ یې
پامیره ته د ایشیا بام یادیږې ... ایشیا به هم په تا ویاړنه کوي
ایشیا به ناز کا ستا په شان او لوړه ... خو افغانان به دې پالنه کوي
ځکه دوی کور او د دوی ځاله یې ... تا په سینه کښې عقابان روزلي
له تا به الوزي ستا څاربه کوي ... ځکه چه دوی له دې پی ورکړې
پامیره ته ای د عظمت جهانه !
دك له ایمان له صدق او نور ولاړ یې
پامیره ته دموږ زړونو دنیا
څومره په ننګ او په غرور ولاړ یې

تا د اسلام شهکارې هم لیدلي
ته د اصحاب د یرغلونو شاهد
تا د خلقیانو ظلم هم ولیده
او سه د دوی د دوی د وحشتونو شاهد

او س دې سینه کښې زمریان پراته دي
ته یې د دوی د ګوزارونو شاهد

ته وطنپال په مینه، مینه ساتې
ته د افغان د غورزنګونو شاهد
تا خپل د ښمن ته سینه سپر نیولې
یې د سور مخو د بریدونو شاهد
موږ تا ته وایو، تا به نه پریږدو هیڅ
او سه سرلوړې د ځارونو شاهد

تا به ساتو موږ ه له روسه څني
له هر بېدین هره د وسه څني.

تہ د هیواد لہ محبتہ ډکہ یې   تہ یو خمار یې یوہ نشہ نشہ یې
تہ خود مینې د پیالې شراب یې   تہ د مستیو نہ ډکہ ځپہ یې
تا د وطن حد او سرحد ساتلی   لہ زمانو او لہ پیړو راهیسې
هره ډېره دې د ننګ سندرې   دی وطنوالو تہ مدام اوروې

پامیره تہ ای د نړۍ سرتاجہ !
د وطن مینہ یې مخموره ولاړ یې
پامیره تہ موږ د زړو نو د نیا
څومره پہ ننګ او پہ غرور ولاړ یې

څو ګوره پام کوه بیدار اوسیږه   اوس د تاڅنګ تہ سو ړ سامراج راغلی
غو ړي جلا دې کړي لہ مونږ څخہ   څومره افسوس چہ سپکاوی دې کوي
هلہ شیا دې پہ غرور را ولہ   د آریانا تیرې ټپې ورزده کړه
ګوره عقاب دې کړه چپاو تہ تیار   فضا کښې تیتې دې نغمې ورزده کړه

پامیره ای د آریایانو کوره !
د ننګو ځالہ یې با توره ولاړ یې
پامیره تہ د موږ د زړونو د نیا
څومره پہ ننګ او پہ غرور ولاړ یې.

●

● ●

د خلیج عسکر

زه عسکر یم د خلیج ساتند وی د بحر هند
ماجګړه ده توده کړې د هیواد تولوګوتو کښې

زه د وینو قربانی کړم
خپل وطن آزادوم

زما وینې چاشراب کړې؟ زه د چا د ژوند سامان یم
چا محفل پرې ګرم کړی پرې نشا کړې پرې هوس کړې
زه د بانړ د خاوندانو مجلسونه تودوم !

زه د وینو قربانی کړم
خپل وطن آزادوم

خو که زه جګړه ونکړم روس به نوړي دنیا له
په عالم به وحشت جوړ کا کړې به ورکه هره حاله
بیا خوتنه بې خدایان به په دنیا کښې حکمران وي
دوی به لوبې په جهان کا دوی به وژله او قتلان کا

دوی به ورك کاندي نسلونه دوی به کابړي بنیا دونه
خو په ماده تحمیل شوې داجګړه به زه کوم

داوطن آزاد ومه — اسلامی بزم راولمه
زه هوښیار یم — زه هوښیار یم
زه بیدار یم — زه بیدار یم
خپلي مستي مي دي نغښتي — دالحاد بوی ورکومه
زه د دوینو قربانی کړم — داوطن آزادومه

سپیڅلي آرزو

د اتل مجاهد وینه — ربه ته دریاب دریاب کړې
چه خپې شي غورزنگونه — د ملحدو په کورونو
دغه سوال کومه تاته
دا سپیڅلي مي آرزو ده
داسلام د مجاهدو — دافغان د سربښندونکو
ددې لوی جنبش راوړونکو — اسوېلي یو توردخان کړې
بې دینان چه پکښې سکوړشي — تر ښه ورك د تبښتي لوري
دغه سوال کومه تاته
دا سپیڅلي مي آرزو ده
ربه تا اعجاز ښکاره کړه — د جهاد په سنگرو کښې

سره روسان راته حیران شول　　خلق پرچم په ویرد ځان شول
نور هم وړاندې ترې هوش شعور کړي　　هریو زخم یې ناسور کړي
دغه سوال کوم تا ته
دا سپېڅلې مې آرزو ده
دوی بې ځایه ظلم وکړ　　په مظلومو افغانانو
دوی تباه کړل دي بیدیا کړل　　دا بانډې او دا ښارونه
ربه دوی تباه تباکړې　　پرې ورګډه سره وباکړې
دغه سوال کوم تا ته
دا سپېڅلې مې آرزو ده.

لنډۍ

کورونه ټول بې سرپرست شول
د ماشومانو خواب به څوك په محشر کړینه
امینه ښه خدمت دې وکا!
څوك مهاجر شول څوك په دار ختلي دینه
ماشوم یې لاس ترزنې ناست دی
په انتظار کښي د خپل پلار شپې تیروینه

ترکیه خدای دې کور تالاکړه
خلك دې تباه کړل دین دې ورك کاله وطنه
خوك په رضاء له ملکه نه ځي
زه د خلقیانو له وحشت وطن پرېږدمه
په ما به هغه ورځ اختر شي
چه خلقیان ورك شي افغانان خوشالیږینه
د نیمې شپې خوبونه پرېږده
زلمیه پاڅه روسان راغلي دي ینه
مسکو کافر کابل اسلام دی
بې شرمي زور شوه شوروریان کابل ته ځینه
کوراو کهول به بې اوروخلي
سره استعمار ته چه لاسونه اوږدوینه
غم او ښادي به سره ګالو
سو به سرحد لره په ننګ راغلي یمه
د شوروریانو له وحشته !
په اسلامي دنیا به وکړم فریاد و نه
روسه په ننګ کښې مې سیالي نې
د ربې وسلې دې افغانان تباه کوینه

جهاد کوه بری به مومي
د خدای په لار کښې مجاهد سرور کوینه
په ارو پاکښی دې ځای نه وُ
اوس په ایشیا باندې دې واچول لاسونه
جهانخوري دې نه ده ځه ده
چه دې نړۍ ته تېره کړیدي غابښونه
په کندهار کښې اره دوړ دی
بمونه اوري غازیان شنه شي وخاندینه
د بدخشان غزا ته گوره
په سمه غر دي د سکرو بټو بارانونه
د تاتر شنه چپنه ځار شم
په اسپه سپور شه په دښمن وکړه بریدونه
غازیانو بیا بریتونه تاو کړل
ځيُ روانیږي د خلقي سرپر بکو یئنه
غزني کښې بټولو توره وکړه
خود واغز له جبهې گرد و ورد ه شمه
ماد پنجشیر له جبهې ځار کړې
چه ئې تباه کړله د روسانو کاروانونه

د ارسلان[1] شملې ځار شم
چې په پکتیا کښې یې پرېښودي یادګارونه
ما د ناوړه غازي ځار کړې
په ګردو ممتو کښې یې نغښتي دي ننګونه
د برېژنف مخ خړېدلی
ته وايې سپي دی د شوروي مرداري خورینه
چې په ځدرانو تیرېدلو
وړو ناړې کړې چې پرې نه ږدي خپل ملګونه
مسلمانان به اتحاد شي
که له زخمي زړګی نه پوره ته کړم لا سونه
د تورو وینو یې کړم ډکه
خدای دې د روس په لښکر اور ولګوینه
د حقاني[2] له همت ځار شم
چې شوروي یان په جنګ راځي په ماتې ځینه
ځدران به ولې فخر نه کا
عبدالرحمن[3] چې پکښې سوبې کړې دینه

---

(١) مولوی ارسلا (٢) جلال الدین (٣) د محاذ قوماندان.

شهيده وروره خداى دې مل شه
له شهادته دې په کال خبره شوه
شهيد به ولې ځان مړ بولي
ورته حيران دي د دنيا ستر قدرتونه
روسان په دې هم نه شرميږي
په کيمياوي وسلو يې خوړين کړل عالمونه
بيخ الله خداى دې وران کړه
افغانان ټول د شوروي په ګانه ومرينه
مسلمانانو اتفاق شئ
د شهيدانو وينو جوړ کړل دريابونه
د شوروي له سخته ظلمه
د زړه په سر برمې ومه شميرې زخمونه
د کمونزم دا قانون دی
چه ترې مرداره شي غلو پښت شپې يې پټوينه

دکمونزم دا قانون دی
چه تري مردارشي نو په غرب پسې ور تپینه
دکمونزم دا قانون دی
د تولو پېټې په یوه شخص ور باروینه
دکمونزم دا قانون دی
چه ښه او بد ور ته چېه مفهوم لرینه
دکمونزم دا قانون دی
ښځه او زر زمکه د تولو مال گڼینه
دکمونزم دا قانون دی
په سره وحشت د انقلاب نامه ایږدینه
دکمونزم دا قانون دی
مقدسات په خرافاتو یاد وینه
شفیع[1] الله الله دې مل شه
په دښمن وکړه بې زړه سوی گوزارونه
محمد حسن[2] په غزا گډ شو
جهاد د حق سره دېرا جر لرینه

---

(۱) د پروان قومندان (۲) د ورډگو قوماندان .

جهاد کبنی خود گډ وړی راغلي
چې ترې جلال شول جهاد يار[۳] غوندې ميړنه
د اسلامي جهاد په لار کبنی
د احمدجان[٤] برمې هيرېشي ارمانونه
فريده[٥] ننګ کبنی دي ستيال نشته
چې دي تباه کړل د روسانو تور ټانکونه
شارق[٦] خدای دي بری درکا
چې را اڅوندي کړې اسلامي خلافتونه.
له ټانکه دوی ګوتې سرجنګ کړه
چې له کابل نه کړ ملين درو لښکره

★

---

(۳) بنيادی مبارز .

(٤) د ورد ګو عالم مجاهد.
(٥) د پروان قوماندان .
(٦) د بدخشان مجاهد قوماندان .

د شرافت ژوند

یا د اژوند د انسانیت ژوند
د آبرو او شرافت ژوند
د سیالانو سره سیال ژوند
سراسر د حریت ژوند
تر بنه مرگ سل وار بهتر دی
بد دی، بد د اسارت ژوند

چه د بل چا لاس کتوی شو
ورک شه، ورک شه د ذلت ژوند
د بابا د غره عقاب شه
غور دکړه د شهامت ژوند
د ښمن وشړه په توره
کړه د ننگ او د همت ژوند
خدایه ژوند د موږ هیواد کښی
یعنی ژوند د افغانیت ژوند

کمونستي

د پوهانو په وژلو يې هستي شوه
په شرابو په فحشاء يې بد مستي شوه
اړه دوره ترور وحشت جهل ځنځيرونه
د عوامو قتلول کمونستي شوه.

سوسيالستي

سوسياليزم د کمون خواته قدم دی
په وحشت کښې که اول نه دی دوه‌يم دی
سړي ونيسي په تيره مرګ ته خوښ شي
د فطرت د تقاضا نه پيچ او خم دی.

ماترياليزم

خوی خاصيت يې له حيوانه سره يک دی
د نيزې په وسيله يې پرکټيک د ی
پوچ دليل به يې مني په پښتو سترګو
همدغه ماترياليزم ديالکتيک د ی.

راديكال

چه غوښتونکي د فتنواو د جنجال شي
چه سبب د لوی آشوب او د قتال شي
د فساد هواجول چه يو دم غواړي
په قاموس د کمونست کېږي راديکال شي.

خلقي

چه د فسق فساد په لوړې ترقي شي
چه ممتاز په بې ديني کېږي شي خلقي شي
پلار آزار او مور آزاره له کوره تښتي
د کمون په اصطلاح مترقي شي.

ماديت پرستان

هغه څه چه موږ ته ډېر بد دي دوی ته ښه دي
دا چه موږ ته ډېر خوږ دي دوی ته خواږه دي
له معنا او فضيلت څخه انکار کا
ماديت د بربريت په لوړې تله دي

په خوراك پوښاك کښې جوړترينه حيوان شي
كمونزم وند له انسانيت څخه واټر دي
ظاهربين دي درند ومقلدين دي
له اسرار د كائناتو خبر نه دي.

بې باوري

داخلقيان چه منكر شوي دي له خدايه
نړيدلي بې كلا ښكاري له وړايه
داعمالو په حساب بې باور ننشتر
ځكه ظلم اوقتلونه كا بې ځايه.

دكمونزم كاركر

چه بې فكره بې احساسه ناخبر دى
چه په لاړ د كمونزم كښې اوتر دى
چه بې دين بې عقيدې او حرامخور وي
نوهغه بې زحمتكش او كاريگر دى.

دکمونزم بزگر

چه حاصل د پردی زمکې لکه غل وړي
چه د بل د لاس او پښو د زيار عمل وړي
که بزگر د کمونزم وي په حقه
نو بيې ولې په زيړ رنگ د غه شړل وړي.

ظاهر بيني

په ښکاره څيز اعتقاد ظاهر بيني ده
دا چه غوره پوه انسان ته ده معنیٰ ده
چه د نياته په سطحي نظر کاته کا
مزخرفه د الحاد جهان بيني ده.

ديموکرات

چه غلام او لاس کتو يه بې حيات شي
چه د خپل ولس په لوړ بې سوقيات شي
چه د روس د استعمار لومه کښې کيوزي
بيا هغه نو هم خپلواک هم ديموکرات شي.

پرولتري ديکتاتوري

کـه دې لاس او پښې تړې خدمتگاري ده
کـه دې مال وړي کـه دی وژني همکاري ده
چـه د دوست او د دښمن توپير پرې نشته
د غه رنگ ديکتاتوري د پرولتري ده.

طبقاتي مبارزه

پکښې تل ناباوري بې ثباتـي ده
پـه چپـه مفهوم جاري ديموکراتي ده
د ترور دوام بې سولې ناآرام ژوند
همـد غه مبارزه طبقاتـي ده.

د کمونزم هدف

د کمون هدف قدرت ته رسيدل دي
وعدې تشې دي د خلکو غولول دي
سياست کښې چه کامياب شي بيا يې گوره
چه بې څرنگه نيول څنگه وژل دي.

استعمار

امپریال او صهیونزم استعمار دی
د جهان وینې چه څوري هغه خوخوار دی
کمونزم دې بدن تول وړی له منځه
له همه واړو نه بد د غه ښامار دی.

استثمار

له اوله نه یو پلان دربسته آغاز کا
ځان غمخور په ښوا وبد وکښی همراز کا
تیل دې یوسي گاز دې یوسي ثروت لوټ کا
بیا شروع د دوه اړخیزې دوستۍ ساز کا.

زیربناء

د ثروت چور او چپاو یې زیربناء ده
د شریف خوند مدام پکښی تالا ده
په ستم یې له یوه اخلي سبې د لیله
په جهان کښی جوړه کړې یې غوغا ده.

روبناء

روبنا يې له عادت مخالفت دی
له اخلاقو لرې توب دی حیوانیت دی.
د ځنګل قانون ترسیوری لاندې ژوندی
هر عمل يې په خلاف د انسانیت دی.

دکمون مرام

دکمون مرام دهرې خيټې رواجول دي
اقتصاد کښې د مالونو لوټول دي
فلسفه کښې له خدايه فکر د انکار دی.
سیاست يې اختناق دی او وژل دي.

بورژوا

د خلقي سره چه کړی چا جنجال دی
په قدرت کښې دکمون يې بيا خوشحال دی
بنځې نرې يې ټول کړي جیل ته وردننه
د ده مرګ ورته جائز مال يې حلال دی

پس له مرګه بې هم زړه نه پرې یخیږي
نو مولې بې بوږ ژوا، او یا فیوډ ال دی.

دکمون قانـــون

که امین من دو ړ د هوس او که ترک دی
که غلام حلقه بګوش بې هم ببرک دی
دا قانون دکمونزم دی جهان کښې
هرا یجنټ بې مختوړ او سپک او وړک دی.

●

کمونستي اقتصاد

کمونست کښې اقتصاد که سیاست دی
د یو څو تنو محدود و پرې قدرت دی
دا چه دوی د غه قدرت له ځانه سلب کا
ناممکن او مستحیل د غه حالت دی.

●

مارکسیزم

مار چه پوره ته شي مارکسیزم ترې جوړیږي
لیوني شي لیننیزم ترې جوړیږي
کړي چیچل او د منطق په لحاظ گوره
چه شي مات ماتریالیزم ترې جوړیږي.

مذهب

تازه ده کړي بې رحمي په کوم مکتب کښې
تاویلې ده کښځا په کوم ادب کښې
په ناموس تیري، وژل به روانه وي
بې له مارکسه په کوم دین په کوم مذهب کښې.

پلار وطني جبهه

چه هدف یې د هریت او بې دیني ده
چه یې بل لره وره کړې واکمني ده
مور یې کینوله گروپه کریملین کښې
اوس یې خود ناره د جبهه پلار وطني ده.

د تاریخ جبر

اسلام یې ښودہ تاریخ ځپلی
د نن لـــہ مـــودہ شاتہ لوید لی
د تاریخ جبر څنګہ نابود کا
ھم سور تره کی ھم یې سور کلی.

سیاست

امین بہ ویلې چہ دین جدا دی
د سیاست نہ بېخي سوا دی
خو دوی لمونځونہ لہ سیاست کړل
داسې منطق ھم د کوم بل چا دی.

نہ ماتیدونکی انقلاب

چہ بې پتہ بې عزتہ او بې آب دی
دوکہ شوی چہ نادان پہ دې سراب دی
چہ ولاړ د الوتکې پہ وزر وي
نو ھغہ نہ ماتیدونکی انقلاب دی.

خبرشئ

په اسلام آباد کښې د اسلامي وزيرانو
د غونډې په مناسبت ۱۳۵۸/۱۱/۱۸

داسلام د هېوادونو وزيرانو
اې د سولې امنيت طرفدارانو
د افغان په خواخوږئ چه موجلسه ده
لږ خبرشئ له حالت د دې خوارانو
داسلام په نامه څومره شهيدان شول
څومره وتښول له ظلمه د خلقيانو
بې گناه ماشوم، سپين ږيري او سرتورې
ټول تباه شول په وسله د شورويانو
لا يې زړه را باندې يخ نشو په دې هم
کرل راگډ يې خپل عسکر ترافسرانو
ټول وطن يې لوټ په، خاورې، ايرې کا
څوک په حال به شي خبر د دې خوارانو

خلاق

انقلاب کښې يې روان چه انفلاق دی
چه يې ځپوړ په ټول ولس کښې اختناق دی
چه دې پوست او يا ژوندی په زنوکه ځبېږکا
نو هغه هم تيوريسن او هم خلاق دی.

د دفاع کميټې

که د دفاع يې څو کميټې دي
خوله کښې پر بټې يې د روس جوتې دي
د خلق پرچم زوړ من او يه شوی
که روسان زوي ديوې ګنټې دي.

تکاملی مرحله

د غوايه رژيم چه راغی بدحالي شوه
ورځ لا خواره د بزګر او جوالي شوه
بيا غم جوړ شو په تمام افغانستان کښې
مرحله چه نوې بيا تکاملي شوه.

خلق سازمان

دبې دینې دې پکښې درسو نه
خدای ج تر کنځا وې بد نسبتونه
ډک له فحشاء دي سبا بېگاه دي
د خلق سازونه که سازمانونه.

سیاسي بیرو

ناانسانه او بې شرمه بې آبروده
وینې څښونکې او سفاکه او بې روده
پلیت سپي دي د خلکو سور بیدلي
که د خلق او د پرچم پولیت بیروده.

خلق شوراء

د افغان هره لویشت زمکه کربلا ده
لوی وحشت دې جوړه کړې بې غوغا ده
د سورچې لیوان را غونډ دي په مرداره
که د خلق یا د پرچم عالي شوراء ده.

پلینوم

هر بې وسه بې تیرکړې تر حلقوم دی
دا انصاف او عدالت جهان بې کوم دی
په لیګان پل چرخي بې قتلګاه دی
د الحاد مرکز بې یاد په پلینوم دی.

دخپلي خوښي کار

نوم به پرې کیږي دې د اختیار کار
په حقیقت کښې دی د بیګار کار
دامر ییتوب دی دا غلامی ده
دکمونستو دا د اجبار کار.

د بې سوادی کورس

د روسی تورو درنده کول دي
د دین او ژبې تري هیرول دي
د جواسیسو لویه دستګاه ده
د سپینو خلکو تورکښی نیول دي.

برژنیف[1]

غوږ کښې مې شوی غږ د هاتف دی
چه جهان پاك شو ورك اف كه ایف دی
لوی تعفن ؤ زمکه کښې خښ شو
که مردار شوی نن برژنیف دی.

پوزانوف[2]

خپله پوزه دې کړه غوڅه پوزانوفه
ذره چاود دې برژنیف کاترسوسلوفه[3]
ښاغې واخلې پند عبرت له تیرو تیرو
گوره پښه دې خطا نشي اندروپوفه[4].

---

(۱) د روس دیکتاتور.

(۲) د روس لوی سفیر په کابل کښې.

(۳) د روس نظامی دیکتاتور.

(٤) د روس نوی دیکتاتور.

یاسرعرفات (۱)

په لباس کښی د اسلام چه تظاهر کا
له بی مغزه پوچه سره می زړه تور دی

د یاسرعرفات څه غواړي او څه کا
له دې مسي بی بصره می زړه تور دی

ترهکی

هغه څنګه به انصاف ملک کښی جاري کا
یا د پیدیده برچه ولس کښی د بوړه غل
سور موبک و ترباالبت لاندي مرداړشو
د جوال غل د بوجه غل د توبړي غل.

---

(۱) د فلسطین مشر.

اندروپوف

برژنیف هسې یو خام کلـرو
د وحشت کار تر مدام شلرو
په مرګ یې خاندي اتې ننڅا کړي
اندروپوف پوف وُ او یو دلرو.

●

چیرنینکو (۱)

شو و تباه لـر قساوت د پونزا نوفر
لـر وحشت د بریژنیف او اندروپوفر
چې خیرل نینـر کول او هم کوبل کا
بیا بـر څـر تمـر لرو لـر چیرنینکوفر.

---

(۱) د روس نوی دیکتاتور.

قذافی[1]

که اسد[2] حافظ د کفراو بې دین دی
قذافی له هغه تیر باغي لعین دی
که صدام[3] تل له اسلام سره ټکر کا
خو علي[4] ناصر هم ور د پیر نفرین دی.

مادایم مریم[5]

ځر بره وشي که صورت یې د آدم دی
په خصلت کښې له حیوان سره سم دی
د الحاد اجنټ قاتل د مسلمانو
بې زړه سویه او سفاك مادام مریم دی.

---

(۱) د لیبیا دیکتاتور.
(۲) د سوریې دیکتاتور.
(۳) د عراق دیکتاتور.
(٤) د جنوبی یمن دیکتاتور.
(٥) د حبشې دیکتاتور.

بن جدید (۱)

د شخصي قدرت طالب دوهم یزید دی
له انصاف او عدالت څخه بعید دی
د اسلام او بې طرف جهان د پاره
لوی آفت چه شاذلي بن جدید دی.

اندرا گاندي (۲)

ورته ایښې چه روسانو د شلمه وه
گاندي بوخته د خلقیانو په نغمه وه
سرې لیتارې یې له پښو او سینې تاوې
دا له څیرې د کمونستر کي لیمه وه.

---

(۱) د الجزایر دیکتاتور.

(۲) د هند دیکتاتوره.

فیډل کاسترو (۱)

ربنتیا خبره ده د خرومشر دی
چه یې مثلې ده د سرومشر دی
دکرملین یوګوډاګۍ دی او که
د کیوبا فیډل کاسترو مشر دی.

●

لویه جرګه

چه جوړه کړې یې لویه جرګه ده
دا د توکلو - لعنت جوګه ده
د سرو غوایانو، دا سور وحشت دی
چه ورته کړې یې بنکر او ګه ده

---

(۱) د کیوبا دیکتاتور.

رامش چندرا

په وطن باندې راغلې ده بلا
خره پره خون آلوده ده فضا
له سپين بږيرو يې کړل هير حکايتونه
د ماشوم په خوله کې وچه ده خندا
چه د بل رول ته کړېږي هغه ته ئې
اې له حاله ناخبر رامش چندرا

زموږ د اوښکو، فریادونو پیغام یوسئ
تر ملګرو ملتو، تر جهانیانو
دا دی عدل، دا انصاف، د ابشریت دی؟
څه چپ وکړل تره کی تر امینیانو
سره غونډ شئ، سره یوشئ بېلتون پریږدئ
نړیوالو مستضعفو مسلمانو.

پریشانه خوب

۱۳۵۸/۱۲/۱۵

ما خپله خوب م په خوب لیده

ما په خوب لیده ګړ وړه پریشانه
په بېلتون د خپل شهید کښی له سودانه
بیا وګورم سرکونه نړیدلي
اوریدلي پرې بموته د فضاء نه
هره شپه چه ویده کیږم بس دنو ته یئ
دا څه غوارې زما روح ستا له اروانه
خدای به دا وطن له روس څخه آزاد کا
د بري سبا راځي پس له بېګانه

ستالین

ستالین وژلی ډیر عالمونه
په زور یې ایل کړل آزاد ملکونه
دکمونزم په خره چې سپورشي
بیا به کوي نو دا رنګ کارونه

• • •

ببرک

بې ننګی راغله شرم ونبنت د وطن په لمن
ماچې هغه تورې پاکاوه وربانديې نورپورې شو
له عقله تور ببرک کارمل وُد روسانو مزدور
دکمون ځل ځکه په دغسې شاه تور پورې شو

═✱═

دوه‌یمه‌برخه

اوسني شعرونه

ګورباچوف

په قدرت چه رسیدلی ګورباچوف دی
سیاست یې همانه د اندروپوف دی
دوی له یوه پړي نه سر دی را یستلی
ترې حذر کړې په آخر کې یې چه اوف دی

ګرومیکو

ګرومیکو له ابتداء پیدا له شر دی
پیدا کړی یې دنیا کې شور او شر دی
امتحان کې د وژنو دی پوخ شوی
دی له ټولو سرو خرسانو نه بدتر دی

۱ـ د روسانو اوسنی دیکتاتور
۲ـ د روسانو بهرنی سیاستمدار

نعت شریف

دَ خدای رسوله دَ اسلام لویه رهبره څه شوې
خیرالبشره څه شوې
یوځل خو راشــــه
چې دې کړ کټ پـه نور رڼا کړ منوره څه شوې
خـیرالبشـره څه شوې
یوځل خو راشــه
ته چې مبعوث شوې ټول جهان په عدل او داد ډک شو
دخدای په یاد ډک شو
ای ســازولــیـه
دټول عرب او دعجم نورالبصره خیرالبشره څـه شوی
یوځل خو راشــه
ای ابوبکره په سخت دور کښې امام شولې
دخاص وعام شولې
یاره صـــدیـقه

د اسلامي امت په نبض باندې خبره څه شوې
خیر البشره څه شوې
یو ځل خو را شه
عدل وانصاف دې په رښتیا په ټول جهان خور شو
په خراسان خور شو
لویه فاتحه
د هر ملحد د سر قاتل حضرت عمره څه شوې
خیر البشره څه شوې
یو ځل خو را شه
ای چې جامع د پاک مصحف عظیم قرآن شولې
د حلم کان شولې
حضرت عثمانه
له فضائلو د اسلام نه بهر وره څه شوې
خیر البشره څه شوې
یو ځل خو را شه
دا چې په عزم او همت کښې پهلوان یادیدې
په ټول جهان یادیدې
ای قهرمانه

حضرت علي د خدای اسد په بحراوبره څه شوې
خیر البشره څه شوې
یو ځل خوراشه
ای د اسلام د اقتصاد چې معرف یاد یدې
د خدای عارف یاد یدي
دلسوز انسانه
چې نمونه د عدالت وې ابوذره څه شوې
خیر البشره څه شوې
یو ځل خوراشه
د سیاست او د انصاف توغ دې چې ورپاوه
دښمن دې ولړزاوه
په هر مکان کښې
ای چې جامع وې د حدیث دویم عمره څه شوې
خیر البشره څه شوې
یو ځل خوراشه
ای چې صاحب د کراماتو خوارقو وې ته
د سوابقو وې ته
پیر پیرانه

غوث الاعظم د اسلام شمس القمر څه شوې
خیر البشر څه شوې
یو ځل خو راشه
له اسلامي دنیا دې خداین و خرافات لرې کړل
تا بدعادات لرې کړل
له دې نړۍ نه
لوی مجدد الف ثاني د عمر لمر څه شوې
خیر البشر څه شوې
یو ځل خو راشه
د انګریزانو لوې دښمنه تا وطن آزاد کړ
جاري دې عدل او داد کړ
په اریانا کښې
فضل محمد مجددي دوست د اکبر څه شوې
خیر البشر څه شوې
یو ځل خو راشه
ته د اسلام د نیک احساس پاکې جذبې خاوندوې
د عقیدې خاوندوې
د کشف خاوند ه

نور د اسلام چې یادېږي فضل عمرؒ څه شوي
خیر البشر څه شوي
یو ځل خو راشه
د روحانیت د نیا په تا باندې آباده وه ستل
د که له داده وه ستل
د فیض خاونده
نقیب صاحب د فضائلو سمندره څه شوي
خیر البشره څه شوي
یو ځل خو راشه

پښور بيا

د رحمان بابا په مشاعره کښې

چې خوبانو راته واړوه نظر بيا
په دماغ اؤ زړه مې وشولو اثر بيا

چې د يار په کوڅه ورشم رندانه شم
ګرېوان څيرې مست خراب او هم اوتر بيا

چې نسيم يې د کاکل په سر راتېر شي
هم شي مشک او هم کافور اؤ هم عنبر بيا

چې په سرو لاسو يې زلفې کړلې شاته
نو مې وليده په سترګو سپين سحر بيا

چې له ډېر وخته په ورځو باندې پټ وو
خدايه شکر راښکاره شو هغه لمر بيا

د اشنا فکر او ياد مې پکښې بند شو
له زړګي څخه مې تاو شو اشنغر بيا

هسې زړه مې وو د لرې پرې ترلې
ومې نه مونده دمیني تاو شرر بیا
خدایه سم پسرلی راولې هېوادته
معطر چې تول افغان کالراوبربیا
چې ژوندون دآزادۍ وي سپین سباوي
ترینه ورک وي داد ظلم سور لښکر بیا
قافلې د رنګ او بوی وچلېدلې
ژمي لرې کړدواړو سپین تېغ ربیا
په سرو وینو د خپل ځان سیرابي غواړي
لاله پورته کاله وینو نه خپل سر بیا
د نیکونو کارنامې پکښې ژوندي شوې
له پامیر څخه نیولی تر سپین غر بیا
شا او خوا عالم بې ویښ کړلوله خوبه
چې جهاد په خوځېدو کړلو چو نغر بیا
چې څه لوېي به تکرار شي په دې کال کښې
چې د چا په نس به ننوځي خنجر بیا
څوک به لاندې شي ترخاورو په بمونو
څوک به راوړي د نمو ویرو خبر بیا

چې دا هسې صحنې خیال کښې راته شي
په زړګي کښې مې پیدا شي شوراوشر بیا

دو ننګې سمبیک کیسه که ورته وکړم
په حیرت به شي باهوشه سترګور بیا

دوه او یا کسان له خاورولاندې پټ شول
په درانه کلي شو خور د غم بستر بیا

دافغان په رنګوانو که سر دروڼ کا
خجالت به شي د دې عصر بشر بیا

که په مکر تیري څوک شي رادننه
و به نه باسي له لوې نه خپل ښکر بیا

کود تیمور خودر په زړه که حال یې څه شو
ځان خبر کړه له چنګیز او سکندر بیا

شاعران چې د رحمان په نوم راټول دي
په جامو کښې نه ځایږي پیښور بیا

که تر څو کوی امینیانو دریغ ونه کړ
له هیڅ ډول قید او بند او ناروانه
خو د خدای (ج) دین به هیڅکله ضعیف نشي
د دښمنو که زړه وچوي له خپګانه

ستر ویال آفت

زړونو سوځې، سترګو وژاړې خونبار
غوږو واورې فریادونه په وار وار
په وطن مو څه حال راغلې، څه را وشول
څوک شول تېښتې ته مجبور او څوک په دار
ژوندي خلک ښخوي د ولسونو
د غه کار دی د خلقیانو دا کښتار
انسانیت یې له کارونو تنفر کا
ورته هیڅ دی د چنګیز خوني ناتار
زمونږ وطن، ناموس یې خرڅ کړلو په نوږو
تف لعنت دې په خلقي وي هزار بار

دنیا د مرې

۱۳۶۳ دوبۍ

عجیبه لګي هوا د مرې
ښکلې ښکارېږي فضا د مرې

شینکی اطلس ګې پرې غوړېدلی
په شنه خوله خوند کا خندا د مرې

دنګې يې ونې په څنګ پټې پټې
بل شان لېدل شي طوبا د مرې

هر یو یې بېل بېل یو کیفیت کښې
ښکاد مرې سبا د مرې

که اداګانې او که موسکا ده
دا ټوله باله شي ادا د مرې

په دې ټاټوبي تیار جنت دی
ښه دنیا ده د نیا د مرې

څه دلنشیني او شعرسازي
ښکلې درې دي زیبا د مرې

که یې هر څو مره وصف او تعریف کا
ملامت نه دی شیدا د مرې

د سوات ننداره

داچې ورغلم لېدو ته د بحرین
دوه رودونه وو په مینځ د جبلین
عجیب کیف وو د شنه سوات په ښکلې سیمه
دې ښکلاؤ ته حیران وو ثقلین

چې او بو ته يې ورور سېدم هاله نو
سمدستي مې لــه پښو وکښلو نعلين

دادي پرخې د سهار په کلو باندې
که خولې ښکارې د ښکلو د خدين

چې مې هسکو هسکو غرو ته نظر کا
راته ياد شو صدفين د ذوالقرنين

د هوټل په باب مې وکړله پوښتنه
راته ځواب يې بالرأس والعينين

بيا د سوات والي مې وکړلو اعزاز ډير
جهانزيب ته دې خدای ورکاندې اجرين

د دې سيمې خادمان يې وو نيکو نـه
پرې ګواه د نن پرون دي تاريخين

د غه ځای لره چې زړه يې په کرار وي
ښايي تېر يکښې د دو بې کړې شهرين

خو زما زړه د غمو په اور ستی وو
دوی شولې لارې چې پيدا شول مذهبين

لوی نفاق دې تنظيمو نه راوړي
نور لا څه چې را ميدان ته شول حزبين

ستا په سمه سیخه لاره مونږ روان کړې
ای خاونده لایزاله د دارین

لمنه ونیوهٔ

د مشاعرې په لړکښې میزان ۱۳۶۳ ش

تاچې د مادې او د زوال لمنه ونیوه
ما په ټینګ ایمان د لایزال لمنه ونیوه
زه د حقیقت د پلوشو سره اشنا ومه
تاد ګمراهۍ او د ضلال لمنه ونیوه
ما په خدای قرآن او په رسول ﷺ تمسک درلود
تا د تره کی د لوی د جال لمنه ونیوه
زه شومه په فکر خپل مذهب او جامعې لره
تاچې د باطلو د ګودال لمنه ونیوه
تاچې د قاتلو لو رسته ته لاس ورواچاوه
ما د بیوزلانو د هلال لمنه ونیوه
توره په میدان کښې بیاد چاشولولې پام وکړه
تا توري ته لاس کا ما د ډال لمنه ونیوهٔ

تا د غلامۍ جغ ایښود لو چې تکل وکړ
ما د هسکو تیټو د جبال لمنه ونیوه
ما د اسلامي عدل او انصاف جهان لیدلی وو
تا د کمونیزم د تش خیال لمنه ونیوه
مخ مې قرآن ته د الحاد له سرو لمبو نه کړه
ځکه مې د هغه د ظلال لمنه ونیوه
زه په حق ولاړ یم حق به وایم او په حق به ځم
تا د تزویرونو او اغفال لمنه ونیوه
تا که د شیطان د غه باطله لارې غوره کړه
ما د مهربانه ذوالجلال لمنه ونیوه

خدای ته

اسد ۱۳۶۳ ش

د وحشت څخه چې ډک دی دا جهان له مینځه یوسه
چې یې ورک د مظلوم آه کړ دا آسمان له مینځه یوسه
دا سرونه چې یې ټیټ کړل دا ارواوې چې وکاږي
دا بې روحه کالبوتونه طاغوتان له مینځه یوسه

چې شعور يې منحصر دی په ماده او په ترور کښې
دا د دې عصر وژونکي ملحدان له مينځه يوسه
چې سور داغ د مريتوب يې د تاريخ په تندي ايښی
دا خلقيان له مينځه يوسه پرچميان له مينځه يوسه
دې سرسامه غونډې ژوند کښې يې هڅه قربانيږو
راپيدا د وخت موسی کړه فرعونيان له مينځه يوسه
دا چې بد دي له حيوانه کالأنعام څخه اضل دي
دا تابع د شهواتو انسانان له مينځه يوسه
جهاد وا ؤ بنت له مسيره خدايه دا څنګه حالت شو
دا په تش نامه چې ياد وي مسلمان له مينځه يوسه
که د شرق دي که د غرب دي چې اسلام او وطن پلوري
دا په موږ کښې ننوتي بې دينان له مينځه يوسه
لوی مزل دی توره شپه ده توږې کندې کږليچونه
يا يې ستا په رڼا سرکړه يا افغان له مينځه يوسه

اختلاف

په هر وخت کښې يې شاکرشه له الطافه
په لوی خدای دې کړه د زړه عقيده صافه

په ر ښتیا سره هغوی زړونه لاس ته دروړه
وو بېړه دَ امت دَ اختلافــــــه

چې دین ته تول پتنګان به دې مسحور کړل
هغه بوی اوس درنه نه دروومي کلافه

چې د لرې د نفاق بوی تریږ را دروومي
ثقافت دې په اور پورې شه ثقافه


د عقلي په باب څه فکر درسره دی
چې یې ډوب په ګناهو نوکښې ترناف

زمانه بېداره شوې ده پوهیږي
چې په زرو کښې دې جست ګډ کړل صرافه

تېر به له که وي په کارنو ته هم تېر شوې
په زرهاؤ کتابو باندې صــــحافه

د محشر له لوبې ورځې ووېرېــــــږه
چې دې بنده او بد شي تېر له حیل او مفه

پتنګ نه دی په ډېوه چې ستی نشي
په اخلاص سره چوړلیږي له مطافه



پېښوره قوس، ۱۳۶۳ ش

ته زما د هجرت ځاله او ماوا یې
ته زما د سترګو تور د زړه رڼا یې
د ماشوم غوندې مې زړه وي سرګردانه
په کوم وخت کښې چې له سترګو مې پناه یې
د افغان پټ دې هر وخت کښې دی ساتلی
ته شمله د هندوکش او د بابا یې
له چنګېزه له انګرېزه تر دې دمه
آرام نلرې هر وخت کښې په غوغا یې
په حالت د پردېسۍ تسل په تا کړم
ته مې روح یې ته مې ژوند تر مسیحا یې
نه له اوسه له ډېر وخته په ما ګرانه
ته له خېبره نه تا توبی د آریا یې
تا زما په فکر خیال کښې ځای نیولی
نه به ستا نه شم جلا نه به جلا یې
غېږ دې پرانیزه راځه غاړه غړه شو
پېښوره زه د تا یم ته زما یې

مشاعره ـ

جهان وهي په بډه

دامهٔ کوۍ ګمان چې به افغان وهي په بډه
روسان راولاړ شوي دي جهان وهي په بډه
له ستونې يې پروت تېر بخارا، تاشکند، خيواکړل
سباته به ايران ، عربستان وهي په بډه
شعاريې چې نړه ته وروخدمت د انسانانو
که ځير شۍ حقيقت ته انسانان وهي په بډه
د زمکې سياست يې د رکوده سره مخ شو
نو خځه شي امريکه کهٔ نن آسمان وهي په بډه
جهاد د سرو کافرو په نفاق باندې بدل شو
راغلي جاسوسان اوس ليډران وهي په بډه
تر زړې د رهبرلاندې نن ناست خلق او پرچم دي
لږ ځير شۍ فکر وکړۍ مسلمان وهي په بډه
ظاهرته يې که ګورۍ خلافت به دريه زړهٔ کا
جامه د ملنګي کښې پلنګان وهي په بډه

مادې يې سترګې پټې او غوږونه ورکانه کړل
حق دا سره نه پېژني او مخلصان وهي په بډه
پتنګ په ډېرا خلاص سره په مينه ترې چورلېږي
د شمعې حال ته ګوره پتنګان وهي په بډه
لا مالکي ډوډوي د دې ملت په ناسور زخم
که دادي که هغه افغانستان وهي په بډه

د رحمان د شعر کوکې په عالم دي

د رحمان بابا مشاعره

پيدا شوي چې له نسله د آدم دي
هغه واړه په تشويش درد او الم دي
تمدن يې هسې بولي لوی وحشت دی
خپل کمال يې اخته کړي من په غم دي
د هنر محصول يې صرف شو تباهي کښې
په تخريب، قتل او د مار کښې مقدم دي
په ضعيفو باندې زمکه سره لمبه شوه
په کوکار دي په چغار دي په ماتم دي

ظالمان په رڼا ورځ چاړه په لاس کښې
مظلومان په توږ شپه کښې تري تم دي
څوک عالم دی څوک سیاس څوک دیکتاتور دی
څوک په فکر کښې د عشق او د صنم دي
څوک خمار دي په وودکا پر وایې نشته
څوک الوتي په پرچو باندې د بم دي
خپله برخه رسیدلې ده هرچا ته
هغه کیږي چې لیکلي لوح، قلم دي
جهان بولي نه نیستي څخه هستي ده
د رحمان د شعر کوکي په عالم دي

په نغاره تلم

د لوی احمد شاه بابا په زیارت، حمل ۱۳۶۴ ش

د حق چیغه مې وه کړه په ښکاره تلم
د بریې خواته به تل په تراره تلم
سرلوړي او سرخرویي مې په نصیب وه
که ایران و وکه د هند په نیم قاره تلم

دنیا والو لږ په حال مو خبردار شئ
خبر دار شئ ، خبردار شئ خبر دار
موږ په څه شي یې تعبیر کړو دا بې شرم
دا بې پته ، بې حیاء سور استعمار
ولسونه تیروي له مردار ستوني
سور ښامار دی، سور ښامار دی،سور ښامار
که یې سر له اوسه مخه ینده نه شي
ورک به کاندي هر یو دار،هر یو دیار .

●

دجهان دښمن

حوت ، ۱۳۵۸

ای کمونزمه د جهان دښمنه
د هر سپیڅلی پاك انسان دښمنه
تویوې وینې دکتاب دخاوند
په تیره بیا د مسلمان دښمنه
په اجتماع کښې قتل عام جوړوې
یې پیژندلي زاړه ، ځوان دښمنه

بسم الله الرحمن الرحیم

د قرآن اعجاز

که ادیب که مبلغ د جن او ناس دی
له سیالۍ یې د قرآن اخستی لاس دی

نه یې لفظ کښې تعقید او نه ثقلت شته
نه موجود یې په معنیٰ کښې التباس دی

ټول دی ډک له بلاغت او فصاحته
هم طباق هم توریه ده هم جناس دی

تشبیهات، استعارات یې روح او جسم
بدیعی محسنات یې هم لباس دی

دا چه ډلار دی د الفاظو نه پوهیږم
یا جوهر د معانیو که الماس دی

په کوم ځای چه له کوم څیز ناخبری کړي
تجاهل عارفانه کښې یې ایناس دی

واقع بین دي ورته ډوب د حیرت سیند کښې
منکر شوی ترې وسواس او یا خناس دی

د زابل نه به مې آس ته پونده ورکړه
په تخریب د سومنات اوکاباره تلم

اوس په شان د مهاجر څم هرې خواته
هغه تېر شو چې په توغ په نغاره تلم

دا نو ولې داسې تېټ شوم څه راوشول
چې به جګ لکه عقاب په کهساره تلم

دا چې تل به برېمن وُم علت دا وُ
د رښتیني قیادت په قواره تلم

اوس جهان مې نندارې ته دی وتلی
هغه ولاړ و چې به زه ننداره تلم

لوی مې شان لوی مې شوکت لوی مې قدرت وُ
نه دنن غوندې پرېشان او آواره تلم

څه مې نقش د سیکې څه مې شعار وُ
په محراب تلم په منبر په مناره تلم

نه به توپ شوی ټینګولی نه پلټنو
چې د اَللّٰهُ اَکْبَرُ به په ناره تلم

اورپورې شو

د مشاعرې په لړکښې ═══ سوات - ۱/۲/۱۳۶۴

دا زړه چمن مې چا خزان کړلو پرې اور پورې شو
په تاج محل یې د حسرت داغ لګه سکور پورې شو
تنها انسان په تکلیف نشو له دې ویره ځنې
بورا په غم شو په بلبلو باندې شور پورې شو
بې ننګې راغله شرم وښنت د وطن په ملن
ما چې هغه ترې پاګاوه ورباندې نور پورې شو
د کمونیزم اورکښې وسوی د افغان ټبرې
د غم لوګی یې په هیواد کښې لور په لور پورې شو
د غم ناورین خوا یسارنه شو په یو خوا بله خوا
کلي په کلي ، ښار په ښار او کور په کور پورې شو
هغه نیالګی به مستدام وي چې خوښه کښینې
هغه له بیخه ښخه وزې چې په زور پورې شو
غصه په دې راغله چې زه ولې محروم پاتې شوم
د شهادت مبارک نوم چې مې په ورور پورې شو

په وحشت راغی د قانون او عنعنې په خلاف
ځکه زموږ په روسانو باندې پور پورې شو
لوګی د توپ او د راکټو او ناپالم بمونو
ژوندي خو پرېږده چې د مړیو لا په ګور پورې شو
د موږ په شنه اسمان د الوتکو ګردونه ندي
د اسویلیو، حسرتونو پرې اخګور پورې شو
له دې ویانه زور ورد ساحل خواته ووت
د ماتم داغ هلته د لته په کږ زور پورې شو
چې د شمال له خواسیلاو د سره ښکیلاک پرې راغی
ورمې د هیلو او ارزو د باغ سمسور پورې شو
خلکه را پاڅیږئ پکار ده قربانۍ د وینو
چې د وطن په لوی ناموس سوټک اولور پورې شو
انسانیت ولاړو، ملیت او اسلام کړه وکړه
چې د هوراؤ او هراؤ تنک تکور پورې شو
په پردي ملک کښې په شپه راغی په راندہ بمیت
درسوا نوم ځکه په د غسې شبکور پورې شو
سپین غر، مندیش له دغه اوره په کرار نشو لو
په لوړو څوکو د پامیراو هم د غور پورې شو

د شهیدانو د یتیم پالنه سخته چې شوه
د لاله ګل یې په مزار د پلار او مور پورې شو
د ارمانجن شهید د زړه داغ هره خوا ولګېد
د چا په زوی د چا په لور د چا په خور پورې شو
د چا په ورور د چا په نیا د چا په مشر نیکه
د چا په زړه د ګران ماما او ګرانې ترور پورې شو
د تاند و تاند و آرزوګانو بڼ یې وسوځېد
د غم کونډ توت چې د زاړه بابا په ټکور پورې شو
د اسې هجوم ور چې حساب یې څوک کولی نشي
د دې هېواد په لوړ، ژور په او بډ او سور پورې شو
د مومن جهاد کښې ځینې تور او ځینې سپین وختل
په ځینو باندې پله بېن او نوم د بور پورې شو
د روس ایجنټه و شرمېږه دین، وطن دې خرڅ کړل
په مجاهدو د الله دې هسې تور پورې شو
ځینې د شرق ځینې د غرب، و شوه عجیبه لوبه
د مسلمان په عظیم شان باندې پېغور پورې شو
ای نړیوالو د قطبي خرسانو مخ و نیسئ
د غم فتنه د غم فساد په جهان خور پورې شو

داکبان نهٔ دي چې په جال کښې یې دننه کړې تړه
په نهنګانو دې کم عقله هسې تورپورې شو

د خدای د دین او د وطن لوی سپکاوی یې کاوه
په تره کي او امین ځکه مختور پورې شو

له دې نه لویه تاته چیرې افغانانو ته ده
د راشن نوم چې یې په دیګ کاسه او شکورپورې شو

جګو شملو کښې وو قوي عزم چې اراده
د الحاد جغ په میني شروب او په سر تورپورې شو

کورد ویز نهٔ وینې اونهٔ اورې چې څه تیریږي
عجیبه داده قضاوت په کراو کورپورې شو

له عقله تور ببرک کارمل ؤ د روسانو مزدور
د کمون ځل ځکه په دغسې شاتورپورې شو

دجفا اور په مکارې اوپه پوره بې رحمې
د مومن په دین او په مذهب او په کلتورپورې شو

سور وحشت راغې د عرفان دروازې وتړلې شوې
د رخصت لیک په تول هېواد کښې په کانکورپورې شو

تاؤ د ستم یې په کوټ کوټ کښې په پراخه توګه
په خوار بزګر او په کارګر په پلې سپوږ پورې شو

والیان یې هسې کړل په مخ اوقاضیان وریسې
د غم غبار په هر وزیراوسناتور پورې شو
ویره په جنرالسو ډاکترانو، سفیرانو باندې
هم په لیکوال اومنجم او میناتور پورې شو
روسانو داسې ظلم وکړو چې هیڅ حدیې نشته
د هر بادراوبا احساس په زړه کې غوړ پورې شو

خوشحال بابا

د خوشحال بابا په مشاعره کښې ۲۵-۲-۱۳۶۴ش

چه ادب یې بې مانند او بې مثال دی
چه سلیس دې بې تعقیده بې اشکال دی
در گوهر د کلماتو پکښې نغښتې
تړې چاپیر د لطافت اوحسن جال دی
ته به وایې د قدرت له خوا ښکلی
هر لغت پخپل مورد کښې استعمال دی

هم بدیع هم معانی او هم بیان دی
عجیبه یې براعة الاستهلال دی

چه د نور وله اختیاره وو وتلي
څرگند کړي یې ژور فکر او خیال دی

په هر فن کښې یې د ذهن آس کاپونده
ځنگېدلی یې هر لور د هنر ستال دی

پوره خوندي په ادب کښې مونده کیږي
هم ښکلا او هم ځلا او هم جمال دی

لوی د ښمن د استعمار او استبداد وو
ستر محب د حریت او استقلال دی

هر مظلوم به یې په ځای باندې دیره وو
هر ظالم یې تر قدم لاندې پایمال دی

بوی د مشکو یې د قبر هر خواتیت شو
د رحمت پرې لگیدلی چه مشال دی

په گفتار یې مراوي زړونه ژوندي کیږي
د لویانو په اثر کښې دا کمال دی

د ادب د کمالاتو لویه پانگه
ښکیالی او مفکر ادیب خوشحال دی

فراعنه

۲/ ۳/ ۶۴/ ۱۳ ش

راتیت شول رسیدل چه ترسما فــراعنه
بې نوم شول یادېدل چې په د نیا فراعنه
میدان د حقیقت کښې کوره څنګه په ګونډو شول
عاجز کړل یوې لکړې د موسی فــراعنه
د حق جلوه چه تیته شي بیا ګوره یې تاثیرته
مغلوب کړلو د طور یوې تجــلا فــراعنه
ای خدایه د تا ذکر یې په خلکو باندې هیر کړو
خواره دي په هر لور او هره خــوا فــراعنه
جهاد د افغانانو کښې عجیبه لوی تا ثیر شته
رامات یې کړل که خدای کا د وارسا فــراعنه
نصیب یې شو هډوکی اوله دې نه هم بدتر شول
د خلق او د پرچم دا بې خــدا فــراعنه
فرعون کله ویلی چه دعوی یې ده باطله
هر ځای سره په جنګ دي په غوغا فراعنه

خپل دین او خپل مذهب او ثقافت ټول ترینه هیر کړي
کوم ځای کښي چه د چاشي رهنما فراغنه
په دغه یو څو ورځو هیا طوري یې دوکه نشي
نسکور به شي یانن او یاسبا فراغنه

وژړل

د مشاعرې په لړ کښې
سرطان ۱۳۶۲

ما چه نن ژړل نو ټول جهان راسره وژړل
زمکه په غوغا شوه پاس آسمان راسره وژړل
ما د خپل هیواد چه د ناخوالو حکایت وکړ
هر با عاطفه بادرد انسان راسره وژړل
ما د اسلامي دنیا چه یادې کارنامې کړلې
دېر شولو خواشینې مسلمان راسره وژړل
کله چه یې ولید لوي ستم د سرو خرسانونن
ستورې په حیرت شول کهکشان راسره وژړل
زه په ژړا سر شوم اتحاد چه مې وېچار شولو
هغه د کعبې عهد او پیمان راسره وژړل

خوب کبني مي کړي چغې په وطن مي سترګي سرې کړلي
ګله چه راويښ شولم ګړيوان راسره وژړل
ويښ کړلم آهونو، حسرتونو او غمونو چه
دومره شوم غمجن چي شبستان راسره وژړل
زمکه هم سوځي کوم چه سور اور پرې بل شوی وي
ځکه خوار مظلوم افغانستان راسره وژړل

افاغنه

۱۰/۴/۱۳۶۴ ش

بیرغ د همت جګ کړ تر سما افاغنه
سمبول شول د ننګونو په دنیا افاغنه
نن نه دي امتحان ته افغانانو ورد ننګلي
سرلوړي د تاریخ وو له پخوا افاغنه
نور نشي ټینګیدلی ورته او سپني پولاد هم
چه وباسي لښکر په کومه خوا افاغنه
ټول غرونه کړ نګونه د دشمن په ویتولیت شول
خپل زور یې ورمعلوم کړلو بیا بیا افاغنه

د سخارو[1] ف ژربه، قلم دې بند کړل
بد وړي له تا نه ټول پوهان دښمنه
په حقیقت کښې یاست د ټولو غلیم
ستایې په خوله کاریګران دښمنه
ایران له تا نه ناآرامه ښکاري
تاتار دې جوړ کا په افغان دښمنه
په چل او ول دې بنګله دیش کا جلا
له ستر هیواد د پاکستان دښمنه
کشمیر دې وساته ترخوا د تنور
لمسوې هلته هندوستان دښمنه
یمن دې ونیوه په غیر کښې ورته
آزار دې کا عربستان دښمنه
په سوریه کښې د قاتل[2] په لاس
زیر او زبر دې کا اخوان دښمنه
په حبشه کښې دې شبخون جوړ کړی
عالم دې کړلو په نیران دښمنه

---

(۱) روسي لیکوال (۲) حافظ اسد

تاریخ به افتخار کړي نوم یې ثبت به وي ترتله
چې یاد وو احمد شاه، میرویس، شېرشاه افاغنه

د روس په سر و تیښکو نو کوره خشکه وختلې
ناهید او وجیهه او هم شهلا افاغنه

هغې دروغ یې نه زده با احساس مسلمان دي
ملګري تل مدام دي د رښتیا افاغنه

که نن د نړۍ خور له سره آفته سره ګیر دي
رسیږي خپلوا کۍ ته به سبا افاغنه

نیکمرغه مولود

۲۷/۸/۱۳۶۴ش

میلاد دې تول جهان لره وو زیرې د سبا
تیاره د وحشت لرې شوه د تا په تجلا

تروږمې او ظلمتونو له نړۍ نه کړه وکړه
د تا په تولد سره جهان شولو رڼا

یعوق، یغوث اولات او عزا تول له مینځه ولاړل
زلزله د بدبه شوه د قیصر او د کسرا

سفر دې افلاکو لره اعجاز نه وو نو څه وو؟
پرته يې انګازې وې تر کرسۍ عرش او سما
رښتيا چه من المسجد الحرام څخه روان شوې
د شپې په يوه حصه کښې الی المسجد الاقصا)
(بارکنا حوله) خدای فرمايلي او بيا وايي
چه وښيو رسول ته يو څه (من آياتنا)
جهان دې د رښتيني انسانيت سره اشنا کړ
چه خور دې شريعت شو په هر لور او هر ځوا
او س بيا جهان له لويې خطرې سره دوچار شو
دي وينې تويول او وحشتونه ښار و ا
نه حق او نه قانون شته نه منطق لره څه کوري
زاغلې ده نړۍ ته (سره وبا)(توره بلا)
مونږ تا ته توسل کړو ای د خدای لوی پيغمبره!
چه ورکه له نړۍ شي دا بد مرغه هيولا
جهان له عدالت او له انصاف څخه ډک شي
يونا ست په لويه تمه چه دا دور راشي بيا
چه او ښکي مي کړې وچې او په داد مې ورسيږي مې
غيرت د اسلامي عدل او انصاف په تمنا

دا تلا نو یاد

۱۵/ ۸/ ۳۶۴ ش

خدایه زړه باندې پروت د غم غبار شو
چه د هیلو ګل مې توی تار په تار شو
د هدف یاران یې بېل کړل یوله بله
دا فلک اودا یې کار او دا یې چار شو
د جهاد ستوري سقوط وکړل شرقه
دا چه پیښ د شارقي دویرناتار شو
قوماندان وو، مجاهد وو او لیکوال وو
هر ملحد به یې له لاسه په کوکار شو
یو غم نه دی او دوه نه دي او دریم نه دی
د غمونو مې په زړه باندې انبار شو
له دې ځنګېنې مولوي شفیع الله هم
د الله پاک شهادت لره تیار شو
ستر نمری د کوه صافي وو بې له شکه
په کابل به یې په ورځ باندې ګوزار شو

دې بېشکه چه د حق لارې اتل وو
مخ يې ډک له تجلا او له انوار شو
دې عالم وو، دې عادل وو، دې مصلح وو
دې د ټولو ولسونو لوی غمخوار شو

په هر لور او هره خوا نور افشاني وه
چه يې کړ د پر ښتو په اوږو بار شو
آدم خان هم حماسه زموږ د جهاد وو
چه د دې مقدس پېټي باربردار شو
له اول نه يې جهاد وو پيل کړی
په دې لار کښې د لوی غره غوندې پائيدار شو
جهادوال د اسلامي د ټوې پټنګ وو
چه له دې سپيڅلې شمعې څخه ځار شو
بل تورن افغان مې زړه ټوټې ټوټې کړ
چه د دين اولس د پاره فداکار شو
په هر ځای کښې به يې فتح پر نصيب وه
په هر کار کښې يې صلاح، رغو شعار شو
مجاهد ذبيح الله د اسلام وياړ و و
بُت شکن د هر باطل او استعمار شو

نه پوهیږم د اتفاق که توطئه وه
چه په مینه باندې توتې د لوی دغدار شو

احمد ګل یې زړه محزون پرچې پرچې کړ
د خدای لارکښې چه شهید دغه دیندار شو

لوی فاضل و ومجموعه دښو خویونو
ټول ملت یې په اخلاقو تابعدار شو

دې دخدای د دین د شمعې لوی پتنګ وو
دې دښمن د استبداد او استثمار شو

مولوی فتح الله خان به یې هېر نشي
چه روان دقربانۍ په پاکه لار شو

انتظار شو ورته ګران فرض یې ادا کړ
په کوم وخت چه د دې د ندې عهده دار شو

داد میرهم د اتلانو لوی استل وو
چه د خدای او د وطن په لارکښې ځار شو

دخان ګل دغه لمبوې زړګی وسو
چه شهید دغه ملا د کندهار شو

کارنامې به یې یادیږي تل ترتله
هر عمل یې دې ولس ته افتخار شو

هم شاعر هم مجاهد او هم لیکوال وو
عبدالحی شید اچه ور دلوی ایثار شو

د مطیع مطیع الله په سوانحو
مزین د مجاهدو هر اخبار شو

شهید دومره کرامت لري غیرته !
چه قلم یې په لیکلو جوهردار شو

بې طرفي

سنبله، ۱۳۶۴ ش

که رائج هلته وحشت حق تلفي شوه
د لته هم خوره بې حده اشرافي شوه

له خوښي به په جامو کښې نه ځایږي
چه نصیب یې د رهبر مشرفي شوه

د سرطان مرض وهلي به پرې روغ شي
د قائد احکام نسخه شافي کافي شوه

که دې ده لره کتل او نور دې هیر وو
بنه کرسي یې په بدل کښې تلافي شوه

هیڅ طرف کښې به يې ځای نه پیداکیږي
د هغو چې په نصیب بې طرفي شوه
مونږ به ښکه ورسیږو خپل هدف ته
چې پیداجنګ او جدال بې خلافي شوه
نه پوهیږمه د چاپه لسه د رومو
چې موږه مسئله اختلافي شوه
خدایه مونږ د اتحاد په لور روان کړې
داځکه وخت شو لوچې دود بې انصافي شوه

لانځک شوې

۱۰ / دلو / ۱۳۶۴ ش

د مادې په لور دې کام واخست چالیک شوې
چې معنادې له زړه هیره کړله ورک شوې
چې دې چیغ د غلامۍ په اوږو کښېنود
که به بیر یاد یدلې نن بیرک شوې
اسلامي جهاد خاشاک نښې منلی
د دې تلې په پله کې څوموره سپک شوې

خلافت په لویه تمه درته ناست وو
ته نو ولې د فکرې ارخه هلک شوې

چه د بل په خوله جګیږې او غږیږې
د پردیو محفلو نو ته لانځک شوې

د غه ویش د کمونیزم وو راوښی شه
چاو ئیل چه ته پښتون او ته تاجک شوې

د الحاد بیرغ دې پورته چه په لاس کا
کوږ و ونکی د شملې دلوی خټک شوې

بیا نو څنګه د وجدان خاوند یادیږې
خوښوونکی چه دلوراود سټک شوې

د عقیدوخبرې

مطربه مه کړه د نغمو خبرې
سور کړه په تارکښې د سلګو خبرې
ای د افغان د پسرلې بلبله
وکړه د وینې د ترانو خبرې

اوس په فضا د غرځپي خوروي
په هندوکش کښې د شپېلو خبرې

لږ ورته ځیر شه او په زړه یې واوره
دا تولې دي د اورېدو خبرې

یو څو واوره ناخبره اشنا
د شلم قرن د وحشتو خبرې

د روس دلاسه ښاراو کلي وسول
دا سې دړ واخله د باندو خبرې

که لږ یې واورې په حیرت کښې به شې
دا د بې لاسو او بې پښو خبرې

باور به نکړې که یې وته وینې
دا دي د پند او عبرتو خبرې

دا مکارې ده شیادي ده خلکه !
روس چه کوي د عاطفو خبرې

واورئ د ساینس په دې شلم پېړه
دارادو او عقیدو خبرې

بم د اتوم یې ماتولی نشي
چه شي لاسلیک د ولسو خبرې

وطن موخپل او عقیده موخپله
خــنکه به اورو د پردو خــبری

ټول مسـلمان یې په ښه ژبه وایی
د لـوی افغـان دجهاد و خــبری

چه په تش لاس په ټانک او توپ وختل
واورئ د ننګ او حماسو خــبری

داد ایمان او عقیدې حــکایت
نشـته پکښې د سپینو، سرو خبری

د خدای پـه یاد د تکبیرو غــرونه
د خـدای په یاد د ولولو خبری

په او بو کربنه نه دی څه یادیږی
داد ملګرو ملتو خـــبری

چه د اجراء هیڅ ضمانت ـــنلري
هغه یادیږی دیونو خـــبری

له عدالت او له انصاف لیري دي
د زور ورو دویتو خـــبری

د مسلمان په ماغزو تندر لګی
د خلق پرچم د ګوډاګو خبری

د عقیدې اظهار کولی نه شي
د ترک، وزبك، تاجکستان دښمنه
انسانی خوی درسره مل نه وینم
د هر سلیم عقل، وجدان دښمنه
جادو دې مات شولو له زوره سره
په تمانك دې خیژی فاتحان دښمنه
افسر دې مري او طیارې دې لوېږي
چه شي پرې پېښې مجاهدان دښمنه
نور به په لور دې مظلومان نه ریبي
ورك به دې شي سوټك، سندان دښمنه

●

د حــق لار

۱۳۵۹/۲/٤

د حق لار کښی که شهید شم پروا نشته
واخ مې نشته، ویر مې نشته، ژړا نشته
دلته جنګ د عقیدی او حریت دی
بې له دې نه کومه بله غوغا نشته

ګوري چه تاسو ته دوکه درنکړي
دکوښتو د و عدو خبرې

د زړه د پاسه هیڅ اثر نلري
زړو نو ته لار لري د زړو خبرې

د ا ستا خبرې لباسي دي اشنا
وي پښتني د پښتنو خبرې

ستا له خبرو څه ګټله ده پکار
ورې ورې وي دوړو خبرې

چه مرګي یې ماتولی نشي
پخې پخې وي د پخو خبرې

په ما وریږي د ناپالم بمونه
څه به کړم زه د پسرلو خبرې

د ګلشن سیل ته تیار نه یمه
نه آورم نور د ګلزارو خبرې

راته لږ یادې کړه غمجنه اشنا
د پخوانو تېرو وختو خبرې

ای غمشریکه که تسل راکوې
راسره وکړه د غمو خبرې

بهادره راشه راته راوړه یوځل
د هندوکش او پامیرو خبرې
د کونړ و رنړ و د سرو آهو نو
د ننګیالو د کارنامو خبرې
یو ځل خوراوړه د فضا په څپو
د شهید انو د وږمو خبرې
بیاکړه تازه دې غوټۍ زړه ته
خواجه صفا کښې د میلو خیرې
چې لمر آسمان سره د غرې وهي
د هسک سالنګ دلوړ وغرو خبرې
باغ بالا او استالف او ګل باغ
بیا د پغمان دابشارو خبرې
غیرت ته یادې کړه زمونږ د هیواد
د تیرو تیرو بهارو خبرې

دایشیا بازته

۳/۱۰/۱۳۶۴ ش

لوی پلان درته جوړ شوی شه اګاه له دغه رازه
دایشیا د غروبو بازه د جهان سرنوشت سازه
داد میاشتو حساب نه دی نه حساب د څو کلونو
دغه سوچ د استعمار دی له قرنونو له قرنونو
له تزارځنه نیولی د کمونستو وحشتونو
داد یو عمر کار نه دی دا محصول د بدلونو
شه واقف د ښکیلاککرو له فتنو او حرص او آزه
دایشیا د غروبو بازه د جهان سرنوشت سازه
دښمن دام دی درته ایښی د دوستۍ تر پردې لاندې
پټ وو زهر په کاسه کښې اوښکرې وې پرې باندې
لوی شاه کن وو، شاه ایستلی د تامخې تر لې وړاندې
دا نغمې دوروره نوې داغونو وو ویرساندې
دخواخوږې په څېره کښې شه خبر له لوی غمازه
دایشیا د غروبو بازه د جهان سرنوشت سازه

ښه شوې ښه شوې چه بیدار شوې درته لوڅ شول ټول دانو
دا غلطي لا يې شاپي داد دروغو قدمونه
دا جهان چه نن تېرباسي دا چه مرور یې هیوادونه
ټول غمونه بدمرغي دي دا پردي انقلابونه
د وحشت قیاس ئې وکړه له جنراله تر سربازه
د ایشیا د غرونو بازه د جهان سرنوشت سازه
د جهان نیوو په تمه دا ستا خاوړې اشغال کړه
د کارګرو او بزګرو زړه مینه یې پامال کړه
راشه ورک د دوی له سره د خلیج او د هند خیال کړه
ورښکاره دې ورته نور هم د همت توره او ډال کړه
د تېپوس خوله کړه ورماته ای د لوی کهسار شهبازه
د ایشیا د غرونو بازه د جهان سرنوشت سازه
د نړۍ د ښکېلولو د عمرونو ارمانجن وو ،
د ګازونو او د تېلو د څاه ګانو هیله من وو
برژنف که اندروپوف د تطبیق یې ارزومن وو
دا وصیت یې ورته کړی د تزار چه څنګه دن وو
دا دوستي یې دښمني وه له انجام او له آغازه
د ایشیا د غرونو بازه د جهان سرنوشت سازه

دا ننګیال او میړنی قام په جالونو کښې راګیر دی
د اعقاب ذکر ښکونو دا په ځاله چړیې ویر دی
دالاس چاودي دا پښې چاودي چه د پښنو ګړدې اکسیر دی
زه ترې ځارشم زه ترې ځارشم دغه غزمې د ضمیر دی
د نصرت زېرې پرې وکړه د فطرت غیبي آوازه
د ایشیا د غرونو بازه د جهان سرنوشت سازه

په عجیب امتحان سر شوې د آسیا لوی قهرمانه
راخواره دي طوفانونه او لوخړې له هر خوانه
ځان کړه خلاص له دسیسونه بیا د شرق له سرې بلانه
د نړۍ له لوی افته د جهان عامې وبا نه
و به سوزي د امکرونه ستا د اور سوز او ګدازه
د ایشیا د غرونو بازه د جهان سرنوشت سازه

رابیدار شه ورته وېښ شه ای خاونده د شعوره
له خائن انتقام واخله په ظالمو مور کړه بوره
که هغه دښمن که دادی ته یې ووهه په توره
ځان کړه خلاص له هر غلامه د پردیو له مزدوره
تار په تار کړه تولې لومې زه دې ځارشم له پروازه
د ایشیا د غرونو بازه د جهان سرنوشت سازه

شه عبرت د قاتلانو شه سبق د تاریخونو
شه سرمشق دې وزلانو د اسیرو ولسونو
څراغ بل د آزادۍ کړه له کوتونو ترکوټونو
جهان خلاص له ظلم او زوره کړه شرمخکښ د نهضتونو
دې نړېدو ته یو څو ورکړه ستا له سوزه ستا له سازه
د ایشیا د غرونو بازه د جهان سرنوشت سازه

د شیرانو زدګاه

۱۳۶۶/۴/۳

د مظلوم افغان له آه نه به خلاص نشې
له عذاب د پاک الله نه به خلاص نشې
عاد، ثمود، اصحاب الفیل ته نظر وکړه
د قهار خدای له سپاه نه به خلاص نشې
مجاهد ته چې کین نیسې په کارکښې
د قدرت له کمینګاه نه به خلاص نشې
سره څېره دې ټول جهان بر ملا شوه
د بادردو له افواه نه به خلاص شې

ته چه کلي وانوې ماشومان وژنې
له سزا د دې ګناه نه به خلاص نشې

د مثقال عمل چه هم ترې نه پټیږي
له دې هسې رنګ د ادګاه نه به خلاص نشې

هر یو ځای ثابت هرما زیګر د رتر مقتل شو
له سبا نه له بیګاه نه به خلاص نشې

که پلټنې د طاغوت دې هره خواشي
د یارانو له پناه نه به خلاص نشې

د عقاب ځالې ته راغلي قطبی خرسه
د شیرانو له زادګاه نه به خلاص نشې

توقع

عجیبه مسلمان یو له هرچانه توقع
له دې بې رحمه خلکو د دنیانه توقع
چه غواړې مسلمان لدا صیل خط نه منحرف کړي
چه لوبې په مونږ کړي له کلیسانه توقع

افغان تیت او پرک او سره روسان یې دا ړه ورکړل
له دې بې عطوفته امریکانه توقع

چه غواړي اصالت زموږ د جهاد تر ختم ورکا
نو څنګه به موږ کړو له اروپانه توقع

که نن متې ونغاړو ریښتیا چه تباه کیږو
د سولې په نامه کړو له سبانه توقع

زیاتوالی د لښکر څه پکار نه دی عبرت واخلئ
له هر بې دین، بې فکر، بې خدانه توقع

ناتو د شپې ابې ده چه د ځان پرې تسلا کړو
بیا کله وکړو دوارسانه توقع

چه تل په پښو سوځکو د روسانو غلامي کا
له داسې ناپیلي کمیوبانه توقع

لا اوس هم عرفات لره په لویه تمه ناست یو
بیا وکړو له عدن او له لیبیانه توقع

چه هره فیصله یې په عمل کښې ناکامیږي
له دې بې اقتداره ژینوانه توقع

چه نازمو پرې کولو ښه وو وموپیژندلو
خیبر یې په مخ راکړه له بابانه توقع

چه رنګ د امریکې، روس ورکوی د موږ جهاد ته
له دې زړې دوستۍ اوله اشنانه توقع

جهان تر ژبه لاندې وویل چه نوره دې ووزي
د روس غوندې قاتلې سرې بېلانه توقع

په ځان چه متکې نه دي او هرڅه يې له بل دي
له هسې نړېوال غوندې ګدانه توقع

په نوم د هغه دغې نفاق راوړو ولس ته
له دغسې بې غوره مقتدانه توقع

قصاب چاړه په لاس کښې وايي راشئ چه پخلا شو
د خلق او د پرچم له دې ويانه توقع

داد پاکستان ملت

ساتي به همیشه خپل اسلام او خپل قرآن ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

تل دې سربلندۍ په دې لار کښې قهرمان ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

دا ملت راټول دی په نامه د پاکه اسلام باندې
سوله او سلام باندې
ځکه به په دې لار ترآخره وي روان ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

دوی استعمار ورک کړ له انګریز څخه آزاد شولو
نیک په جهان یاد شولو
بیایې له دې پاکې خاورې لیرې کړل هندوان ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

ژور دی ظلم ، ویره ، داریږي دی ملګري
څکه سمه او آرا مه فضا ، نشته
په هر وخت کښې حق پالونکي پیدا کیږي
چا ویلي چه فرعون ته موسا نشته؟
د اسلام او وطن لار کښې که ټوټې شم
دې خوار ه درد ته هیڅ ډول دوا نشته
که زره مرشم نور به ماغوندې پیدا شي
لار د تیښتي دې د ښمنه هیڅ خوا نشته.

ګوډاګی

۱۳۵۹/۲/۲۸

چه نه شرم ، نه حیاء لري روسی دی
چه پر دې هلو کې خوري بازاري سپی دی
چه هر څوك په مخدور شي نو بیې داړي
دا بې عقل دی ، که مست ، که لیوني دی
نه خبر آوري ، نه حق لره کاته کا
هر دلیل د انسانیت لره ګونګی دی

دوی دي اوس پوه دخرسانو په پلان باندې
دغه لوی شیطان باندې
پېژني هوښیار دي خپل دوستان او دښمنان ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

د اولس نن پوه دی چه د اخوی انفجارونه کړي
هر رنګ تخریبونه کړي
د اګو د اکیان غواړي چه د روس کړي غلامان ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

ګوره روس تاشکند او بخارا ترکستان څه کړلو
ټول یې تېر په خوله کړلو
څکه نن ناتاریې دی جوړ کړي په افغان ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

روس او غلامان یې د اسلام خوشې ناري وهي
هسې مسخرې وهي
غواړي چه رابنکېل کړي په دې توکه دجهان ملت

داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

کوږ په کابل کښې یې دیني عالمان مړه کړلو
ټول ملک یې اوره کړلو
رحم یې ونکړ په واړه، زاړه او ځوان ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

پام کړه پاکستانه دغه چارو ته بیدار اوسه
کلک د دین په لار اوسه
روس ته چې تسلیم نکړې د تاسو کوډاکیان ملت
داد پاکستان ملت
دغه مسلمان ملت

تل یې د افغان مهاجرینو احترام کړی
دا یې په اسلام کړی
اوس دی سرلوړی هم نیکمرغه او ودان ملت
داد پاکستان ملت، دغه مسلمان ملت

له کابله راځي

۱۱/۱۰/۱۳۶۵

هر یو افغان کوي تپوس هوسا یې کله راځي
د نېکمرغۍ ستوری له کومه لوري او بیا به کله راځي

د خدای د پاره مې تې ونغاړئ له نیته سره
د ښنک عمل اجر خو خدای او یو په سله راځي

خدای په قرآن کښې فرما یلي (واعد وا) لهم
مه کنه دا چې ارامي به تل تر تله راځي

چه وران وطن او په لکونو شهیدان وګورم
سا ره آهو نه او سویلی مې له کوکله راځي

فکر یې کاردی نوي تېري افساني هېرې کړه
نن ده د وینو قرباني هغوی به څله راځي

که دې سودا په باب د سولې وي بادرد زلمیه!
ځوابې یې که ګوري له کمین او له مورچله راځي

داد د وستمه وعدې یې کړې دي له د بړو سره
آرزو یل شوې په دې لاره خوځه له راځي

د مسلمان د پاره لویه توطئه جوړه ده
چه د (ملی آشتی) پیغام نن له کابله راځي
وطن سېزل، ملک ورانول او هم عامه وژنې
د اکړه ودي د سرو غوایانو له غوبله راځي
لږ عبرت واخلئ له تره کی او امینه څخه
سل افسوسونه وا ویلا وي له کارمله راځي
په استشمام یې چه د زړه ونو غوټۍ وغوړیږي
زمونږ دماغ ته به دا رنګ بوی له کوم ګله راځي
وایي ترڅو به داسې خوار اوسئ افغان ولسه!
دغه نوا د دغه عصر له بلبله راځي
کاشکې چه پوشي د جهان د غم خواره مسلمان
دغه کلام مې په ربښتیا له خولې او دله راځي
نوري تیارې دي تروږمي ده ای غیرته وایه!
د خپلواکۍ رڼا به بیا له کوم درشله راځي

د انقلاب پیغی

۱۳۶۵/۱۲/۲۴

ای سالار د نهضتونو د ایمان په جذبه شابه
ای پیغی د انقلابه ای د نوي ژوند تادابه

د استکبار ده د اسلام ده تکلیفونه مخکښې شته دی
لاره مه ګڼه آواره کړلیچونه مخکښې شته دی
د دښمن له خواجوړشوي پلانونه مخکښې شته دی
د مزدورو تالي څټولوی داموشه مخکښې شته دی
په تدبیر به وړاندې دروی کاروان خلی له شتابه
ای پیغی د انقلابه ای د نوي ژوند تادابه

انقلاب دې روان کړی په میړانه وړاندې درومه
ای د خدای د فرمانونو هم پیمانه وړاندې درومه
دنیا ټوله ویده ښکاري له جهانه وړاندې درومه
څوک دې مخکښې ودریدی شي قهرمانه وړاندې درومه

دا تېنکونه د روسیانو ستا ایمان ته لاجوابه
ای بچی دانقلابه ای د نوي ژوند تادابه

تا دنیا په شور اخستی تا جهان تر زور ښکاره کړ
تا مغرور په وسله باندې بې ایمان تر زور ښکاره کړ
تا داغرور په لړزه کړل تا اسمان تر زور ښکاره کړ
تا د هر لوي طاغوت او ستر شیطان تر زور ښکاره کړ
ته موجود نو کښي لمبېږي بې پروایي له ګردابه
ای بچي دانقلابه ای د نوي ژوند تادابه

ستا له توري نن تښتي هر مغرور پهلوان وو
ستا زنځیر کښي را ښکېل شوي چه بې دین او بې ایمان وو
نن ولاړ دي ستا په در کښي که باچا خان که سلطان وو
ځکه ستا یو لاس کښي توره په بل لاس کښي دې قرآن وو
ستا د اهره تریږه منده په ربستیا چه ده کامیابه
ای بچي دانقلابه ای د نوي ژوند تادابه

ګوره ستا د توري زور دی هر انسان در ته سلام کا

د حیرت کو ته په خوله دي تاریخدان دته سلام کا
له اټکه تر جروده زوړ او ځوان دته سلام کا
له آمو تر هریروده تول د امان دته سلام کا
د بري نښان دي ښکاري د خیبر له لویه بابه
ای بچی د انقلابه ای د نوي ژوند تادابه

د غر خس خاشاک به ورشي ماخو ښوي لیدلي
ماد تا پاکه سینه کښي عظمتونه دي لیدلي
کوډ انګیان سخت وا خطا دي ما يې زړونه لیدلي
ماد اسپکي هلي ځلي سپک کاموي لیدلي
د اتیاري به خداى رڼاکړي لمر به ووزي له سحابه
ای بچي د انقلابه ای د نوي ژوند تادابه

کوره تا ته په امید دي دا يې وسه ولسونه
دا چه تل وي د ظالمو پرې ظلمونه تاراکونه
که فلپائن دی که لبنان دی فلسطین کښي دي اوروته
که کشمیر که بخارادی تري راخیژي فریادونه
غیرت واڼي جهان خلاص کړه د وحشت له منجلابه
ای بچي د انقلابه ای د نوي ژوند تادابه

مصیرونه نور بدل کړئ

۱۳۶۶/۱/۲

لږ د رحم نظر واخلئ لږ موږ ته وګورئ نور بدل کړئ
سبق زده کړئ له حالاتو خپل فکرونه نور بدل کړئ.
زموږ قام ولس په وینو په اورونو کښې لوغړېږي
ګورئ پام ورته بکار دی تقریرونه نور بدل کړئ
ستاسې ورونه پښتانه دي په اسلام ئې راوتلي
په دوی ننګ کول بکار دي پېغورونه نور بدل کړئ
ستاسو ځای وو زموږ زړه کښې ای هر لوري پښتونو
مه تېر وزئ دا توپچه او بېړغونه نور بدل کړئ
دا سور رنګ انقلاب نه دی د مظلوم د وینو داغ دی
د مزدور د بنګېلولو سره دا مونږ نور بدل کړئ
لږ راوېښ شه خدای د پاره ای زموږ لوږغونی ورور
د هر قام له کړي خلاص کړه مصیرونه نور بدل کړئ
هغه څه شول چې تاسو په سندرو کښې ستایلي
کمونیزم و وژل په دا که خپل د هغونه نور بدل کړئ

دا چې سپارې مو په جبر د دې عصر لوی جلاد ته
کوره مکره کوره مکره ضمیرونه نور بدل کړه

د غه سور انقلاب کوره اول تاسو ورې له مینځه
امین څه شو هم تره کی شعور ونه نور بدل کړه

دا فغان کمونست کوره روس په دار وځړولو
لږ پند واخلئ را به دا رشئ خپل خیالونه نور بدل کړه

روسان غوارې چه را سبکېل کړې د جهان واره ملکونه
تاسو مخې ته یې سد شئ تدبیرونه نور بدل کړه

د کارګر په نامه باندې د دوه ترشعار لاندې
تېر ایستل د تول جهان دې شعارونه نور بدل کړه

بیا به وکړی ارمان

۱۵/۴/۱۹۸۷ ع

که مو ورنکړ امتحان نو بیا به وکړې ارمان
وخت درنه دروې په یو آن نو بیا وکړې ارمان

تول سره یو شئ د الله د کلام حکم دی دا
که مخالف شوې د قرآن نو بیا به وکړې ارمان

د هري لويشت يې حفاظت کړئ له دښمنه ځني
که دغه ولاړ افغانستان نوبيا به وکړې ارمان
که راويښ نشې د غفلت له درانه خوبه ځنه
که مو ونه شړل خرسان نوبيا به وکړې ارمان
که داسلام په دستورونو مو عمل ونکړ
ګرځې به داسې خوارحيران نوبيا به وکړې ارمان
له بخارا او له خيوا که مو عبرت وانخست
تکرار به شي دغه داستان نوبيا به وکړې ارمان
پرته له خدايه په بل چا اعتماد نشايري
که کامياب نشوې په ميدان نوبيا به وکړې ارمان
تاسو به نه وې او نور خلک به هستوګنه کوي
وي به دا ځمکه او آسمان نوبيا به وکړې ارمان
له خود خواهۍ شخصي غرض نه تيرېدل دي پکار
که مو ژوندون وي په داشان نوبيا به وکړې ارمان
ښامار راغلی په اميد يې د نيولو خواته
که درنه وې يې نيوا خان نوبيا به وکړې ارمان
که عمل نه وي فکر نه وي او مدام او سيږو
د تقرير و نو زمريان نوبيا به وکړې ارمان

داچه‌دوی کا، د شعور خاوندیې نه کا
جهالت ته یې په چورت کښې، هر سړی دی
دانسان وژل یې خته کښې دي نغښتي
که د سره استعمار پلار دی یا لمسی دی
د کارگر او د بزگر په نامه باندې
بشریت ته یې ایستلی تن کوهی دی
په ښکاره مداخله بې شرمه توگه
له مسکو نه یې راوړی گوډاگی دی .

●

خونی ښامار

۱۳۵۹/۲/۲۸

ماخولې پرېږده کنه، چه خپل پرهار ولیکم
غمونه کوټې کوټې، زړه ناکرار ولیکم
د عشق او مینې کیسې، شولې له مانه پاتې
پرېږده وجود مې زخمي، سترگې خونبار ولیکم
د تش پښتون په نوم مې، چه څه اشعار ویلي
یمه پښیمان په هغه، اوس به اشعار ولیکم

د غیرت داوې څوخبرې تورڅه وس نه لرم
که مو وانه وریږد دابیان تو پیا به وکړې ارمان

(د مجاهد غږ)

تاهره ۲۱/ ۵/ ۱۹۸۷ع

په هر ځای کښې د رپېږي یم خلاص برښتي نن سبا
دغه غږ د مجاهد دی له قارې د افـــریقا

زه هغه یم کوره واوره ستا ټیټکونه مې اوبه کړل
ستا توپونه مې ایره کړل ستا جازونه مې اوبه کړل
چه دې دام ور راته ایښې ستا فکرونه مې اوبه کړل
ټول عالم یې نندارې کا ستا زورونه مې اوبه کړل
بیا مې کړې ټولې نږه ته په بدې بد رنګ رسوا
دغه غږ د مجاهد دی له قارې د افـــریقا

چه دې دام راوماته ایښې آمې خلکو ته څرګند کا
تار په تار او شاولې واولې ستا د هیلوې کمند کا

د جهان په ننداره تون کښې تول افغان مې سربلند کا
چه مې تورغ د همت لوړ کا بیا مې څرنګه رپند کا
د میړانې نوم مې خور دی په آسمان، زمکه، فضا
د غزن د مجاهد دی له قارې د افریقا

که دې زړه په هره خوا کړم ترمې هم کړې سرګردانه
که دې زړه په جهان خور کړم تر مطرو دې شې له جهانه
چه دې غږ د سولې تیت وو له دې زمکې تر آسمانه
نړیوالو ته ستا هرڅه اوس بربنډ شول عیانه
د تزویر دام دې لوڅیږې په څلور کنجه د دنیا
د غزن د مجاهد دی له قارې دا افریقا

که دې هرڅو ظلم وکړ ای شیاده ای لعینه
که دې ورېت مسلمانان کړل له لاسو پسینو تر جبینه
که بمونه دې خواره کړل له مینونو تر کمینه
ستا وروستی دې هلې ځلې دا خبره دا او مې سپینه
ستا د ظلم دا تیارې به الله کړي رڼا، رڼا
د غزن د مجاهد دی له قارې د افریقا

که هر څو دې سوران جوړ کا په تبر د لوې افغان کښې
که دې مړ کړلو په کوړ کښې یا په لاریا په زندان کښې
که دې څینې مهاجر کړل په ایران او پاکستان کښې
که یورپ که امریکا کښې یا که دې عربستان کښې
دا یاد ګار ستا دستم دی دا یادګار ستا دجفا
دغه غږ دمجاهد دی له قارې د افـــــریقا

افغـان هر چیرې چه اوسي ستا دښمن به وي ترتله
ستا د ظلم آه به خیژي له سینې او له ګوګله
زموږ وینه سره نه ده خبر واخله له مورچله
موږ په شور موږ په فریاد کړه د دنیا توخوا او بله
ستا په صندیو پاخیدلي له هر لوري او هرې خوا
دغه غږ دمجاهد دی له قارې د افـــــریقا

دغه غږ د هغه چادی چه وطن یې معلوم نه دی
دا جرس دکوم کاروان دی چه مسکن یې معلوم نه دی
دادکوم بلبل نوا ده چه چمن یې معلوم نه دی
دا څګیروي دنیم بسمل دی چه مدفن یې معلوم نه دی

دغه څرنګې اسویلي دي یاد حق ندا ندا
دغه غږ د مجاهد دی له قارې دافریقا

خو بیا هم په خدای داده دي په اسلام یې عقیده ده
دنړۍ امنیت غواړي په سلام یې عقیده ده
چه رڼا اینده بښیي په دې جام یې عقیده ده
دولس په هلو ځلو په قیام یې عقیده ده
داهدف دی ای غیرتمنه په دې څوبه که خدای کا
دغه غږ د مجاهد دی له قارې د افریقا

رود نیل ته

قاهره ــــــــــــــــ ۱۹۸۷/۵/۳۱

له سپین غره کوه طور قدس او جلیل ته سلام وایم
له آمو او هیرمنده رود نیل ته سلام وایم

سلامونه زه راوړمه دجهاد له سنګروڼو
دهمت او ننګ له کوره دافغان له تبرونو

له پښې چاودولاس تناکوله سپېرو سپېرو مخونو
هغه چاته چه زړه سواندوي او احساس لري د زړونو
په اسلام کښې هر صادق او نېک زمیل ته سلام وایم
له آمو او هریروده رود نیل ته سلام وایم

د ظالم مغزې چه مات کا په مظلوم چه مهربان وي
چه د حق په لاره یون کا او په عزم کښې سندان وي
چه غوښتونکې د انصاف وي بدلوونکی د جهان وي
په ظاهر که وي وړوکی خو په شک کښې پهلوان وي
چه باطل قوت نابود کا ابابیل ته سلام وایم
له آمو او هریروده رود نیل ته سلام وایم

د فرعون له زیاتي يې چه موسیٰ ته نجات ورکا
چه محکومو پرګنو ته يې له سره حیات ورکا
چه د عزم خاوندانو ته يې نورهم ثبات ورکا
چه ظالم يې راچپه کاد عبرت يې سمات ورکا
غرقوونکی د لښکر د اباطیل ته سلام وایم
له آمو او هریروده رود نیل ته سلام وایم

چه د حق په لار کښې تېر شو له خپل سرا وله ماله
بې پروا وو له خپل کوره هم له آل هم له عياله
خود خلکو منادي شو هدايت ته له ضلاله
قرباني له چتو شو بې مانند او بې مثاله
چه د زوي، مرګ ته تيار شو نو خليل ته سلام وايم
له امو او هريروده رود نيل ته سلام وايم

خدايه اوس څنګه حالت شو انسانيت ولاړ له جهانه
د زړه سوي ستوري راپريووت د دادونوله اسمانه
ذره ذره د نيکۍ شوه ټول عالم شو سرګردانه
څکه داچه بې پروا شو له حديث اوله قرآنه
چه پيغام دانسانيت وو جبرئيل ته سلام وايم
له آمو او هريروده رود نيل ته سلام وايم

په دې حال چه زه يې وينم زړه مې کله تسلا کا
جهان ټول بې نظمه ښکاري د مظلوم کله پروا کا
د افغان زمکې ته ګوره چې بموته پرې نڅا کا
د وړو زړوه وکي اندامونه په هوا کا

نور دي پو خپله شپيلۍ کا اسرافيل ته سلام وايم
له آمو او هريروده رود نيل ته سلام وايم

بې پروادي له خپل ځانه افغان کور په جهاد کښې
له خپل سر او ماله تېر دي د الله په ذکر او ياد کښې
تنفر کړي له بې خدايه دا چه ګير دي په الحاد کښې
د اجذبه را ويښه شوې په شاګرد او په استاد کښې
د دې پاک هدف په لوري هر اصيل ته سلام وايم
له آمو او هريروده رود نيل ته سلام وايم

چه وطن يې ويجاړ شوي او وران شوي يې کورونه
چه مدام يې زمکه سوري پرې ورېږي نيپالونه
چه يې هره لويشت کښې ويردی اسويلي دي فريادونه
چه يې هر وخت او لحظه کښې ځنکندن دی او ويرونه
د جهاد په پاکه لار کښې هر قتيل ته سلام وايم
له آمو او هريروده رود نيل ته سلام وايم

له بابا او سليمانه هندو کشه تر خيبره

له پامیر او سالنګه بیا ترلوړو دتوره غره
له کابل او هلمنده د ترنک تر لړاوبره
ای وطنه خوږه هیواده د غیرت د زړګي سره
ستا لوچینو، شنو چینو یا سلسبیل ترسلام وایم
له آمو او هریروده رود نیل ته سلام وایم

●●●

د خپلواکۍ قاصد

۲۳/۶/۱۹۸۷ء قاهره

چه کوم لورته مي د خیال غریب مارغه ځي
د وطن په سم او غر د ښت او راغه ځي
د جهان په چمنو نه دی سرشوی
د سپین غر او هندوکش منډیش په غره ځي
چه قاصد د خپلواکۍ به کله راشي
دیو نوابه تکری مدام په ولمه ځي
چه جهاد کښې یې هر رنګ مشک او عنبر وي
دا د ما د فکر آس په هغه پله ځي

دا په څه اثر او چېرته په کوم لوري
د بې کوږ وچه کوږکې خواره واره ځي

ورځې میاشتې شوې او میاشتې مو کلونه
د هدف کاروان مو څومره په دمه ځي

په اصیل مسیر کښې پوړه وچه حرامه
خو بل لور ته سیم او زر لکه وابنه ځي

که مو وویل هرڅه بېهوده ولاړل
خو په ځواب ویل کېږي نوربه نه ځي

چه وسلې شي او پیسې په کړو لارو
دا کاره خلک به خود کاره واره ځي

نور به څه شي دا یخ زړونه را تاوده کا
د هېواد د خوا باد ونه تول ساړه ځي

نه تدبیر او نه پلان پکښې کار شوي
د جهاد وینې وړیا لکه اوبه ځي

څو چه سري د تعلیم اېښودی نه وي
سم فکرونه له دې ځایه په واته ځي

چه د ښوا وبدو تول پکښې ورک شوي
پښتور ته به مې زړه آخر په څه ځي

زده کره

۱۲/ ۴/ ۱۳٦٦ ش - قاهره

په ظاهر چې په زړه کښې پوهـر لکتابه زده کړه
په ځای خبرې یې له فضل اولبابه زده کړه
چه زړه ونه تړې هیڅ وخت په دې نیمګړې دنیا
بې بقایي یې لـه شبنم یالـه حبابه زده کړه
چه رپ دستر ګو کښې یې ګوره په یوه آن تیریږي
د عمر یون د شپوا و ورځو لـه حسابه زده کړه
نیت ته یې ګوره چه بېړۍ پکښې د خیر چلیږي
سینه پراخه خوصله هم له دریابه زده کړه
په سر کښې شوراو ولـوله دخم د میوځه
په زړه کښې اور له هره ترنګه د رباب زده کړه
په کرار زړه کښې کته نشته ده فعال اوسیږه
خوځنده توب له طبیعت د سیمابه زده کړه
که زړونه لاس لره د رو هې نو د ادب په لاره
دا سبق پلول د یار د زلفو له تنابه زده کړه

داستعمار مکروڅ، هغه د سره استعمار
څه ناکردي به له دې، خونړی ښامار ولیکم
یو خواته تورا هریمن، بل خواته سره بریوګی
زه به دکوم یو کیسه، دکوم تاتار ولیکم
زه به چنګیز ولیکم، که هلاکو رایاد کړم
زه به انګریز وښیم، که روس غدار ولیکم
زه به ببرك کړمه یاد، چه ئې هېواد کړلو خرڅ
یا به تره کی امین، کوم یو خونکار ولیکم
څېنې د غرب ګوډاګیان، څېنې د شرق مزدوران
زه د شکوی په توګه، کوم یو سردار ولیکم
د پښتونو شاعره! اوسه په عشق کښې مخمور
زه به ولس مې توټې او خوار او زار ولیکم
ته په نشوکښې ورك ئې، په هوسوکښې ډوبه!
زه به د ګاز او ناپالم، د وړې غبار ولیکم
اوس راوېښ شوی یمه، او نور به نه غولېږم
د اسلامي یووالي، زه به شعار ولیکم.

• • •

•

د خس له ظلمه چه تیر پری او دماغ ښکلوي
د اصالت له خوی خاصیته د کلابه زده کړه
که یاست په شرق کښي یا په غرب کښي مسلمان اولسه
درس د میراني د افغان له انقلابه زده کړه
که ته بشر یي د جهان سلامتیا وغواړه
پند او عبرت د روس له وژلي او خرابه زده کړه
د کتاب پاڼو کښي مونده نشي غیرته واوره
راشه سبق نما د خوږین زړه له خونابه زده کړه

●●●

نه اوسیږم

۲۱/۸/۱۹۸۷ع قاهره

چه زړګي مې پکښې خوږین وي په دې کورکښې نه اوسیږم
په بې ځایه غوغاګانو شراو شور کښې نه اوسیږم
په سپیره میدان پروت به یم بې کفنه په جامو کښې
شهادت چه پکښې نه وي دا سې ګورکښې نه اوسیږم
یو مې لار یو مې هدف دی په هغې به قربانیږم
په یو لور او په یو خوا یم په هرلور کښې نه اوسیږم

حقایق چه پکښې ورک وي او فتنې ګډې په هر لوري
چه د ظلم لمبې خیژي په دې اورکښې نه اوسیږم

څو چه لاړې سپین سباته د برې ایستلې نه وي
ترهغه په ګران وطن د پلار او مور کښې نه اوسیږم

چه یې هره لحظه مرګ دی خجالت دی او ذلت دی
د کمون د کور اکیانو په دې تور کښې نه اوسیږم

چه بنایې پوره شوی د مظلوم په کسکرو وي
په دې هسې تاج محل او باغ سمسور کښې نه اوسیږم

غلامۍ او له تیټ ژوند نه مرګ بهتر بوله غیرته
زه آزاد یم زه اصیل یم په پیغور کښې نه اوسیږم

له کابله ځي

۱۳۶۷/۱/۹ ش

شو مه سره لمبه آه مې له دله ځي
وینې څاڅکې څاڅکې له ګوګله ځي

زه چه د روسانو ستم وینم
خولې نه مې آه نه یو په سله ځي

دغه د روسانو پرچمي یاران
تښتي هري خواته له کابله ځي

ګورې د خلقیانو لاپې څه شولې
کړمو سنګر وته دل نا دله ځي

رنګې کنه والې چه د وطن وینم
زړه به مې ګلونو ته نوڅه له ځي

دا دور به تیر پانه به بله شي
نه به وایي څوک دوی به پخپله ځي

مه کړې ترې امید تول تزویرونه دي
څوک چه د ژینو په لار او تله ځي

د غه سره روسان به شرمیدلی ځي
هم له ننګرهار هم له زابله ځي
تاب نشي راوړی زمکه پرې سرشوله
دوی به د افغان له هر محله ځي
ای غېرته دا ننګه شهادت لره
کله کوم یو غیشی بې اجله ځي

●●●

ګرځي راګرځي پکښې

قاهره
۱۹۸۸/۵/۲۲ء

زړه مې غمژن شو لیونی ګرځي راګرځي پکښې
دکور له غمه سپېلنی ګرځي راګرځي پکښې
دغه جهان محنت آباد چه ټول له ویره ډک دی
هسې بې ځایه خندنی ګرځي راګرځي پکښې
په خوب په ویښه کښې مې خیال له ګران اشنا سره دی
مینه وفا مې رښتیانی ګرځي راګرځي پکښې
وجود مې ټول له انتقام څخه لمبه لمبه شو
د شهید وینې توپانی ګرځي راګرځي پکښې

کوُم رازونه د هېواد د هر یو کاڼي سره
ښې خاطرې مې پرونې کړځي راګرځي پکښې
غیرت په خوږ کښې د هېواد په ټولو خواؤ سره دی
د وطن مینه سیلاني کرځي راګرځي پکښې

• • •

انتقام

۱۳۶۷/۳/۲۱ ش

د طاغوت په لښکریانو چه جوړ کړی مې غوبل وی
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې یرغل وی
کاشکې برق وی او برېښنا وی په غاصب تندر تنا وی
له مرګ ژوندنه بې پروا وی کاشکې ژوند مې لاپخوا وی
چه غوځ کړی مې لاسونه په سرو وینو د قابل وی
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې یرغل وی
کاشکې زه ظلم او بیداد ته د مغرورو بیخ بنیاد ته
د حسن، حسین امداد ته دیزید غوندې جلاد ته
هاتفي غوندې آواز وی او د حق لارې مشعل وی
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې یرغل وی

چه ملکونه یې ټول سره کړل   عالمونه یې اوره کړل
بل اورونه یې ساړه کړل   ولسونه یې خواره کړل
چه عامه قتلانه یې جوړ کړانه شاکش دی مغل وي
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې یرغل وی

راپه زړه چه شي غوغا کړم   د ظالمو چه دنیا کړم
چه رایاده واویلا کړم   ناګاسکي هیر وېشما کړم
چه مې کړی په دې خلکو دې زمکې مځکې بل وی
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې یرغل وی

چه د روس ظلم په زړه کړم   بیا رایاد زاړه واړه کړم
نوحرام په ځان خواړه کړم   اسویلې ساړه ساړه کړم
چه د غه وحشي قوت ته مرګ وی غیشی داخل وي
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې غرغل وی

کوم ظلمونه چه روان دی   په هر کوټ د دې جهان دی
که افغان که کشمیریان دی   که مسلم فلسطینیان دی
چه د وی په قاتلانو مې ناتار وی او اوربل وی
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې یرغل وی

چه د حق جګه نارې کړم   ورو رولې مینه خوږه کړم
او راغونډ ټول آواره کړم   د مظلوم په ځای اسره کړم

چه د حق جهاد په لوري ئې دعوت او رابلل وي
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې یرغل وي

چه د ظلم لښکرمات کړم | په هر لوري فتوحات کړم
دریې وړې سومنات کړم | ورک بې ځایه رسومات کړم

چه محمود یا احمد شاه وي یا میر ویس غوندې اتل وي
کاشکې زه یو مجاهد وي په ظالم چه مې یرغل وي

چه جهان صفا صفا وي | تول مینه مینه بیا وي
نه فریاد وي نه غوغا وي | خو رتهر دآرامتیا وي

چه د مینې او به خورې د غیرت د زړگی تل وي
کاشکې زه یو مجاهد وی په ظالم چه مې یرغل وي

●●●

شهید ضیاء الحق ته

۱۳۶۷/۵/۲۸

دتا په مرګ باندې دامن تول جهان ژړېږي
چه د نړۍ غمرته خورې هغه پوهان ژړېږي
هغه به هم ژاړي چه زړوتې له کافې کلک وي
په لپو لپو با احساسه انسانان ژړېږي

پښې وار خطا دي او له لاسه قلمونه غلو پرې
ستړګې لاځه دي چې په او ښکولو ندګرېوا ژړې
په سند، پنجاب، بلوچستان کښې کور په کور دی غوغا
صوبه سرحد کښې په ډېر غم باندې اسمان ژړې
ویر او ماتم په شرق او غرب کښې خوار شوی دی تن
په حادثه دې ټول خلیج عربستان ژړېږي
کوره محروم شو ستاله مهر شفقته څخه
ستا په ځاونه کښې مسلمان افغانستان ژړې
د تا احسان او شفقت به هیڅ وخت هیر نکړی
او ښکې لاځۀ کوې په وینو ټول افغان ژړېږي
د شریعت حامی به څوک شي د اخلاص په چیغه
د اسلام باغ او ښه دې مراوره مؤمنان ژړېږي
وایي زمونږه سر پرست به له دې ورو سته څوک شي
د روس د ظلمه زاره کونډې یتیمان ژړېږي
ته قربان شوی د افغان د اسلامي جهاد ه
په شهادت دې هر سپېڅلی مسلمان ژړېږي
ستا خدمتونه به وي ثبت د دې جهان په تاریخ
په قهرمان ضیاءالحق ټول پاکستان ژړېږي

دولس ذمه واري

۳۰/۹/۱۹۸۸ء

لا سونه ورکړی پاک سپیڅلی مسلمان ته
مصلح د دې جهان ته
شیطان مو دوکه نکړي
تا سو اولاد د مسلمان سرکړی ګریوان ته
مصلح د دې جهان ته
شیطان مو دوکه کړي

تا سو لږ وګورئ د نیا ته
د دښمنانو ناروا ته
بیا اسلامي خاوري فضا ته
محشر پرې جوړه دی تول وتلی دي میدان ته
مصلح د دې جهان ته
شیطان مو دوکه نکړي

تا سو نظر په ایران وکړئ
په فلسطین او لبنان وکړئ
بیا ترحم په افغان وکړئ
د خرس او خوګ د دوستۍ وګورئ پایان ته
مصلح د دي جهان ته
شیطان مو دو که نکړي

لا سونه ورکړئ یو د یند ار ته
د اسلامي دین خدمتګار ته
نه کوم ملک خان شهریار ته
چه شریعت تطبیقوي هغه انسان ته
مصلح د دي جهان ته
شیطان مو دوکه نکړي

دلته نافذ که پاک اسلام شي
د شرق او غرب نکرنا کام شي
سعادتمن به مو انجام شي
بیا د عمل جامه به ورکړي پاکستان ته
مصلح د دي جهان ته
شیطان مو دوکه نکړي

ښامار

۱۳۵۹/٤/۱۵

لویه لار کښې مې په خوب لیده ښامار
سپېره څټې پروت بې هوشه او خمار
له یوې خوانه شم ورتاو تېره را واخلم
غواړم وکړم پرې یو کلک کاري ګوزار
په زینو چه ور وخېژم ښامار ګوره
پرېږدي دا د ولسونو لویه لار
په ځنګلونو کښې پناه او ترې تم شي
نه په څو تنو بیا وکړمه کوکار
وایې دوی چه اوس ئې پرېښود له لاره
دا دی تښتي ملرې در پاندې کار
خدای (ج) به ورک کا دغه ړول ښاماران
چه په ښکیل کښې راولي تمام جهان.

●

خنکه اسلام او عدالت و و
هم انسانیت هم شرافت وو
سوله آرام او امنیت و و
وړاندې نظر وکړئ د پاک رسول دوران ته
مصلح ددې جهان ته
شیطان مو دوکه نکړي

کوئ د نور کلي وران کړئ
پخپل لاس خپل وطن ودان کړئ
راتول صادق مسلمانان کړئ
هرڅهٔ به مو مې که نظر وکړئ قرآن ته
مصلح ددې جهان ته
شیطان مو دوکه نکړي

چه خدای پالونکی شخصیت وي
د حق په چیغه راوچت وي
حامی د خدای د شریعت وي
هلته به جګ شي د اسلام بیرغ اسمان ته
مصلح ددې جهان ته
شیطان مو دوکه نکړي

خدایه دنیا دکه له داد کړي
ورک ترینه شرک او هم الحاد کړي
ښه باثمره مو جهاد کړي
لږ نظر وکړئ دغیرت دزړه ارمان ته
مصلح د دې جهان ته
شیطان مو دوکه نکړي

دمجروح په ویرکښې

۱۳٦۷/۱۰/۴

دمجروح په ویرماتم کښې جهان ژاړي
زمکه ژاړي، بحر ژاړي، آسمان ژاړي
بلبلان دغم ناري په بڼ کښې
رباب چنګ اونی تمام نیستان ژاړي
چه یې ورکړله علمي پانګه له لاسه
داخوځکه هرځي دافغان ژاړي
زلزلې دي رعداوبرق دی ګرد له ده
سمندر په غرغړه دی طوفان ژاړي

ستا په غم کښې لیکوال ژاړي شاعر ژاړي
عالمان د فلسفې او پوهان ژاړي

راډیو د بي بي سي په چغهار ده
امریکا غږ، قاهره او المان ژاړي

چه په تېښنده تیاره له جهان ولاړو
ځکه ستوري او سپوږمۍ شبستان ژاړي

وایي ولې حقیقت او حق مظلوم شو
په هډو د حقیقت پلویان ژاړي

ای غیرته ! په مجروح عالم غمګین دی
نه یواځې یې دوستان او خپلوان ژاړي

•••

د زندان اشنا ته

۱۷/۱۰/۱۳٦۷

د څرخي د پله زندان دې درپه زړه کړه
ببر سر ځیرې ګریوان دې درپه زړه کړه

له هېواده چه په څه حالت کښې راغلې
نر عملا او ضعیف ځان دې درپه زړه کړه

اوس په میاشتو چه لیدی نشی دا ولې؟
اسلامی ورونه دوستان دې درپه زړه کړه
سرکشي که غلبه در باند وکړی
بیا لاحول کړه شیطان دې درپه زړه کړه
بنایي واچوی منګولې حبل الله ته
د مکې عهد او پیمان دې درپه زړه کړه
څه حالت دې ولید وچه دې بیان کړه
لوی ماتم د پولیګان دې درپه زړه کړه
عاطفه خشوع پیدا سر په سجود شه
د الله پاک لوی احسان دې درپه زړه کړه
ولې نه اخلې عبرت پند او وعظو ته
سید اکبر نور شهیدان دی درپه زړه کړه
غیرت وایي څومره خوږ وې څومره نرم
چغو اف احساس ایمان دې درپه زړه کړه

اسلامي جمهوري اتحاد

١٣/١/١٩٨٩ع

تل دی وي زنده باد — اسلامي جمهوري اتحاد

يو يې فکر، عمل او بنياد — اسلامي جمهوري اتحاد

دي ولاړ په اسلام
په عزت ننګ او نام
تل په حق يې قيام

لوی دښمن د طاغوت او الحاد — اسلامي جمهوري اتحاد

تل د عدل ضامن
پاک سرشت او مؤمن
په ظاهر په باطن

وطنپال دي حقپال او شعار يې جهاد — اسلامي جمهوري اتحاد

په اسلام شو جدا
دی مسلم باخدا
خدمتګار په رښتيا

رسي تل د مظلوم په فریاد　　　　اسلامي جمهوري اتحاد

څوچه وي دا جهـــــان

دغه ځمکه آسمـــان

دغه کون او مکان

وي همېش دې سرلوړی او یاد　　　　اسلامي جمهوري اتحاد

تازه په تازه

۱۳۶۷/۱۰/۲۴ ش

دا شعر په خوب کښې الهام شوی دی

دلته جګړې دي او جنګونه دي تازه په تازه

دلته ویرونه ماتمونه دي تازه په تازه

یو خوا عطرونو بله خوا ده بد بویې ښیولې

دلته دې مرګ شهادتونه دي تازه په تازه

هلته کرملین کښې د شرابو ډک جامونه اوړي

دلته د سرو وینو رودونه دي تازه په تازه

هلته مسئول د سرو خزانو وایې سوله غواړو

دلته بل کړي یې اورونه دي تازه په تازه

هلته عیاشو له غروره کړل سرونه کاږه
دلته په توپ راکټ مرګونه دي تازه په تازه
موږ تبنتولي دی انګریز موږه چنګیز مات کړي
پاتې د پښو یې نښانونه دي تازه په تازه
چاچه عامه وژنې وکړې د افغان په درشل
موږه غوڅ کړې یې سرونه دي تازه په تازه
راشئ لږ وګورئ د پاک الله غیبي نصرت ته
دلته د فتحې جهادونه دي تازه په تازه
داناکامي او رسوایي یې د خپل ځان ولیده
چې یې روان اوس کاروانونه دي تازه په تازه
روس د افغان له اسلامي جهاد انکار کاوه تل
اوس مخامخ یې مجلسونه دي تازه په تازه
د عقابانو د وطن د آزادۍ په هکله
دلته ویش شوي ارمانونه دي تازه په تازه
اوس به خود وزي ای غبرته بله لار نلري
چه یې مات شوي پلانونه دي تازه په تازه

پلچرخي

۱۰/۱۱/۱۳۶۲ ش

داشعر په خوب کښې الهام شوی دی

زندان په زندانونو کښې زندان پلچرخي
مقتل او کربلا د مسلمان پلچرخي

په ظلم او بیداد او په بې رحمه کشتار رونو
مثال او نمونه دی په جهان پلچرخي

دوزخ ته به د بدو عملو خاوندان ځي
دی ځای د نیک عمل او نیک انسان پلچرخي

آواز د تکبیر و نو یې جهان را لړزولی
وژلي ځورولي مؤمنان پلچرخي

میدان د بزکشۍ دا انسانانو نه دی څه دی
که وګورې یو ځلي پولیګان پلچرخي

دا لوی لوی میدانونه لوی بلاکونه او تنګي خونې
جوړ کړی په رښتیا دی لوی شیطان پلچرخي

هلته به یې چیرې او په کوم شي لوګورم
خښ کړي په کوم ځای دي عالمان پلچرخي

ناڅاپه سیلاب راغی د دې دښتو په لمنو
راលوڅ کړلو بې وزله شهیدان پلچرخي
دکونډو یتیمانو د مظلومو مسلمانو
شاهد دی د ژړا او د فغان پلچرخي
غیرته له څرخي پله نه به څه خاطره وړمه
چه خاورو لړه وسپارل یاران پلچرخي

●●●

مارشل لاء ولګیده

۶/۲/ ۱۹۸۹ ع

پرون چې په کابل کښې مارشل لاء ولګیده
له غمه مې په شونډو کښې خندا ولګیده
څه وخت وه آن ادي دکمونستو په دوران کښې
بلاوه چې د پاسه پرې بلا ولګیده
هیڅوک ترې پاتې نشول څوک یې مړه څوک یې رنځور کړل
کوم وخت چه په هیواد کښې سره وبا ولګیده
څیره د د غه خرس چه را ښکاره شوله له ورایه
وطن کښې فریاد وشه او غوغا ولګیده

څوک کونډې یتیمان او څوک پلار مړي او زوی مړي
په بوره واو وروره مړه وا ویلا ولګېده

هر څوک چې په خپل مخ لکه سیل وروسته یوړل
سیلۍ چې د بې رحمه اژدها ولګېده

ماویل چې څه به کېږي داوطن او څه به کاندو
له غمه مې په سر باندې سودا ولګېده

نرپرېښده د توپونو په ډزو شي شوي شهیدي
ناهید او وجیهه او هم شهلا ولګېده

دا توري تورو بدمی به ای غیرته کاندی محو
که خدای کول چې سترګه د سبا ولګېده

څه کورم

۱۹۸۹/۲/٦ ع

نه ګورمه زه له کمونستو سره نه ګورم
خپل دی که پردی دی زه یو شان ورته ترخ ګورم

زه چې دا بې دینه طائفه په خیال کښې راولم
تالګ ګورم ناګې ګورم په مخ کښې یې وا سبه ګورم

افغانانو

۱۳۵۹/٤/۲٦

که هر څو قربانۍ ورکړلې زلمیانو
د دې خاورې ننګیالو او مسلمانو

که تا نکوونه یې ایرې، فرقې یې چور کړې
خو برې نه برخه کیږي د غازیانو

کله یو وربانديې بلوسي، کله بل هم
خلق څه تیرشي، راشي وارږد پرچمیانو

د دې کار علت له اصل نه معلوم کړئ
ای باتورو له سرو تیرو ځوانانو

په همدې تورو نیکومو دښمن ورك کا
خبر واخلئ له انګریز تر چنګیزیانو

داد نه بری علت به یو همدا وي
راکینې کارکوي لوی لاس د دښمنانو

څو مره حزبه پښتو رکښې دې جوړ شوي؟
لږ حیا، درته په کار ده افغانانو

هغه چه وطن مې یې برباد خلک یې مړه کړلو
زه به ددې ترن د قاتل سره په څه کورم

اخلو انتقام به مونږ له دغو قصابانو نه
اوس نو که خدای کاندې په او بو کښې یې چاپه کورم

سترګې مې دې وونږې چه په دوی به بنه نظر لرم
سم به ورته نه ګورم همیشه به کاږه ګورم

څه لوبې یې وکړې په وطن یې ناتارجو ړه کړلو
د پرشمه په چورت او په حیرت چه دغه څه ګورم

زه چه د وطن په ملیونو شهیدان یاد کړمه
زهر شي قاتل شي چه په مخ کښې مې خواږه ګورم

دا مجاهدین به جهاني قوت په شا بوزي
عزم یې متین او مستحکم لکه د غره ګورم

دغه سره روسیان یې ای غیرته همغوي نشي
نه د هندوکش او د باباجګه شمله ګورم

چه غزل ولیکم

۱۳۶۸/۲/۳ ش.

د مشاعرې په لړ کښې

احساس مې مینه شي جذبه شي چې غزل ولیکم
وجود مې تاو شي سره لمبه شي چه غزل ولیکم

نا امیدي او مایوسي مې هره خواشي ختمې
د امیدو بلبله پېره شي چه غزل ولیکم

د مظلومانو په ښېرو ملهمونه کېږدي
د هر ظالم خونه سپېره شي چه غزل ولیکم

د خیال مارغه مې د سپین غر په سر چکرې وهي
خیبر شي، جم شي، تاتره شي چه غزل ولیکم

سپېره سیلۍ سارې باد ونه حسر تونه یوسي
د ارمانو سوره نغمه شي چه غزل ولیکم

وینه مې تولهلوۍ جنبش شي انقلاب راولي
مینه مې هلته بیا توده شي چه غزل ولیکم

د چړنو بیل د فسادونو بنیاد ونړوي
په کرملین کښې زلزله شي چه غزل ولیکم

ددې سرکش دماغ مې تړله خود سري لېرې کا
پرېږه زور وره عاطفه شي چه غزل ولیکم

د سباوون پیغام له لورې د رحمته راوړي
هلته رڼا مې توره شپه شي چه غزل ولیکم

فکر مې هله د خوښې میني محفل جوړوي
صهبا شي جام شي او پیاله شي چه غزل ولیکم

د ما ځه خیال مې شي راښکته د سارا په لمنون
په شهید انو بیا د بړ شي چه غزل ولیکم

د کنړ سیند ورته د ویښو سوغاتونه راوړي
د اباسین څپه خوره شي چه غزل ولیکم

د فرعونانو نمرو دانو ما ځه ولړزوي
د تکبیر و جګه ناره شي چه غزل ولیکم

دلوی خوشحال له مزار سره لاله راوټوکوي
دلوی رحمان ماته خوله شي چه غزل ولیکم

غیرته ورکې شي د غم او د رنځونو لړې
زړه کښې پیدا مې بیا اسره شي چه غزل ولیکم

● ● ●

اسلامي لاربنوونه

۱۷حمل/۱۳۶۸ش

تروږمي ده ده کړدله ده دا انسان ځني وباسه
د پوهې په مشعل دې مسلمان ځني وباسه
مخلوق دی راګیرشوی دا وهامو په لوی جال کښې
لاربنوده متې و نغاره جهان ځني وباسه
د حق او باطل جنګ کښې ته سالار د معرکې شه
کښتې د تمدن دې له طوفان ځني وباسه
د علم په جامه کښې د کمون ابلیس ښکاره شو
اولاد د مسلمان له دې شیطان ځني وباسه
لاربنوده د اسلام کوږ چه لارې ته دې پام وي
د هر مشکل درمل دې له قرآن ځني وباسه
رسا رسا ګوزار کړه چه هدف د دښمن ورک نشي
د خدای د لارې غیشي له کمان ځني وباسه
د غه مظلوم ولس ته ای د خدای لویه قاصده
رڼا د سپین سهار شه شبستان ځني وباسه

په دې تاريکه لار کښې قافلې تولې تباه شوې
د بېړۍ کار را واخله خپل کاروان څنې وباسه

د تا حقې وينا د کمونېزم تبغر تول کا
ريښې يې او س له ملکه د افغان څنې وباسه

غيرته عزم ټينګ کړه د اسلام وطن خدمت ته
ترديد شک اوخلل دې له ايمان څنې وباسه

●●●

د جهاد خبرې

۲۸/۶/۱۹۸۹ء

څو مره خوږې دي د جهاد خبرې
د خداى د ذکر اوياد خبرې

رښتيا چه تېرې خاطرې پاروي
د اسلامى عدل او داد خبرې

په مسلمانو باندې تند رلګي
د کمونستو د الحاد خبرې

د افغانيت په عزت لوېي کيږي
نن د واخان او شمشاد خبرې

د عطوفت ټوله دنیا لړزوي
د خلق پرچمو د بېداد خبرې
د انسانیت په لمن داغ لګوي
د بدنام "کام" "اکسا" او "خاد" خبرې
ښایي عبرت شي اولوې پند ترې واخلي
د بخارا د استعباد خبرې
چه خلق مو ولید رانه هیرې شولې
د چنګیز، بیانو او شداد خبرې
چه تېردې نه باسي مؤمن ولسه!
د نجیب ګاوغوندې شیاد خبرې

●●●

ګرومیکو

۶/۳/۱۹۸۹ع

که برژنف ووکه ګرومیکو وُو
امین تره کی که چرننکو وُو
د افغانانو لوی قاتلان وُو
جهان د سولې ټول ترې پکو وُو
د ګرومیکو مرګ ټولې نړۍ ته
د خوښۍ زېرې د چکچکو وُو

فیضان ولاړ

د افغان په غم غمجن یو مسلمان ولاړ
د پښتو ادب لیکوال او شعر هنرمند ان ولاړ
سترګې یې ژاړې او ښکو د رومي لیکي لیکي
ارماني چه له دنیا ځځه فیضان ولاړ

●

فیضان نه وُ

ستوري خپرو وچه سپوږمۍ په آسمان نه وو
ته به وایې چه هم کهکشان نه وو
پریمانۍ وه نعمتونه هر څه د بېر وو
سوات ته ولاړم خو د لسوزه فیضان نه وو

حماسه ۱۳۶۳/۱۲/۱۸ش

حماسه نه ده حماسې جوړې دي
د سره طاغوت په هند جلسې جوړې دي

زمونږ د پاکې خاورې هره لويشت کښې
د عبر ستو د کې کيسې جوړې دي

●

چړنيکو

چه جهان دا امن سولې ترې ترې پکو وو
چه هر کارې دک له چل او دوکو وو
بشه شو دا چه د مرګ غزې په ماوشو
د افغان ولس وژ ونکې چړنيکو وو

●

شمشاد

په شمشاد او شاو خوا کښې کار او زار دی
مرګ دی ژ و بله ده ماتم دی او بمبار دی
په شعار د عدالت يې خطا نشي
دا جهاد د مسلمان او د کفار دی

سرسام

۲۲/۱۱/۱۳۶۴ ش

چه مې پاخه کښېنلو خام و وتل
چه مې عاقل بلل سرسام وختل
د سفسطې يې امبارونه جوړ کړل
چه وو نېکنام هغه بدنام وختل

کوه قاف

۵/۱۲/۱۳۶۴ ش

په ظاهر کښې د اسلام کالاف او شاف
بيا ځان بولي تحريکي او په زړه صاف
خو دولت له هره لوريه پرې او رېږي
د ډالرو د ريالو دی صراف
د ملت د انتقامه به خلاص نشي
که تر يې تاؤ شي لوی ديوال د کوه قاف

بریمنه ۱۰/۱/ ۱۳۶۵ ش

بوی د مبنکودې رادرومي له مدفنه
ته به وايې چه ګل کوچ دی له ختنه
داسلام په پاکه لاره کښې قربان شوې
روح دی ښاد شه میرسعیده بریمنه

پولیس ۱۲/۴/ ۱۳۶۵ ش

چه د ښمن د شرافت او د ناموس وي
چه د دوه پیسو د پاره لوی د روس وي
چه نیول کا او وژل کا رنګ یې ورک شه
که پولیس د پاکستان اوکه د روس وي

والووت ۵/۵/ ۱۳۶۵ ش

د سالنګ شمالي خوایې راپه زړه کړه
چه له لوري د کابل نه شمال والووت
خوب مې وتښتید خوراک هم رانه هېرشو
د خپل رنګ وطن په خوا چه مې خیال والووت

بله داچه هریو من تله کښې پروت دی
له کاتب نه له رئیس ترلیدر اسو
بله داچه جهاد واوښت له مسیر نه
هسې نشو مسخره د جهانیانو
خدای (ج) د یاره له شخصي غرورنه تیر شئ
و رحیم ږئ د وطن په ماشومانو
په سرتور و، په سپین ږیرو زړه سوی و کړئ
چه اوریږي پرې بمونه د روسانو
چه قربان شول څوک په جنګ، څوک په زندان کښې
خاطر وساتئ د پاکو شهیدانو
لږ بیدار شئ او کامل مسلمانان شئ
ای د لوی قوت خاوند مستضعفانو
وطن خلاص کړئ د الحاد له سره ښامار ه
پکې مړاولئ سم ژوند د انسانانو.

• ● •
• •
●

عزت

چه يې پت آبرو درلود له بې پت شو
چه بې پته وو راغلې په عزت شو
دنيا تو له سرچپه را معلوميږي
سکرتر د کوښتو لوی قدرت شو

دفاع

تلې باميان ته د ټانکونو په د بوټکښې
دامين د دفاع دي کره سختو شپو کښې
سرې پيالې د تاج بيک غونډې کښې نوش کړې
اوس دې نس ته سره چرګان کړل هجرتو کښې

سخاروفته

۱۰/۱۱/ ۱۳٦٥ ش

له تاځارشه بريژنف تر ګور باچوفه
جهان پوره دی ستا له درد اوستا له آوفه
دافغان په مظلوميت وژړيدلې
د نوبل انعام کټونکيه سخاروفه

اتمونه

دا کلاوي او دالو ړاودنګ برجونه
دا هواد او پکښې شنه زرغون فصلونه
دکمون دلاسه وران اوکنډوالي شول
پکښې کړې اوس پيشوګانی اتمونه

خليلي ، توفيق

۲۹ / ۲ / ۱۳۶۶ ق ، قاهره

داب د آسمان ستوري له ايشيا ولاړ
لوی اديب چه خليلي خليل الله ولاړ
د تولني رنځ به څوک معلجه کا
چه نابغ توفيق حکيم له افريقا ولاړ

نجار ولاړ

۴/ ۹ / ۱۳۶۶ ش

بې ترېږې او بې تقوا او ګنهکار ولاړ
ګناه شه چې بې مسلکه او مردار ولاړ

د سعید خلقي په پوله اوپه لاره
دملحدي ناهیتا کرغېړن یار ولاړ

دده نوم عبدالرحمان له رحمان لرې !
دبتانو ځوړونکی او نجار ولاړ

پاک قرآن يې په ړو بلوږباندی خرڅ کړ
نا امیده له امیده دَ غفار ولاړ

●

شهید عبیدالله

د بې ننګ ناسیال پېښتو د لاسه ګل ولاړ
چه د ټولو محبوب هغه بلبل و ولاړ
اسمان څه چه د مرغانو پرې ژړا ده
چه شهید عبیدالله (۱) زخمي څوګل ولاړ

---

(۱) - زیاد تره زوی چه د موټر تښتونکو
بې وجدانه غلوله لاسه شهید شو.

رښتینی مجاهد

په رښتیا د زړه تسل یې هر عاقل ته
هر با فکره با تدبیره او فاضل ته

په سکون او اطمینان او په آرام زړه
تا د حل لاره موندلی هر عاجل ته

قول او لس دي په تدبیره راغونډه که
د قدرت واکې دي پرېښود جاهل ته

په نرمۍ لکه او به داور سزا یې
همېشه دې شکست ورکړي مقابل ته

که د تاد اقوی عزم پوخ تدبیر وي
د بېړۍ کشتۍ به ورسي ساحل ته

د جهاد له لوی سنګره به یې موږ
که څوک غواړي رسېدل فتح کامل ته

ستا اعلان د کمونستو د لو د پاره
د فطرت او حق آوازدی و باطل ته

خود په خود به حقایق ورته ښکاره شي
که څوک ځیر شي ستا اخلاق او شمائل ته

دمؤلف آثار

۱ـ شرعی حدود اودتولنوتنظیم (چاپ) سره ـ محکمه:

۲ـ افغانان اودا سلام خپریدل (چاپ) دقضاء عالی اداره .

۳ـ دعربی صرف داوو موتولگیودپاره (چاپ) د ـ پوهنی وزارت .

۴ـ په افغانستان کی لیدلی حالات (چاپ)

۵ـ دمسلمان افغان فریاد (چاپ)

۶ـ افغانستان آزادیزی (چاپ)

۷ـ آثارچاپی درمعضله افغانستان (پشاوریونیورستی ایریاستری سنتر)

۸ـ پښتو ـ فارسی ـ انګلیسی اردوبول چال صابری بک دپو

۹ـ الفاجعة (عربی) چاپ .

۱۰ـ امام ابوحنیفة المتکلم (ژباړه) چاپ ته تیاردا طلاعاتوا وکلتوروزارت .

داکتاب په دولتی مطبعه کی دکمونستانولخوا بندی شو .

۱۱ـ په افغانستان کی محکمی اودهغوصلاحیتونه

"چاپ" دعدل وزارت دقضاء عالی اداره .

۱۲- دمولانا جامی ملغلری (چاپ) ته تیار) د پوهنی وزارت دپښتوټولنه دغه کتاب په دولتی مطبعه کی دکمونستانو له خوا بند شو .

۱۳- دغیرت آواز نا چاپ) .

۱۴- درددل (چاپ)

۱۵- ادبی اوښکی (چاپ)

۱۶- لمبه (نا چاپ)

۱۷- ښکلی اشعار (چاپ)

۱۸- غزا (چاپ)

۱۹- نوی شعر (چاپ)

۲۰- اوسنی مسلمانان (چاپ) زباره .

۲۱- خوناب (چاپ)

۲۲- انقلاب چاپ

۲۳- کمونستی اصطلاحات (چاپ)

۲۴- زیره دمعتبرو احادیثو په رڼا کی (چاپ) زباره

۲۵- دینی ښوونه اوروزنه (چاپ ته تیار) دجهاد د ثقافتی شورا له خوا)

۲۶- دښوونکی لارښود (چاپ ته تیار) دثقافتی شورا له خوا .

۲۷- داسلامی امت امام (نا چاپ)

۲۸ـ طلایی ویښتان (چاپ) ژباړه.

۲۹ـ دامریکی لومړنی کشف (چاپ) ژباړه.
۳۰ـ څلورمجاهدی خویندی "چاپ" ژباړه دپوهنې
وزارت.
۳۱ـ جرائد غیردولتی افغانستان (چاپ)
۳۲ـ انصار شاعران (چاپ)
۳۳ـ جرم اودهغه دپیښیدوعوامل چاپ) داطلاعاتو
اوکلتوروزارت.
۳۴ـ شیخ الحدیث مولوی یارمحمد (چاپ)
۳۵ـ په افغانستان کی داسلام اودالحادجګړه
همداکتاب "ژباړه" درابطه عالم اسلامی لخوا
۳۶ـ په المرکزالتعلیمی الاسلامی کی له اوم څخه
تردوولسم ټولګی پوری په ګډه سره شپږدرسی عربی
دلغت کتابونه.
۳۷ـ د زماني سیلې (همداکتاب)

دنشراتي مراکزو سره دمؤلف قلمي همکاري

۱ــ په کابل راډيوکي ديني موعظې اومشاعري .

۲ــ په پيښورکي راډيوکي سياسي مبصر .

۳ــ په قاهره راډيوکي دپښتونطاق .

۴ــ په المرکزالتعليمي الاسلامي کي دعربي کميټي غړی .

۵ــ دجمهوريت په ورځپانه کي حقوقي مشاوراوقلمي همکار .

۶ــ دقضاء په مجله کي مسئول مديراوله هغه دمخه قلمي همکار .

۷ــ په انيس ورځپانه کي قلمي همکار

۸ــ دپيام حق په مجله کي قلمي همکار

۹ــ دهيوادپه ورځپانه کي قلمي همکار

۱۰ــ دژوندون په مجله کي قلمي همکار

۱۱ــ دپښتون ژغ په مجله کي قلمي همکار .



عبدالباری غیرت

۱۲ـ دولایا توپه ځینوا خبا روکی قلمی همکار

۱۳ـ په اخبارعرفانی کی قلمی همکار .

۱۴ـ دعرفان په مجله کی قلمی همکار .

۱۵ـ دپوهنی په مجله کی قلمی همکار .

۱۶ـ دزیری په جریده کی قلمی همکار

۱۷ـ دکابل په مجله کی قلمی همکار .

۱۸ـ دسری میاشتی په مجله کی قملمی همکار .

۱۹ـ دښوونکی په مجله کی قلمی همکار .

۲۰ـ داصلاح په ورځپانه کی قلمنی همکار .

۲۱ـ دمیرمن په مجله کی قلمی همکار .

۲۲ـ دپامیر په جریده کی قلمی همکار

۲۳ـ دکهول په مجله کی قلمی همکار .

۲۴ـ دفولکلور په مجله کی ـ

دجهاد درس

اسد، ۱۳۵۹

د کفر په مکتب کښې د الحاد درسونه لولي
د قتل او بربریت او د بېداد درسونه لولي

افغانه هغه تیر ننګ او عظمت دې چېرته پرېښود
اوس ولي د لېنن غونډې شیاد درسونه لولي

په بله بڼه راغه فرعونان بېرته ښکاره شول
یام نکوې لګیا یې د شداد درسونه لولي

لیوه به درنه جوړ کړي او داړې به عالمونه
له حق به کړي عدول که د فساد درسونه لولي

هیڅ وخت به تفرقې او خانخانی ته زړه ښه نکړي
که ته د بخارا د استعباد درسونه لولي

له غرو بنوا و رغونه د توحید لمبې جګیږي
راځه، که نن راځې او د جهاد درسونه لولي

د ورور وروسره لاس ورکړه او یو موټی مسلمانان شه
رښتیا که یې مؤمن د اتحاد درسونه لولي

د موږ غروونه، رغونه دي ګواه د قربانیو
راځه که د سپین غر او د شمشاد درسونه لولې
فرهنګ ته دې که ځیر شې، څومره وړاندې وې جهانګیرانې
نو تل به بیا د بلخ ام البلاد درسونه لولې
ربښتیا به مبارز وې فسادونه به کړې محوه
د حق د مدرسې که د استاد درسونه لولې.

افغاني مهاجر

۱۳۵۹/۷/۲٤

پېښور ته چه راغلي کوم کسان
یا بدل دي یا رښتیا مهاجران
د رښتینو مهاجرو زړوکښې اوردی
د هریوه له اسویلي جوړ دی طوفان
نه یې کور، نه یې کولر، نه یې لمځی شته
پروت په زمکه او بستن یې ده آسمان
په بېرحمه بمباریو د روسانو
ایرې شوي یې مالونه، ماشومان

په یو شکل له پېرېو سبې تغیر ه
په هر ګوټ د دې نړۍ کښې اقتباس دی
نه پوهېږم چه څرنګه یې تعبیر کړم
د اعجاز که له اعجاز نه هم خه پاس دی.

د وطن یاد

۱۳۵۹،۹،۱۸

نندارې شکلي هیواده، لاله زاره مې یادېږي
ښو ته مې یې د زړه، ګل او ګلزاره مې یادېږي
ګهیځ دي یا د ومه تر بېګا مې مشغولا یې
په خوب کښې چه ویده شم تر سهاره مې یادېږي
ستا نمکه طلایي او ستا اوبه آب حیات دي
فضاء کښې خوږه بڼکلي خوشګواره مې یادېږي
کاږه نه وُ د خلقیانو خوږه مینه ورور ولي وه
په سیمه د افغان کښې نوبهاره مې یادېږي
کونړ او نورستان کښې طبیعي منظرې ګوره
کابل تر سره وبې تر ننګرهاره مې یادېږي

نه د دې عصر وسله ور سره شته ده
څو جنګیږي په همت او لوړ ایمان
څو بدلو مهاجرو څېټې وکړې
نه په کورېئ بمبارېږدي، نه سوران
په شوراو، په ریاست، مشاورېت هم
بې له حقې یئ نصب کړي دي څپلوان
د جهاد مالو نه لوټ، وسلې شوې خرڅې
په سرحد او په پنجاب، بلوچستان
د جهاد فکر هلو ور سره نشته
بیا به څنګه ورته وایم مسلمان؟
چه د خلا (ع) لاره پرېږدي او هوس پالي
هغه ټول د دې ملت دي دښمنان

بې دیار پاتې یو

۱۳۵۹/۹/۲۹

موږ لا هغسې خمار پاتې یو
ورک له وطنه، بې دیار پاتې یو

قافلې ولاړلې هدف ته رسي
خوموږ په خټ ترې واريه وارپاتې يو
څوك د مرشد و په سرو قسم خوري
څوك ترې مطلق ټول انكار پاتې يو
كه سره غونډه نشو، ترون و نكړو
نو به هسې خوار او زار پاتې يو
كه اسلامي جذبه راو بينه نكړو
تل به په غرو نو كښې اشرار پاتې يو!؟
لار رانه ورکه ده، کښينږ و هرخوا
په دړانه خوب او نابيدار پاتې يو
د پاچاهۍ خوبونه دلته وينو
په ميږ د ځمكه شهريار پاتې يو
هګه شوې ماتې کجا وه ولويده
تش د خوبونو په بازار پاتې يو
ميرږد ځ دا نور چه خيټې وپرسوي
موږ ورځ ترې په بار بار پاتې يو
چارکۍ، من او نيم سيرۍ شلرو
څوك نيم خروار او څوك خروار پاتې يو

په غوښو تل د یوه او بل اخته یو
عجب اسلام، عجب غمخوار پاتې یو
که را و ینښ نشوله د ې خو به ځنې
تل به بې ننګه او په عار پاتې یو.

•

شخصیت

۱۳۵۹/۹/۲۹

هر څوک په ښو اخلاقو، انسانیت وپېژنۍ
له پوهې او تقوا یې شخصیت وپېژنۍ
ظاهر ته یې مه ګورئ که هرڅو ښه آراسته وي
مؤمن په نیک عمل او صداقت وپېژنۍ
بې خدایه به غریبۍ، تجاوز به په ناموس کا
خلق په قتل او ظلم او بربریت وپېژنۍ
بېځایه په اشخاصو د تکفیر حکمونه پرېږدئ
اسلام کښې ورور ولي او ملیت وپېژنۍ
د کفر د امحاء د پاره سم پلان کړئ وضعه
چه شرعه یې ایجاب کا سیاست وپېژنۍ

خاکسار، متواضع او واقعي يو مسلمان و ي
قاموس کښې لټه وکړئ اخوانيت و پېژنئ
پيمان مو اتحاد شو، اتحاد په ابو کړښه
له دې مو اسلامي حس او وحدت وپېژنئ.

●

د لېنن موزيم

د لېنن د موزيم د پرانستلو په باب

۱۵ / ۸ / ۱۳۵۹

چوړ کړلو خلقيانو د وطن موزيم
پرې يې ښود په حال د ځنکدن موزيم
ساده يې شورويانو تر ېنه وو يسته
ولويده بې روح او بې کفن موزيم
کوريې چه موزيم ته اختصاص درلود
څه شو د تر ه کي د مسکن موزيم
د برژر په ډيران باندې بدل شولو
د ا د نابغه او تيوريسن(!) موزيم

نوم يې د خائنو په تور لست کښې شو
څرشو ګوره څرشو د ستالن موزيم
خلکو ته به ژر شي د عبرت ځلې
داد کمونست ړلې د ننن موزيم
زمونږ ښکلې کابل کښې تاريخي کابل
پراښت پرچميانو د لينن موزيم

●

نه هيريږي

۱۳۵۹/۱۰/۱۰

د روس مې په افغان ولس ظلمونه نه هيريږي
د کونډو، يتيمانو مې آهونه نه هيريږي
تاريخ کښې به وي ثبت او آينده ته به عبرت وي
هيڅ وخت په کرهاله مې عام قتلونه نه هيريږي
په زور حورا ويل وو، تظاهر و او ريا وه
د دې کمونستانو مې مارشونه نه هيريږي
د خپلې خوښې کار به نوم کارګر باندې بيګار و
دا ړول د ستم مې بيګارونه نه هيريږي

د شپې توره تياره، د څرخي پله بنديخانه کښې
په ډېره بې رحمۍ مې کشتارونه هېرېږي
د حق پرغوښتونکو باندې چه له خاورو لاندې پټ شول
هرات کښې مې څګيرې او فريادونه هېرېږي
سوغات د تمدن او عاطفه د دغه عصر
په ګاز او په ناپالم به مې مرګونه هېرېږي.

●

بېلتون

۱۳۵۹/۱۰/۱۴

زه به درشم ته به نه يې په رښتيا جې
يا به پټ هېڅوک نه مومي زما جې
کړېدل دي، رنځېدل دي، جدايي ده
دغه کار، دغه دستور دی د دنيا جې
د راحت کوزې ډکېږي او تشېږي
د ژوندون قافلې لېږدي نن سبا جې
چه مېلاو شي د ژړا سره وګړي
خامخا به بېرته ځي په واويلا جې

زه په مینه کښې یې هلته جوګه بولم
لکه ستوري چه عالم ته شي رسوا چي
په دماغ کښې مې پیدا نوې نشې شوې
چه ګیسو دې عطر و شیندلو بیا چې
د ښایست جاج دې هیڅوك آخستی نشي
ته یې نور، ته یې لمبه، ته یې برېښنا چې
د کلونو درد دیدلي ته نژدې شه
د جهان غمونه لرې کړه له ما چې .

●

د هند خاطره

۲۷، ۱۱، ۱۳٥۹

له جومات د فتح پور ستر لال کلا
شي را یادې د اسلام خاطرې بیا
دې جومات کښې مدرسه ده جوړه شوې
ستري فارغ وو لوی لوی، ښه ښه علماء
چا تدریس کا، چا تعلیم د ادبیاتو
په هر کونج کښې یې وو ځوب، شور او غوغا

معاریف، فنون، کمال او که جمال وُ
لا ل کلا بېږ شي شي ټول د ږ هویدا
څه صنعت اومعماري عجب شـهکار وُ
د جامع مسجد دی ورد ستما شا
که ته ورشې تاج محل ته په اګره کښې
سر به ښکته کړې له ډیرې حیرانتیا
که لږ ځیرشې په رښتیا سره به ګورې
د مغلو شان، شوکت، آرګاه بارګا
د ادب او فرهنګ لویه سرنامه دی
فارسی شعر د مخفی زیب النساء
د هند ټول خاوره خوځي له خوبښې نه
چه لري نظام الدین اولیاء
مسلمانو څومره برم عظمت تیر کړی
پرې ګواه ده د غه زمکه او فضا
یو وخت هم په دغه خاوره کښې تیرشوی
دود دستور د اوستااو دوید ا
لا یې اوس هم ځینې نښې پاتې شوې
په کوروکښی، په خیلوکښی د آریا

خواسلام بنه تأثیرات دي ور ببنبلي
دغه ځای ترله پیرپیو له پخوا
زموږ په خاوره د روسانو یرغل غندي
که عوام، که پارلمان دی که جانتا
نه پوهیږم چه څه سحر دی پرې شوی
چه باطل خواته میلان کاندیرا
د هجرت او د سفر له خاطره
څومره ښکلې شوه رنګینه داانشاء.

●

څه وینم؟

۱۳۵۹/۱۱/۲۸

په جهان کښی څه غوغا ده چه یې وینم
هره زمکه کربلا ده چه یې وینم
هره شپه یې په مظلومو چپاوونه
هره ورځ یې عاشوراء ده چه یې وینم
شور وی جهان نیونې ته ارم دی
پرې قبضه یې ښ سبا ده چه یې وینم

نه کارګر لره خدمت، نه عدالت شته
هسې خوشې ادعا ده چې يې وينم
استعمار که تور، که سور وي رنګ يې ورک شه
ترې په وير تو له دنيا ده چې يې وينم
د عراق-ايران له لاسه په خليج کښې
لوی ماتم او واويلا ده چې يې وينم
د بې وزلي مسلمان په پا کو وينو
تکه سره اريتريا ده چې يې وينم
په هر ځای کښې يې د غم تغر خپور کړی
ور که سوله، آرامتيا ده چې يې وينم
د روسانو په ګازونو او بمونو
تکه توره آريانا ده چې يې وينم
بې ګناه انسانان خوړين او لولپه شول
زمانه له څه بلا ده چې يې وينم
د ظالم د حيواني خوی او خصلت
اوره شوې ټول آسيا ده چې يې وينم
مړ يو ال کنفرانسونه او ټولنې
ورته ټوکې او خندا ده چې يې وينم

باګرام او استالف دې په تاریخ کښې نمونه وو
له لوړو د سالنګه تر مزاره مې یا دیږي
میدان او دراڼې دې د اونې تر درې پورې
له هسکو د پغمان ځڅه آبشاره مې یادیږي
غزنې دې ځای د برم او د شکوه د غزنویانو
زابل او له کلات تر کندهاره مې یا دیږي
هرات کښې د بانګو سرښندنې به مې هیر نه شي
فراه نه تر د هغې د ذوالفقاره مې یا دیږي
بامیان دې په ریښتیا د اسلامي انقلاب بام و
بهسود او له وره دګو تر خرواره مې یا دیږي
په تاکتې د توحید د شهیدانو نښې ګورم
له بته تر ګوربته تر سالاره مې یا دیږي
فاریاب او بدخشان دې د علمي تاریخ یو باب دی
کندز ځنې نیولې تر تخاره مې یا دیږي
هلمند دې هیله من د آزادۍ او د بري دی
پروان او تالقانه عزا داره مې یا دیږي
نیمروز په نیمه ورځ کښې فاتحانو کړلو فتحه
باد غیسه د غم باد د غم غباره مې یا دیږي

د مېلا ځنګ که بنده نکړي خلکه!
نن په ما، سبا په تا ده چه يې وينم.

●

د اسلام دين

۱۳۵۹، ۱۲، ۲۲

د اسلام دين له نقصونو مبرا دی
په ويلو او عمل کښې سوچ صفا دی
په اخلاقو يې که ځان سمول غواړی
که دنيا، که اخرت دی خو همدا دی
د هر څه دی کامل، له ټولو غوره
محمد (صلی الله علیه وسلم) يې هم افضل د انبيا، دی
نور د دوه ورته، ګډه وره مدام عند يي
په خدايي دود او دستور باندې بنا، دی
چې د شرعي د اصولو مطابق وي
د هغه عامه نظر په لوړ او خوا دی
پرستش د مليت بت پرستي ده
د وطن مينه محبوب کار او روا دی

حرکت يې بې له شکه اسلامي وُ
که محمود وُ، که میرویس، که احمدشاه دی
مسلمان په دینی ورورولي مهربانه
د دښمن سره په جنګ کښې بې همتا دی
د شخصي غرض مدام کوي رټنه
په هر ځای کښې يې خاص نیت د کبریا دی
په وعده باندې وي ټينګ، نفاق يې نه زړه
نیک عمل، نیکه وینا او بې ریا دی
ځان راخلاص کړی له همه روحي بلاؤ
په اسلام چه د رنځونو مسیحا دی.

●

کمونستان

حوت، ۱۳۵۹

په دنیا کښې نن رسوا کمونستان دي
په شوم نیت يې خبر شوي جهانیان دي
له رفتار د سرپیتوب څخه دي لیرې
ډیر افسوس دی په نامه چه انسانان دي

د اصلاح مفکوره هیڅ ورسره نشته
د فساد تخم شیندونکي د جهان دي

عالمونه غولوي په هغه، د غه
په دروغو او ریاکښی قهرمان دي

ډېر ناوړه پلانونه ورسره دي
د اسلام د دین بې ساري دښمنان دي

ځکه اخلي بې دلیل خاوند یې وژني
بیا یې مال تالا کوي د اږه ماران دي

د وړو، زړو تمیز ورسره نشته
بې پروایې له وژلو سفاکان دي

شرابونه، کبابونه توله د دوی دي
د اکارګر دي، که بزګر دي، که خانان دي؟!

الوتکې تښتوي له هر هیواده
د مصلحو بشو اشخاصو قاتلان دي

هر ځای ظلم کاوه وژل کا او سیځل کا
د ستالین او بریژنیف اصلي بچیان دي

بخارا یې په اجبار سره د ځان کا
غصبونکي د پولنډ او د آلمان دي

واك يې واخست له چکيا نو او سلو اکه
غاړوونکي د بلغاړ مجاړستان دي

په نامه د همکارۍ کور وړ رنګ کا
افغانان د دوی له لاسه په فغان دي

وې پالل دګاونډي په مهر او مينه
دوی پاللي په ګاز او بمباران دي

جهاني موا د ځان په ګټه غواړي
څه عجيبه د قانون مفسران دي

غواړي وني سي دنيا خپله قبضه کښي
پدې پوه شئ جهاني استعمارچيان دي

په مخفي کاروي تول جهان اګاه شو
اوس په شوي ناکردو بانديي پښيمان دي

تعجب دی چه نن مل دي د عرب و
اينبو دونکي د يهودو د پلان دي

په مسکو، په کيوبا، که په عدن دي
ليډران هسې باله شي لړان دي

ک يې کفر، ج يې جنګ، ب بې وفادي
هر هغه د ک، ج، ب چه همپيمان دي

ناخبر جهان پوه شئ په خبره!
قاتلان دي، غاصبان دي او وحشیان دي.

تناکه

شي بیزاره سره له زیسته او له ژواکه
د آبادۍ توپیر شه کیږي له خاکه
په جهان کښې خو یو لړ ناآرامي ده
راته ښکاري انساني صحنه غمناکه
تکهار دی، درمبهار دی، خرهار دی
د افغان آواز جګ شوی تر افلاکه
د ناپالم بمونه اچوي په کلیو
د وړو، زړو ووژل کوي بیباکه
درزهار دی د توپونو اسمان وژني
راکټونه ځي هدف لره چالاکه
ټول عالم کاتري نفرت له خولې یې توکي
کمونزم ګرځېدلی یوه جره مباکه

وينې ښونکي په رښتيا د مسلمان دي
له اکساو کام او ځاد نه تر ساو اکه

داسان په خوږ ويلو او سپيڅلو
چا ودېدلي د وارسا د زړه تنها که

په هرځای کښي يې آشوب دی پيدا کړی
هي توبه د کمونزم له بلا که.

●

ژر به ښکاره شي

حوت، ۱۳۵۹

په ګرد وپټې پردې به ژر ښکاره شي
تر پردو لاندې خېرې به ژر ښکاره شي

څوک يو څه وايي، څوک بل څه او څوک بل څه
حقيقت او مسخرې به ژر ښکاره شي

چه اسلام يې وسيله وي د تبليغ خپل
د دې خلکو دا نارې به ژر ښکاره شي

خدای (ج) دی حق او غلط خلک به افشاء کا
د اجنبي او د اپرې به ژر ښکاره شي

چه دځان په خاطرلوبې په اسلام کا
دا ناولې ارادې به ژر ښکاره شي
وطن ویښ شو غلامي تر غاړه نه بندي
د پردو خلکو ځغرې به ژر ښکاره شي
چه هېوادې په سرو وینو ګښې لړلی
د دې لوبو ننداري به ژر ښکاره شي.

●

تمپوس

ثور، ۱۳۶۰

عجیبه وه چه يې خلاص شو له منګولو
تمه څه وه له تمپوس د خلاصیدلو
په پنجو کښې به يې واخست له هوا نه
هر یو ژوی چه په زمکه يې لیدلو
لیوني سپي غوندې چړې يې کولې
نه يې تور او نه يې سپین لره کتلو
نه يې صبر شوی کولی له نیولو
نه يې تنده ماتیدله په وژلو

خود ستاى، په ځان مين ؤاولنډ فکر

ځومره خوښ ؤ د باداړ په ياد ولو

خو له لاسه د کرګس ئې مرګ نصيب شو

چې پرې تير شول هغه ندي د ويلو

د ژوندى وخت کښې پايښې ئې وې ترې لې

روح ئې وړو وړو له وجود څخه وتلو

چې کرګس کيناست د ټول فساد باړونه

په اوږو ئې د تمپوس وړواچولو

ده اعلان کړل مصؤنيت، قانونيت دواړه

عدالت ئې پرې د پاسه وتمپلو

مصؤنيت ئې ؤنيول، قانونيت جيل ؤ

عدالت ئې عبارت له داړ ختلو

د انسان په وژ له ځومره شولو روي

چې په هيڅ رنګ ئې زړګى نه يخيدلو

خونريزي، له انسانيت ليرې کاروونه

د باداړ خوښې د پاره ئې کولو

خو باداړ ونيو له ستونې په مأښام کښې

بې پروا لکه حيوان ئې ووژلو

په مرداره ئې راغونډه سپي، ګڅیران وو
څپنو څپنو له مرېښته بویو لو
او ده په بدله کښې سمدستي یې
تور کارغه د غمه ملت ته واستولو
هغه هم لوی فجایع وکړل هیواد کښې
له بمبارده د ګانړو تر شیند لو
هر یو کار یې وحشتناك، نفرت انګیز و
هر عمل ئې د پستۍ او د تورکلو
نه پوهېږم چه له دې ورو سته څه کېږي
په دې خوارو، په مظلومو، په څپلو.

●

بل به وُ

ثور ۱۳٦۰

درونډ خیبر که درونډ خیبر وُ بل به وُ
که دښمن لره خنجر وُ بل به وُ
که غلیم به تري له ورایه لړزیدلو
پروت که سد د سکندر وُ بل به وُ

سوات، تیرا او باجوړ هیڅ دلته نشته
اشنغر که اشنغر وُ بل به وُ

ملکنډ او اکوړه دلته نه ښکاري
که پرې پروت د غلیم سر وُ بل به وُ

که پرې تار او مار په لواړګي او په جم کښې
د انګریز، چنګیز لښکر وُ بل به وُ

نه هغه دود او دستور، نه هغه مینه
پیښور که پیښور وُ بل به وُ.

●

کله پوهیږي

١٤، ٣، ١٣٦٠

بې درد مې په درد ونو اوګداز کله پوهیږي
بې مینې انسانان د زړه په راز کله پوهیږي

ژوندون مې هسې تو کې مسخرې شوې د بې نیازو
بې سوزه مې په ناله په سوز او ساز کله پوهیږي

پرتې بې انګازې دي د افغان ښغرو رغو کښې
ملحد د تکبیرونو په آواز کله پوهیږي

په تاکښې خوست، ارګونه د خلقیانو ځاله وسوه
که ډک شولې د مریو له امباره مې یادیږی
پکتیاکښې چه ځدرانو د دښمن د ملاتیر ماتـــ کا
شلګر تر دوبندی او تر اسماره مې یادیږی
زرمت او شاهي کوټ دې خاطرې د جهادونو
له څرخ او له پاد خواب تر کلنګاره مې یادیږی
چه ور دې کړل د ښمن ته د عبرت نه ډک درسونه
لغمان کښې علیشنګ او علینګاره مې یادیږی
بغلان او سمنګان دې تر ارزګانه پورې خوځې
د غور او د پنجشیر د ننګه کوهساره مې یادیږی
شکمش او دره صوف دې د لالونو خزانه ده
له شنو درو دې ځار شمه فرخاره مې یادیږی
ښتیا له ګلدرې، شکردرې، انار درې نــه
ګلباغ او ګل غونډۍ تر ګلبهاره مې یادیږی
ریشخور او چنداول دې د ایثار واړه فصلونه
د ننګ او د عظمت بالا حصاره مې یادیږی
ښتیا ده چه د بل په خزانو به دې ورنکړم
زما د پلار په کـځ باندې سپیډاره مې یادیږی

د بل په حریم باندې چه حیوان غوندې تیری کا
په ډانګ به ورته وائي په مجاز کله پوهیږي
مشکل شي حس کولی چه کړاوېر باندې تیر وي
د عشق په لیونو باندې بې نیاز کله پوهیږي
زخمونو کښې وي پروت او تبسم ئې وي په شونډو
په درد د شهادت باندې جانباز کله پوهیږي
د دې عصر وسلې دي ورته هکې پکې پاتې
ښامار په چپاوونو د شهباز کله پوهیږي
میدان د سیاست کښې چه وي نوی داخل شوی
د کار په انجامونو او آغاز کله پوهیږي!
د ژوند د فلسفې نه ناخبره غوندې خلک
د لوړ و اند یښنو مې په پرواز کله پوهیږي.

•

آشنا ته!

۱۳۶۰/۳/۱۹

که راتلی نشي د زړه راز ولیکه
خپګان اودرد، سوز او ګداز ولیکه

ډېره دا ښه ده چې لیکلی شي سم
کوم چې لري هیله او آواز ولیکه
د کوڼدو رنډو او سویلی کړه ترسیم
د یتیم آه غلی آواز ولیکه
پرېږده چې و دردېږم، وخورېږم
راته نا دودي د بې نیاز ولیکه
مطرب د عصر څه نغمې غږوي
د ویر ژړلو راته ساز ولیکه
ستا په وطن کښې د غازیانو چپاو
لوړ پرواز و نه د شهباز ولیکه
ګوره ناخوالې، ناکردې او وحشت
د نوي عصر د غماز ولیکه
په ابتکار دې ګوتې پورې کړه لږ
ما پردیسي لره اعجاز ولیکه.

●

● ● ●

يووالى

۱۳۶۰/۳/۲۶

که څاڅکی راشي له هسک آسمانه
که تند راپریوزي پاس له فضانه
په بې وسه کښی په بې کسی کښی
رغړي، څوریږي له وچیدانه
خو که یوځای شي نو سمندر شي
ویره یې شته ده له لوی طوفانه
ټولي تار تار کا د ښکیلاک لومې
د ظالمانو خونه کا ورانه
زه ته، که ببل وو نو ګټه نشته
لوی لښکر جوړ شي له ما او تانه
چه حرکت وي نو برکت وي
هرڅه سمیږي له خوځیدانه
فکر مو یو شو، عمل مو یو شو
یو مو آهنګ شو تر یوه آرمانه

اتحاد راغی، د مجاهدو
زړونه باغ، باغ شوه له خوشالتیانه
په سرو روسانو سره تبه راغله
حتمي به د روي له آريانانه
دا اتحاد دی، دلوی جهاد دی
په روس یرغل دی له هري خوانه
اسلامي یون دی، پاك یې ترون دی
زړونه ټول ډك دی له سپېڅلتیانه
ملحد به وزي، په ماتي بانډي
وضعه ښکاريږي، له ننسبانه
ولې ویده یې، آخر بیدار شه
اسلامي برمه، لويه جهانه
خپلې شغلې دې ببرته خورې کړه
د نور له غره نه، غار حراء نه
زمکه د تا ده، ای مسلمانه
دا حکایت دی، له پاك قرآنه.

۵۴

اسلام څه دی؟

۱۳۶۰/۴/۲۰

چه اسلام دي د خان مل کا اسلام څه دی؟
دي جهان ته يې سوغات او پیغام څه دی
د کوټک حکومت کړل د کتا تو ړي ده
د تړولني ړاز، نیاز او مرام څه دی
د ذمي، مستأمن حق پکښي تضمین وي
اسلامي حق او واجب او سلام څه دی
ګفتار بنایي د کردار سره سم وي
چه عمل ورباندي نشي کلام څه دی
د اخلاقو مفاهیم چه ورته هیڅ وي
کمونستو ته نیکنام او بدنام څه دی
فلک ستا په آرزو ګرځي ای نیکبخته
د غریبو سهار څه دی، ماښام څه دی
چه کوي هغه کوي اختیار د تا دی
بیا جهان ته دي دلیل او اعلام څه دی
چه په ژړنده د تقدیر ورشي نو دل شي
بیا نو هلته پخته فکر او خام څه دی.

د جنرال زوی

۱۰/۱۲/۳۶۰

کړي حلال، حلال کاروینه د حلال زوی
ناروا کوي، وحشت کا، بد سګال زوی
داد واورو زمري دي پرې ورډانګي
هسې ځان يې د ی رنګ کړی د شغال زوی
چه ملت يې تر پښونو لاندې سټ شو
داسې لوی مه شه د کوم يو بل جنرال زوی
ته به وايې چه په ټولو د ی مسـلی
دا چه ګوري وآسمان ته د کلال زوی!
د نسب معنوي پانګه ورسره ده
نیک طینت او نیک خصلت دی د ابدال زوی
د اسلام او د وطن به محافظ وي
چه کړي لوبې همیشه په توره ډال زوی
مور او پلار به خود په داسې فرزند ویاړي
چه يې راوړلو جهان ته بلال زوی.

انسان بدل دی

حمل / ۱۳۶۱

عصر بدل دی، جهان بدل دی
ځمکه بدله، آسمان بدل دی

له اصیل خط نه، داولې کوښ شو
مادیت دوب کا، اخوان بدل دی
که لاړده سمه، هدف ته وصل
د دغې لارې کاروان بدل دی
په زمکه باندې که هر فساد کا
عاد او ثمود ته طوفان بدل دی
داسې ماده ده ترې بېله شوې
قتل او وحشت کا انسان بدل دی
د موږ په سو به ولې نه څرخې
فلک بدل شو، دوران بدل دی
نه ابوبکر (رض)، عمر (رض)، علي (رض) شته
د دغه عصر عثمان (رض) بدل دی
نه هوتکي شته، نه غزنوي شته
په کوکو ژاړم افغان بدل دی

حیران یو ولې؟

ثور – ۱۳٦۱

چه د اسلام په غم کښې نه یو مسلمان یو ولې؟
راپورته شوي په ناره د پاك قرآن یو ولې
جهاد په لاره کښې د خدای (ج) د شریعت چه نکړو
بیا مدعی د عقیدې او د ایمان یو ولې
که الحاد بد دی نو د شرك ځنې پرېکتون دی پکار
د هلاکت کندې ترڅنګه ثناخوان یو ولې

چې تو طمعې راکې کوي مسلمان نه پرېږدي هېڅ
شیطان کامیاب شو تل مدام يې په فرمان يو ولې

چې بخیل منع کښي يو د بل په ضد و سله راخلو
بیا نو غازیان په خرپادیږو شهیدان یو ولي

غیبت دی بد او ځانځانی هم د نفاق نښه ده
له اسلام چې په کړه لاره روان يو ولې

که جهاد حق وي د اسلام پیاده کول وي پکار
په نیمه لاره کښي په چورت کښي او حیران يو ولې

دا چه موتل دی لوی هدف او هم شعار شهادت
بیا نو خوښي راته پکار ده پرېشان يو ولې.

●

د دوستۍ پول

۱۳٦۱/۲/۲۵

څه تیرېږي څه، کشمیر جمو باندې
بیا دې سترګې پر انیزه شامو باندې

ګاڼر دی که راکټ استعمالیږي قتل
د غو مسلمانو عالمو باندي

شوم د عدالت هسې خبره ده
نشي باور نشي کلامو باندې

ځي به پرې وسلې د دښمنۍ په نيت
جوړ چې د دوستۍ پول شو آمو باندې

خاوره د افغان غلبيل غلبيل شوله
بم باندې په توپ او په سامو باندې

څوک خوړين په ګانو څوک په راکټو شول
څوک سوري سوري شول په ساچمو باندې

خدای دپاره ويښ شئ، متحد شئ ولس
ګرځوم ځوله ټولو قامو باندې

څوک که د اسلام د پارونو راندې شي
نه به يې منت وړم پرليمو باندې.

●

خره هوسونه

۱۳۶۱/۶/۲۶

خر بريږ نيف وي، خره يې فكرونه
خرې يې خبرې، خره يې لانونه

چه ځان يې وښود د ختيځ ستوری
د خره تره‌کی، خره هوسونه

استاذ يې مړ کا، په ځای يې کيناست
د خره امين وو، خره خره خوبونه

ببرک گيدړ وُ، روسان پيلان وو
ختو کښې بند شول، خره د ماغونه

د افغانانو همت يې خر ښو د
د سليمان وو، څه خره شعرونه

د خرو هرا وه، د خرو خورا وه
د خرو وي داسې خره مجلسونه

وطن ټول بوی شو، چه پکښې تيت شول
د خرو ټپونه، د خرو گازونه

له طبيعت نه چه مخالف دی
خر کمونزم، خره يې کارونه

غيرته! ځنګ کړه له د غو خرو نه
يا يې وړه پرې کړه لکه غوږونه

نغمې د آزادۍ او خوځښت او شور د انقلاب وُ
کمونې چې تور بازار کا، شور بازاره مې یادېږي

شېرپور قلعه شاده او د میوند ترځلې پورې
د سبز شهر آرا و نه تر افشاره مې یادېږي

په سرو وینو رنګین د بې دفاعو مسلمانو
مشهد زما د ورور زما د پلاره مې یادېږي

که هر څو کمونست دربار ئې ځای ځای نخریږوکا
که سکور شي او تک تور شي له بمباره مې یادېږي

خوښي دې که شوې غم او سره ګلان دې سره اورونه
په تا کښې چې ایرې شم سره انګاره مې یادېږي

که هر څو مره څوك وائي چه سکرونه شوي تنور شوي
که ډك یې له غمونو او درنز هاره مې یادېږي

په تا کښې وینې توی یې د ظالم او دیکتاتور دي
د موږ د تاریخو لوبه یادګاره مې یادېږي

یو وار مې نه یادېږي چه بیان ئې کړم درنه صبر
د مینې لیونی شوم څوځو واره مې یادېږي

(غیرت) دې که هر څو ستایې قلم درنه عاجز دی
زما ښکلی وطن د افتخاره مې یادېږي.

باوري ژوند

سنبله ، ١٣٦١

ورک شه ورک شه دا بې عقیده سري ژوند
بې آیینه، بې دستوره بربري ژوند
د غازي ژوند تیرېږي غرو رغو کښې
د دې نورو ژوند بالښې مرمري ژوند
قهرمان اوسه، شهباز د لوړو څوکو
ځان ته غوره کړه همیشه د زمري ژوند
د وچ شونډي مجاهد له زړه خبر شه
که مسلم یې نور نو پرېږده د ه بلوري ژوند
که نه بسل کاله ژوندی یې بیا هم دروغ
وي تر څو به دغه ژوند اعتباري ژوند
واخله پند له تیرو تیرو زمانو نه
نه دی دغه د څو ورځو باوري ژوند

●

دکابل هوا

۱۳٦۱/ ۷/ ۲٦

په دماغ مې دکابل هوا لګېږي
که په مات زړه دکاکل هوا لګېږي

په رښتیا هرچاته خپل وطن کشمیر وي
بې اغیزي چه د بل هوا لګېږي

که د مرې هوا لګې یو په لسه
په پغمان کښې یو په سل هوا لګېږي

چه ئې مالره د سوبې خبر راوړ
له کوم لوري د زابل هوا لګېږي

زړه مې ولاړ باغ بالا، خواجه صفا ته
د ریدی ارغوان ګل هوا لګېږي

نه ګل نه دی اشتباه مې خومره وکړه
په سرو وینو د موزچل هوا لګېږي

بېخود زړه ته مې احساس د بیدارۍ شو
پرېږده، پرېږده د شیګل هوا لګېږي

هر سهار مې وېښوي له درانه خوبه
د پنجشیر د غرونو تل هوا لګېږي
پکښې نغښتی يې پیغام د حریت دی
[redacted] د توراوربل هوا لګېږي
د بې درده پېښور په سورخزان کښې
د افغان قام د حمل هوا لګېږي.

●

د اسلام په نوم

ظلم او وحشت کا د اسلام په نوم
کار د بربریت کا د اسلام په نوم
کار یې تفرقه د مسلمانو ده
شپه و ورځ شیطانت کا د اسلام په نوم
دام یې د بنکیلاک ایښی تقوا لاندې
د ا رنګ رياضت کا د اسلام په نوم

---

(۱) افغانی مبارزه شهیده.

ده لره سند د برائت شته دی
بل باندې لعنت کا د اسلام په نوم
ځان لره یې پام نه دی چه څه کوي
بل ته نصیحت کا د اسلام په نوم
خلک ترې ویرېږي، ترې لړزېږي
حُکم سیاست کا د اسلام په نوم
اخلي معاشونه له هر لوري ته
غوړه یې راحت کا د اسلام په نوم
وایي چه جهاد نه برکات لري
دی عیش او عشرت کا د اسلام په نوم
دوره د چاریارو خلفاء غواړي
څنګه خلافت کا د اسلام په نوم؟
ګرځي په ملکونو ناکراره دی
تل دا سیاحت کا د اسلام په نوم
دوی لره تشخیص په سر او برېتو دی
قتل او جنایت کا د اسلام په نوم
دغه د اسلام د دین دعوا چه کړي
ګوره تجارت کا د اسلام په نوم

بانک د امپریالو او لیبرالو کښې
جمع یې شروت کا د اسلام په نوم
دی ناست په بنګلو او په قصر وکښې دی
ورک یې ټول ملت کا د اسلام په نوم.

●

څه شوم

قوس ، ۱۳۶۱

ولاړم، ولاړم، ولاړم د ملکو شو مه
څو مره زه لېوال د پروانو و شومه
دا به په ازل کښې زما برخه وه
څیرې جامې څیرې چې د غرو شومه
نه یم د زړه نه بیل ستا هډو او ګو ډیمه
څنګه دې د ټو کو مسخره شومه
زه یو مسلمان ومه افغان ومه
ولې فراموش د زمانو شو مه
ما تیزې اېښو دی مرګې مې کړې
څله نن زړه تلی له جرګو شو مه

زه د دنیا ویاړ، د ایشیا تاج وم
اوس یې د ملنګو د کیسو شوم

هلته مې روسان په اسلامیت وژني
دلته یې بصریو ته بګړو شوم

خومره شوم بې قدره ژوندی ورک شوم
کله هم سیځلی په ګازو شوم

ما خو اسلامیت او آزادی غوښته
زه وم خبر چې د یې ښلو شوم

زه کښې ولویدم او بجلی راکړل شوی
خس شوم د بنامار داسویلو شوم

ښخ شو لم په زمکه په رښو ستر ګو
کله هم خوراک د سرو ګولو شوم

زه وم د میرویس او احمدشاه لمسی
ولې د ګوزر(۱) کی د خندیدو شوم

ما د سومنات بتان مات کړي وو
ځکه د ګاندی د قهریدو شوم

---

(۱) روسی لیکوال

نه په دې جهان کښې ځائېدای نشوی
ځنګه له نړۍ د ورکېدو شو مه
نه په ننګ د اپوه ته او په ننګ به مرم
ځکه د خوشال بابا په پلو شو مه
نه یمه عقاب وایمه کوم عقاب
یا د چه د پامیر د سردرو شو مه
نه په قربانۍ به تول حیران کړمه
ځکه بیا د اپو رته په شملو شو مه.

●

د مسلمان حال

حوت، ۱۳۶۱

د لته وسوه آریانا　　هلته وسوځېد اقصا
دلته چیغې او ځګېروې دي　　هلته هم غوغا غوغا
دی که هلته او که دلته　　مسلمان په واویلا
ګورمه څو سره کېږي　　په جموکشمیر بیا بیا
موحد په څه حالت دی　　په فیلپین کښې د ایشیا
د اسلام په ضد څه کېږي　　په یمن او ایتوپیا

لیونی شرابی[1] گوره — په ولس کښی د لیبیا
دابې[2] شرګیدړ زمری څو — څرکوي په سوریا
صهیونست څه قیامت جوړ کا — په صبرا و شتیلا
د مظلوم ولس په وینو — ښکاري سره اریتریا
د مسلم وړکي د پاره — آسیا شوه آسیا آسیا
که نظر وکړئ لږ وړاندې — په تاریخ د بخارا
وړکه وړځ د مسلمان ده — دلته هلته هره خوا
اسلامي برم او عزت ټول — شول تباه، تباه، تبا
مسلمانه ولې ډوب یې — په غفلت او په سودا
لاس دې اینې په ایشیاؤ — پښه دې وه په اروپا
وې خاوند د حکمتونو — وې کاشف د امریکا
تفرقه ځانځانی غواړی — یو اسلام جلا جلا
په وړو خبرو بوخت یې — د ړنه پاتې مدعا
د نفاق په راغ اخته یې — یې ککړ په څه بلا
لوی دې شان، لوی دې شوکت وُ — هم په زمکه هم فضا
د ړنه ولاړل، د ړنه ولاړل — هم د بل هم د دادا
لږ راپورته شه بیدار شه — په سر وکړه تماشا
اسلامي دنیا کړه جوړه — په رښتیا او په رښتیا

(1) قذافی . (2) اسد .

يرغل

دلو ، ۱۳۶۱

په عصر د اتوم کښې په عرفان باندې يرغل دی
له لوړې د انسان نه په انسان باندې يرغل دی

مدام مې حوړوي د اجتماع د نقيضو سره
د فکر اند يښنو مې په وجدان باندې يرغل دی

د سولې، آرامۍ او د دفاع تر پردې لاندې
د روس غاصب نن ګوره په جهان باندې يرغل دی

له ستونې يې پروت تير بخارا، تاشکند، خيوا کړل
چه زړه يې شو د اوړه اوس يې افغان باندې يرغل دی

که څه دی که عمره تول مونده کيږي په جهاد کښې
را پا څه مسلمانه په شيطان باندې يرغل دی

فساد دی پيدا شوی د نړۍ په هر يوه ګوټ کښې
په ځمکه سمندر او په آسمان باندې يرغل دی

اسلام يې دی هير کړی د شيطان په لمسون د روحې
دا ځکه نن سبا په مسلمان باندې يرغل دی

پوهیږي چه اسلام د کمونزم لوی دښمن دی
نو ځکه د روسانو په قرآن باندې یرغل دی.

●

له آسیانه دود راوزي

کائنات په څه حالت شو له جهانه دود راوزي
ستوري يو تربل تيريږي له آسمانه دود راوزي
نظم ولاړو، ترتیب ورک شو ګډوډي هره خوا راغله
بحر اورشو، وچه اورشوه له فضا، نه دود راوزي
نور څه ندي مسلمانه د تاورکې ته پلان دی
را بیدار شه وریته ګوره له کوم خوانه دود راوزي
امپریالو او سوسیالو څه لوخرې بناء کړي
چه نه وچ، نه لامده ګوري له ایشیانه دود راوزي
په زرهاؤ ځپلي وریت شول له وروتر نړوپوهي
له ویرځای د شتیلانه له صبرانه دود راوزي
په لکوبو قربانۍ شول دا په دې چه مسلمان دي
چه پرې ګاز او راکټ اوري له آریانه دود راوزي

خلقي نظامه

عقرب، ۱۳۵۸

د منحُه و لاړ شې ای خلقي نظامه
د بربریته ډك وحشي نظامه
ځان ته خوخلق دیموکراتیک وایې ته
خو زه دې پېژنم شخصي نظامه
یې د کارګرو او بزګرو دښمن
ای دامین او ستره کي نظامه
د بخارا تاریخ دې کړلو ژوندی
تباه و باشې ای روسی نظامه
چارو دې و اخسته اسلام ورکوې
را دې وسته له بې خدایې نظامه
تا د مشرانو احترام یو وړلو
رواج دې کړ له ګړوهی نظامه
تا به له منځه وړو د اعزم مو دی
په تاکښی نغښتې ده پستی نظامه

سا ایستل پرې حرام شوي، څنګه دې باندې اختر ده
له دې توري اوبې وزلي افریقانه دود راوزي
اسویلي کښي يې اخستي د اواره وارو ملکونه
سر لګه يې پورته کړې له افغانه دود راوزي
له چا جوړ شول، چا ته جوړ شول، خدایه دا څنګه حالت دی
مینا يې که ده له وینو له صهبانه دود راوزي
د چا کور په بم ورانیږي، دود يې وزي له کوډخې
خود چا د ښکلي قصر له دود وانه دود راوزي
چا ته ګاز او اسویلي شول، چا ته غوښې شرابونه
ای غیرته! له هر لوري د دنیانه دود راوزي.

د ایمان جذبه

اول سرطان، ۱۳۶۲

د اسلام په لار به څه څوک چه پا یم
پروا ګیرنه د بقانه د فنا یم
سر هیڅ به طاغوتیانو ته و نه کړم
که د دار سر ته ورخیژم په خندا یم

د جهاد د رس مې ور کړی دی جهان ته
په دې لار کښې د هر رو مقتدا یم

نور مې ولې پیروی په هغه د غه
له آوازه د زړولنو سره آشنا یم

د ایمان لمبه مې بله ده په زړه کښې
بیاله ګاږ او له ړاکټ کله په شا یم

د اسلام په کړاو ونو، غم او درد کښې
د بلال او د یاسر له زړه آګا یم

په دوو توروبه د لیث غوندې جنګیږم
د خالد غوندې ورګډ به په غزا یم

د ښستینې اسلامي حکم د پاره
د حمزه غوندې سر تیر او جان فدا یم

د محمود غوندې ښکور به سومنات کړم
په میړانه او ثبات کښې احمدشا یم

د ظالمو قوتو په مقابل کښې
د میرویس غوندې غوښتونکی د فتوا یم

د خوشحال مرې سره دې زما پښتو کښې
په تدبیر او سیاست لکه شیرشا یم

عقیدې مې ژوند او مرګ راته یو شان کړل
له دې پرته به نور څه درته څه وایم
ما اسلام ته وده ور کړه هم مې خپور کړ
چه فاتح مسلمان یادیمه آره یایم
لویه خدایه اسلامي تړی کړي وینمه
زه د تا لاره کښې ولاړ لاس په دعایم.

●

خدایه!

دجح له خاطرو نه ——— ۱۳۶۲/۸/۱۷

خدایه د اغافله زړه مې ته بدل کړي
ستا د مینې او اخلاص او ره پکښې بل کړي
ستا د دې لویې کعبې له مبر کته
سم مې فکره اعتقاد سم مې عمل کړي
چه د تا پاکه رضا شي پرې حاصله
په هغه لاره مې هر قدم او پل کړي
یو سوچه سپین مسلمان چه زه انه جوړ شي
مبراء مې له ریا او چل او ول کړي

که مخلص دې د درګاه او که نیکان دي
ربه ما په هغو تولو کښې افضل کړې

چه مضمون وي له کینې او کدورته
دا اګر د جن زړګی مې سپین لکه ململ کړې

چه بې ستا له ذکره فکره بل څه نه وي
مشرف بې د خاصانو په محل کړې

اسلامي دنیا چه ټینګه په وحدت کا
خدایه ما په د غه هڅه کښې اول کړې

د افغان جهاد چه بېرته منظم شي
ترینه ورک هر یو دغل او هر یو غل کړې

خدایه د غه نیت صفوته سره یو کړې
د شیطان په لار چه درومي هغه شل کړې

مرګ دې حق دی له مردودو مې مه شمېره
خو ستا پاکه نیکه لار کښې مې اجل کړې

چه خادم شم په رښتیا د مسلمانو
ربه ستا توفیق او توان راسره مل کړې

●

د امید نوبهار

۱۸/۹/۱۳۶۲

له اسویلو نه مې سهار نه دی جوړ
له سترګو سره ونه مې ګلزار نه دی جوړ
(عسر) لا نه دی تیر اخلاص نښتنه دی
چې د یسره ونه مې کتار نه دی جوړ
ظالمه ولې مې له خټې نه وهې
د هوس دلاسه مې پرهار نه دی جوړ
ستا د قضاء غیشی به کله رسي
د دار لایق سر ته لا دار نه دی جوړ
مجنون په تمه هسې شپې کړې سبا
که د لیلا د غاړې هار نه دی جوړ
مرګیه د مه شه او ساه و نیسه
د امید و نو مې بهار نه دی جوړ
نداره د وخت ده چې رپاڅېږه ژر
خولا د موږ تر اوسه کار نه دی جوړ

د خپلواکۍ ساحل ډېر لرې ښکاري
د بیت، گفتار سره کردار نه دی جوړ
چې د محیط سره سازش ښلرم
دا نړه جوړ نه یم که د انسان نه دی جوړ.

●

خبرې نکوي

۱۳۶۲/۹/۱۵

دا ښتنا د څه ده چې آسمان خبرې نکوي
د الرړې څه بولې چې جهان خبرې نکوي
باغلي سرې لوخړې د افغان شنو چمنو باندې
او پر گلزار گرځي شو بلبلان خبرې نکوي
سره ده که غږ د حال په ژبه فریاد و نه کا
ظلم چې لیده شي بیالسان خبرې نکوي
ژړو نې ی د کاڼي که ذره هم عطوفت لري
ولې ویده شوي انسانان خبرې نکوي
لوخ چې کړي اسرار اوله جرمونو پردې پورته کا
بیا نو وایي څوک چې شهیدان خبرې نکوي

سره لاله له وینو د شهید ئي هره خندره کښي
لوی تعبیرګانه شي چه دامان خبرې نکوي
چیغو د تکبیر ئي لري ولي د غرځي زندان
خنګه د همزنګ او پولیګان خبرې نکوي ؟
ای د وخت موسی ورته را پاڅیږه میدان ته شه
ځکه د دې عصر فرعونان خبرې نکوي
ورکړله باد ارې ښه دوکه پرچم ئې راووسته
بریت ئې ځړیدلي دي خلقیان خبرې نکوي
لاره تریښه ورکه وار خطا او تلولي شو لو
پټ دي په غار وکښي پرچمیان خبرې نکوي
شوه هره خبرې بې اثره سرو روسانو ته
نور د هیوادو نوسازمان خبرې نکوي
عقل او منطق کښي چه شول پاتې سر زورې کوي
تښتي له جرګو ځکه خرسان خبرې نکوي
توکې شو منشور چه د ملګرو ملتو ورته
روس د ملتونو په پیمان خبرې نکوي
دا نو عدو ستی ده که د فرت له بشریت ځکه
نن د حق په لوري چه انسان خبرې نکوي

گوره پرژړا کښی ئې بې حده تأثیرات وینم
څه شي که ظاهر کښی یتیمان خبرې نکوي

هر زخم د غرې ئې تعبیر د وحشتو نو د ی
د غه په اوږ سوي ماشومان خبرې نکوي

هر څه ادا، کړي ئې د شوندو تبسم کښی دي
دا د شهیدانو چه کابروان خبرې نکوي

شپه د گردلې ده تروږمې ده لاره ورکه ده
محوه کاروانونه شول ساروان خبرې نکوي

سره سره اسویلی مې له خولې حې بنکته لمنې ته
دود ترې پورته کیږي لوند گریوان خبرې نکوي

پربښی ئې یادگار د تاریخونو په سینه کښی د ی
منن که بخارا، تاجکستان خبرې نکوي

د ړوندرا پاڅیدلی، د زړه روغه، د مړو مجلس غواړي
هسې بیهوده چیرې افغان خبرې نکوي

نوشت تا کل خوښې د ملتونو وي
څه درس د امظلوم افغانستان خبرې نکوي

ارمان

داشعر د سرې کو د تاپه سر کښې ویل شویدی.

څنګه بې ننګ شول پښتانه میړونه
هغه زړې غزې او د ړانه میړونه
چه له شپیلوئ سم او غر لړزیده
د هندو کش د سرو شپانه میړونه
د اولې غزنه کا او چیرې پټ دي
د غږ پخلا که په مانه میړونه
چه د سکوت مهرئ خولو باندې دی
د غږ آزاد کړو لانه میړونه
دا د میرویس نیکه له ملا نه پیدا
دا د نازو د لرمانه میړونه
د پردی خاورې دي نصیب نیولي
دا پردیسی که میلمانه میړونه؟
دا تیت او تار په یوه خوا بله پراته
په اورستي د بیلتانه میړونه

د ابه سيږي د هدف منزل ته
د خپلواک ژوند د ارمان مېږونه

•

رحمان باباته

دده د سالګرې په وياړ ـ حمل/۱۳۶۳

بابا! اپا خېږ د نيا وګوره — د غم وږېځ خړه فضا وګوره
سترګې دې پرانېزه چه څه تېرېږي — خواره آسيا او افريقا وګوره
د زور وزر ښکرو رجوله شوي — ظلم او وحشت او ناروا وګوره
دې جهانسوزه روس ته وکړه نظر — د اجهانخواره امريکا وګوره
د اسرائيلو غابنونه و له خوا — مرګ د صبرا او شتيلا وګوره
چه هره لويشت يې شوه صبرا، شتيلا — افغانستان کښې تماشا وګوره
زمکه تنوره شوه په بې وزلو باندې — د شلم قرن کربلا وګوره
هغه کشوره چه معطر دې غوښتو — نن يې په غولي سره وبا وګوره
هغه باګرام چه د ښايست نښه وه — اوس بمونو پرې دړزا وګوره
نن په کابل او چاريکار وکښې دې — څګيروي او چيغې واويلا وګوره
چه پرې توپير د ورور او زور نشته دي — د غنبا مار د غنه بلا وګوره
مونږ ستا اولاد يو او ستا ليچه وزر — ستا په مزار د مونږ ژړا وګوره

گوره چه دې خاورې ته بيا رانه شي
په تاکښې وينم بد مرغي نظامه

●

دخلقيانو وحشت

دته خېل

قوس ، ۱۳۵۸

چه خائن دی دیکتاتور هغه امين دی
چه له خدايه رټل شوی دی لـعين دی
چه بيرغ د د هريت يې کړلو پورته
هغه مارکس، هغه انګلس، هغه لينين دی
چه ملګروی يې خلاق او بيا منفور کا
نو هغه دجال تر دګی او ستالـين دی
چه بې دريغه بمباری کا اطفال وژنی
داکمون که دمظلوم ولس کمين دی
چه نه رحم ، عدالت نه انسانيت کا
دخلقيانو له وحشته مې زړه شين دی
مونږ ته غوره ديندار او ښه اخلاق دی
دوی ته غوره سړی هغه چه بې دين دی

موږ دروغ نه وايو او مکر نکړو — يو ځو ږيدلی په والله وګوره

تا پيښوړ تنوړ ښودو له ظلمه — خواوس دې ځنګل ته آريانا وګوره

ای لوی اديب متصوف مشره! — ای دافغان لوی ريبابا وګوره

خدای ته سوال وښا او عذر و نه و کړه — په عطوفت د موږ په خوا وګوره

چه موږ آزاد شو خپل هيواد ته لاړ شو — په خوږ نظر راته بيا بيا وګوره

د ښمن ته عمر د شبنم وغواړه

په کوم يې پروت تغر د غم وغواړه.

وچوداګو

مومند ۱۳۶۳ ټوړ

خپل ځان به درنه ځار کړم د بابا وچوداګو

آخر به شي زرغون د آريانا وچوداګو

الهام خدای ورپيښلی و دتا يا که لمن کښېنې

که بيت و که پولاد مرهون دتا وچوداګو

د فتحې اعيزې يې ترخليج او هنده تللي

روڼ لی دې ميرويس او احمدشا وچوداګو

په چیغو او کوکارو او په سره وتوره و مخونو
روسان به درنه وزي نن سبا وچوډ اگو
د تېرو نیکه گانو کارنامې به راژوندی کړم
خړوب به مو په وینو کړم بیابیا وچوډ اگو
په تاڼې تاثیر نشته د دښمن ناپالم بمونو
او ریږي که له ځمکې او هوا وچوډ اگو
د حشر په میدان به دې هم مینه ژړه کښې پالم
په تا یم له ازل څخه شیدا وچوډ اگو.

●

څه تیریږي؟

۱۳۶۳٫۲٫۱۹

د پردې شاته نه پوهیږم چې څه تیریږي
د موږ په گټه که په نقص بد که ښه تیریږي
چې څه ترون دی لاسلیک شوی هلته د لته گوره
بې وږله خلک په گودر باندې راڼده تیریږي
پته هیڅ نه لگي اسنادا و مدارک نشته دی
دا چې په خوله وائي هغه بې هم په زړه تیریږي

خونړ مانه به کړي بر سیره دغه پټ راز و نه
ترڅو به لانه دي که هر څو به رمازه تیریږي
پرون چنګیز او هلاکو او ننن د روس تماشا
سبا به بیا په دې هیواد کوم پرده تیریږي
دلته د لویو قدمو تونوا زمو ښتون جوله شوی
په زړه کښې رحم په خوا را نود چانه تیریږي
خوبکښې وسوې لولپه شوې دافغان تبرې
پرلش مې څرېکي د غمو هره لحظه تیریږي
راشئ له لیرې ننداره وکړئ په خلاصو سترګو
هغه چه رموږ په ماشومانو او کاله تیریږي
څوك چه ملت ترمخ ونلري محکوم وي مدام
هغه به خود په ټیټو سترګو لکه غله تیریږي
د مایوسیه او افسوسونو او حسرت ورځې دي
چه چاته خاورې او ایرې او چاته سره تیریږي
هلته صهیون زمکې نیولي په جعلی دستاویز
دلته تانکونه د کمون په غره راغه تیریږي
هره خوږه نمرې به خوله کښې مې قاتل وګرځي
چه په مسلم ولس مې دا رنګه ترخه تیریږي.

لاهور ته

حوت ، ۱۳۵۸

ای د مغلو د جلال وطنه
ای د تیر شوي برم مشال وطنه
شاهي کلا دې له آثارو نه که
د هنرونو او کمال وطنه
ګلبرګ دې څومره ښایسته ښکاري
ای د ښکلا او جمال وطنه
هندو دې لرې کړله پاکې لمن
تا کښې انګریز شولو پایمال وطنه
د یادګار شلی دې په یاد د جناح
دی ستا سمبول د استقلال وطنه

نوی همه په شان او په شوکت کښې اوسه
لا همیشه وسه ته ای د اقبال وطنه

یو ترخه واقعه

۱۷/ ۷/ ۱۳۵۹

د ښه وږي د دیار لسم کوم ته ذکار
کال د دې سوه نه پنځوس او یو هزار
د جمعې ورځ د اسد نهم تاریخ وُ
په وردگو کښې جنګ و لښت خونبار
یوه طرف ته مجاهد مسلمانان وو
بل طرف ته وو خلقیان او روس غدار
که ټنګې وُ او که شنیزا او که خوات وُ
د توپونو پرې شروع شو درزهار
ډزه ډزه پوښي وو د دښمن او او بوسونه
پرې د پاسه الوتکو کړو بمبار
ګاډه یې هم شیندل په دې مجاهدینو
هر سړی یې لولپه کړو یا داغدار
ماشومان ښځې سپین ږیري یې وژلو
هم پسونه، خره، غوایه بېشمار بېشمار

له کور ونونه یې یو وړل ټول مالونه
زیر غوړی، طوسان قالینې په امبار

مجاهد وهم پرې وکول برېدونه
څوك یې ګوډ، څوك یې پانده کړل، څوك مردار

د دښمن له لاسه سره وو په اورونو
که ګوربت، که آبدره وه، که سالار

شنیز کښې هم شعبان(۱) له سره ورته تیر شو
رحیم(۲) خان وکا بې ساری لوی ایثار

د ګوربت په تاریخي غیبه کښې هرګوره
نوم(۳) محمد شو شهادت لره تیار

د مبارك(٤) او شاولي(٥) کور غمخانه شو
په مدیر(٦) عبدالواحد جوړ شو ناتار

د خلقیانو په وحشت له دنیا ولاړو
انجینر عبدالمتین(۷) پرهار پرهار

---

(۱) د حسن خیلو (۲) د سالارو
(۳) د حسن خیلو (٤) حسن خیل (۵) حسن خیل
(٦) حسن خیل (۷) داونخی

لہ دې ټولو نہ د بت مچا هـدېـنو
د افغان تارېخ کښې پرېښـوده یادگار
تر ورو ستې سلګۍ تسلیم نشول دښمن تہ
خوېې وګا ټہ ښــہ نوم د افتخار
جهاد وکړ تر آخره پہ مېـړ انــہ
اسـمعیل[1]، عبـد[2] الباقي مردانہ وار
خوېې جام د شـهادت نوش کا دنیا کښې
خپل خپلوان يې پہ ماتم کړل عزادار
څوك دې هسې قرباني ورکړي اسلام تہ
چہ شـهید پہ خپل وطن شي پہ يو وار
مدام اخلي امتحان لہ افـغانانـو
د فلك لہ چارو څوك کړم کو کار

لا مې تېر نہ وي د عمر بهارونہ
ولوېږي هر ګل چې خاندي پہ بهار

(۱) دامبوخاك ● (۲) دبمبایی

د دنیا په بام

۱۳۵۹/۸/۶

سور ښامار راغلی د آریا په بام
جوړ شول فریاد ونو واویلا په بام

هغه چه زمری ورته کتوی نشو
وینم کمونست او س د بابا په بام

اخلی اسویلی کښی به دریم جهان
پورته بی لکه کړه د ایشیا په بام

پام یې د پامیر په عظمتونو شو
جوړې مسخرې شوې د دنیا په بام

ای جهانه وینس شه له درانه خوبه
مه کړه تماشا او تماشا په بام

دروبه شي سبا ستاسو کوره و نوره
نن که به د مستي کوي زما په بام.

●

د دنیا بحران

۹، ۸، ۱۳۵۹

کله به شي ختم د آریا بحران
دا بحران یا دیرېږي د دنیا بحران
دا د موږ هیواد زړه د ایشیا بوله
ځکه پرې مربوط دی د ایشیا بحران
مړه یې بې ګناه کړل په جېلونو کښې
سمه شوه او غرشو او فضا بحران
مرګ وُ او زندان وُ د لما بخځر کول
نور نو پټېدلی نشوی دا بحران
دا جهانی سولې ته خطر وینم
زړ دی دا زما او زړ د تا بحران
دې قطبی خرسانو پنجی سرې کړلې
بیا یې کړ تازه د کمبودیا بحران
چیغې او فریاد د ماتو زړونو دی
دغه د بناخی د افریقا بحران

دی
داد او فغان دی د مظلومو خولو
دا د حبشي ارتيريا بحران
نور نو په هيڅ شان غلي کيدی نشي
رسي به مسکوته د وارسا بحران
دا کمونستان مسوول د ټولو دي
نن دی که پرون که د سبا بحران.

●

افغان خوځي

۱۳۵۹/۸/۱۹

دافغان په سر بشندنه جهان خوځي
زمکه خوځي، بحر خوځي، آسمان خوځي
د روسانو الوتکي ورته هيڅ وي
چه رګو کښي يې قوت د ايمان خوځي
هيڅ د مرګ پروا يې نه وي او جهاد کا
چه په زړه کښي يې يو حرف د قرآن خوځي
سرګردانه يې پراو دا کړه ډيره ډيره
په راپور يې بي، بي، سي اوناندان خوځي

د خلقیانو له وحشت راته سور اور شو
خپل وطن مې که هر څو مره انګبین دی
د طاغوت ... د الحاد په مقابل کښې
د نیمې وک علمبردار جلال الدین (۱) دی
د اسلام په نوم فدا تول افغانان یو
د امو رسم، د امو دین، د امو آئین دی

•

سنګروکښې

کابل
حوت، ۱۳۵۷

نوی لمر را څرګندیږی عزو، رعو کښې
د پکتیا په لوی محاذ په کوټو کښې
مجاهد مسلمانان په غورزنګ را غلل
په د ښمن یې ماتم جوړ کا سنګروکښې
د اشفق سور د اسمان نه دی ملګرو!
د شهید وینې ښکاریږی کناروکښې

---

(۱) مولوی جلال الدین حقانی.

هغه خاوره وي عنبر فضاء يې مښك وي
چه پرې وينه د سرتير مسلمان خوځي
سرخروئې د آسمان ځكه په نصيب شوه
چه ترې كوزه د شهيدانو كاروان خوځي
هزاره وردګ مركز د انقلاب شو
له اوله نورستان او ځدران خوځي
لوګر او وسته لړزه په د ښمنانو
ميدان خوځي، پغمان خوځي، لغمان خوځي
د قدم ګرد او غبار يې په كابل وي
چه تګاب او ننګرهار او پروان خوځي
په هرات او كندهار كښې سره لمبه ده
د غازيانو په ير غل بدخشان خوځي
په تخار او په سالنګ كښې زلزلې دي
شلګر خوځي، پنجشير خوځي، باميان خوځي
د كمونزم بنې به و باسي له بيخه
په خلاف يې د جهان كارګران خوځي
پښتونه عظمت يې بيرته راژوندى كا
و رته ګورى جهان خوځي افغان خوځي.

له اژدره سره نه حې

۱۳۵۹/۹/۳

زړه مې له قاتل او بې ځگره سره نه حې
سر مې له بې رحم او بې سره سره نه حې
زه خویم انسان د انسانانو سره ژوند غواړم
هوش مې له قطبي خرس او ببره سره نه حې
نلري شعور خدای د اخومره تعدی کوي
ښې مې له دهري او نا خبره سره نه حې
رقص چه وي فحشا چه وي او نوم د انسانيت نه وي
خيال مې د دې عصر له هنره سره نه حې
ښځه چه شريکه او د ټولو خلکو مال گڼي
طبع مې له داسې بې پدره سره نه حې
داد کمونزم زور او دا د ليبراليزم زار
عشق مې له دې زور او له دې زره سره نه حې
ظلم او وژل د کار يگرو ترعنوان لاندې
عقل مې له دې ټول کارگره سره نه حې
نه غواړي زړگی مې د کړو غلط نکړونه هيڅ
دا سپين مرغی له سره اژدره سره نه حې

د اتحاد بیرغ

۱۳۵۹ /۱/ ۲۱

لوی دښمن د کمونست او د الحاد یم
د اسلام د اساسي فکر بنیاد یم
په شنه زمکه په سپین زړه بیرغ تکبیر وایم
د توحید په کلمه باندي بیا ښاد یم
سپینو زړو ته موم پولاد د تورو زړو ته
خو مره ښکلی په شعار زه د جهاد یم
تل به زه یم تل به او سم هسکه غاړه
چه جوړ شوی په ښه نیت د اتحاد یم.

د اماني ټکه

دلو، لاهور
۱۳۶۱

لوی ټکه د (امان) وه چه نازل شوه
زموږ په ملك او زما د کور په ککري
څوك يې مړه څوك يې په جیل او څوك فرار کړي
شول سر په غرو رغو د ر پیدر ی

(تره‌کی) (امین) یې دواړو وزرمات کا
(ببرک) ګوړی شپیلوي یې لا مری ده
داپه دې چه مومن اسلام غوښتووطن کښې
موږ مانع وو د کمون او بې سری ده
انجام خرشو، خربه شي د وطن پلوړو
چه اسلام لره کاته کاپه خوا ری ده.

●

سوغاتونه

۱۳۵۹/۷/۲

وړانوي د آب پردې شریف کورونه
خلک یې وژني، لوټوي یې هم مالونه
غر او سمه د بمونو له لاسه اور شي
د چا لاس شي پکښې غوښ د چا سرونه
د واړه زاړه او ښځې تو پیرنه کا
رواج کړي یې له یوه سره قتلونه
په سوتک یې ټکوي چه سرجګ نکړي
په لاره یاندې ربیبي ټول عالمونه

د ادیانو لوی دښمن مسلمان وژني
وړي له منځه ټول دودونه، کلچرونه
په وطن کښې سراسر وحشت دهشت وي
دغه دي د کمونزم سوغاتونه.

●

الغیاث

د خلقیانو له بلوکه الغیاث — د ملت له درد او دوکه الغیاث
چه تکیه دي په قدرت او په ځوکۍ ده — نه ارزیږي په پاپوکه الغیاث
د غره خلک به ناچاره ځان ته بلا کړي — د اسلام له جوش او جوکه الغیاث
یو ځل تیت شي بیا دي بیرته سر تاج کا — له دې هسې لک او بوکه الغیاث
انسان وژني، حیوان وژني، تخریب کاندي
د روسانو له سلوکه الغیاث.

●

د بد مرغۍ لمر

د خلقيانو د سرود په مقابل کښې

کابل، ۱۳۵۸

ولوېږه لا ولوېږه — ته اې ملوث لمره!
اې د بې رحمۍ لمره — اې د بدمرغۍ لمره!
دوی تورو غارو کښې کړه — غوره د پستۍ لاره
هم د تورو شپو لاره — هم د ترورېزمې لاره
سره د خونرېزۍ لاره — ښه د دښمنۍ لاره
ولوېږه لا ولوېږه — ته اې ملوث لمره!
اې د بې رحمۍ لمره — اې د بدمرغۍ لمره!
دا انقلابي وطن — اوس د اجيرانو دی
د غدارو ميراث — اوس د ګيدړانو دی
راغی د ستم دور — وار د ډېرپلانو دی
ولوېږه لا ولوېږه — ته اې ملوث لمره!
اې د بې رحمۍ لمره — اې د بدمرغۍ لمره!
دوی په نړيوالو کښې — جنګ ناآرامي غواړي
خوارو زيار ايستونکو ته — پراخه خونرېزي غواړي

جیل غواړي ځنځیر غواړي　　　مرګ یې ابدي غواړي
ولوېږه لا ولوېږه　　　تهٔ ای ملوث لمره!
ای د بې رحمۍ لمره　　　ای د بد مرغۍ لمره!

●

د تزویر شعار

دا شعر د امین د قدرت په وخت کې ویل شوی

کابل، ۱۳۵۸

دی شعار د ټګۍ د تزویر شیطانت　　　مصوُنیت، قانونیت، عدالت
پس له قتله ترور جنایات او وحشت　　　مصوُنیت، قانونیت، عدالت
څه عجب دی شعار
د نوکر د بادار
د شاګرد وفادار
نه څه شرم حیا، نه اخلاق خجالت　　　مصوُنیت، قانونیت، عدالت
مصوُنیت یې نیول
قانونیت یې تړل
عدالت یې وژل
دا دوا ده اکسیر دی خوار مملکت　　　مصوُنیت، قانونیت، عدالت

ستره کسی کا بیان
دلته هرڅه پریمان
مګر خوري یې خلقیان
د وارث حقیقي خوله کې خوند کا نعمت مصئونیت، قانونیت، عدالت

●

اسلامی انقلاب

کابل

حوت، ۱۳۵۷

هم دی رعد هم دی برق هم طوفان هم سیلاب اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب
هم مشعل د تیاره ځلند لمر هم شهاب اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب
په دښمن یې غورځنګ
بې پروا له ګرځنګ
پټ آبرو ده او ننګ
غواړي ژوند انسانی آسمانی یې کتاب اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب
د جابر دی دښمن
تل په عدل مین
ستایي دین او وطن
د ملحد کور به نن یا سبا کړي خراب اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب

کړي وطن به آزاد
و به رسي په داد
ورك به كاندي الحاد
تول به اوسي خندان ماليدلى دا خواب اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب

●

نه روس نه امریکا

موږ غواړو وله افراط او له تفریط پرته دنیا نه روس نه امریکا
چه ژوندي انسان وي د وروري ځي وي فضا، نه روس نه امریکا
موږ نه غواړو غلام ژوند
د ويرې نا آرام ژوند
له قیده ډك بدنام ژوند
چه نه چا ته کتی نه غږ یدلی شو برالا نه روس نه امریکا
موږ ضد د فیوډالی یو
د غرب دلیبرالی یو
روان په ورور ورولی یو
د شرق او غرب چلونه تول جهان ته شول رسوا نه روس نه امریکا

سو سیال دې تول بیدار شي
له روس نه دې بېزار شي
په غم به گرفتار شي
له ستونې به يې تیر کړې سو ر پیاما ر نن یا سبا   نه روس نه امریکا

عجب يې سیاست دی
ر بښتیا چه لوی قوت دی
له نورو يې نفرت دی
لن گورې خمیني ته ده په خدای يې اتکاء   نه روس نه امریکا

په ننگه د اسلام شو
لن پوه په دې مرام شو
جهان لره پیغام شو
اسلام انسانی ژوند د پاکوز ړونو دی شفا   نه روس نه امریکا

●

اسلامی او اسلامی

۱۳۵۹ / ۱ / ۱۵

موږ کښې شته دو مرو ولي   نه شرقي او نه غربي   اسلامي او اسلامي
خوښوو تل خپلو اکی   نه شرقي او نه غربي   اسلامي او اسلامي

په تش لاس یې د غلیم نه وسلې لوټ کړې
الهي بری یې مل دی په جګړو کښې
نه مار شو نه د دښمن او نه میټنګ شته
ځوږ او شور د انقلاب دی ولسو کښې
د توپونو او ټانکو پروا یې نه وي
د ایمان قوت چه ښوونږي لاسو کښې
دانګی، دانګی په دښمن کا غوږ نګونه
د توحید لمبه چه بله شي په زړو کښې
ټول افغان ته به د نوي ژوند وږساه شي
تأثیرات مې دومره شته په سرو آهو کښې
تره کیان به یې په تاو کښې لولپه شي
امینیان به ټول ایرې کا په لمبو کښې

●

دسترګو نم

کابل
جوزا، ۱۳۵۸

که ژبه بندوه نو قلم مې نه بندیږي
قلم که بندوه د زړه غم مې نه بندیږي

د زمانې سیلۍ

د جهادي اشعارو مجموعه

لیکوال: ـــــ عبدالباري غیرت

کال: ـــــ ۱۳۶۰ ش

الف

دزماني سيلې

دزماني سيلې په افغانستان کښې همېشه تنده او تېزه الوځي او ځوځو وارې يې د خوارکي افغانستان سابه په سيلې کړي دي.

دکومه را هيسې چې موږ تاريخ پېژندلي دي په دغه لنډه موده کښې خم د حوادثو ډېرې زورورې سيلې بيابيا او ځوځو وارې په افغانستان باندې الوتې دي.

نوږ خونور د اشلمه پېړۍ چه د تهذيب، مدنيت او علمي ترقۍ پېړۍ ده د افغانستان د پاره يې ډيوځه لنډې مودې نه پرته دسره تنازعه حيثيت لرلى ې کله داخلي انقلابونه او کله خارجي تاړاکونه (چه په کلي دول يو تر بله ربط لري) ددې خوارکي ملکر يو کړىه ولس او هېواد د تباهۍ سبب شوى دي او دالړعه نه يواځې او س روانه ده بلکه يواځې لوى خداى پوهېږي چه تر څو به روانه وي.

پخوا به کله چنګیز او کله اتیلا ور خود ترقه په دې زمانه کښې کله انګریز او کله روس دی چه د یو سرکښه اتش فشان په شان په خپرې وخت په وخت د افغانستان غرونه رغونه، دریابونه او ځنګلونه، دړې او شیلې د اور دیوې هیبت ناکې لاوې په بهیر کښې په مخه کړي دي. یو پرهر لا جوړ نه وي چه بل زخم را حواله شي او یو مصیبت لا نه وي تېر چه بل تاراک راورسیږي. او هغه د عربي شعر په مصداق:

رماني الدهر بالأرزاء حتى
تواصلت النصال على النصال

غمونه دي چه یو له بله نه شرمیږي او ځوله ځوله بلکه کېږه کېږه د افغانستان په بېوزلي او خوارکي ولس راوریږي او خدای پوهیږي چه لا ترکله به وریږي.

که غم له غمه شرمیدلی
په ما به نه راتلل ځوله ځوله غمونه

دې حال د افغانستان ټول ولس نن دی او که ښځې

او لوی دي که واړه غمونه کړي دي ، په هر کور کښې چاته مړي پر ورت دي ، چاته ټپي پېښ دي څوک په معیوب اخته دي ، ځینې د خپل بندي غم ژاړي او څوک د لادرک په غم ککړ دي مړي نشته ویرنې شته ځکه خو که چا سره توره ده که د چا په لاس قلم ، که د نثر خاوند دی که د شعر ټول د غم په دې ټال کښې ځانګي او د هرې خولې نه د ظلم و زور او تجاوز په شکایت کښې فریاد راپورته کیږي .

زمونږ ګران صاحب حق عبدالباري غېرت د خپل حساس طبیعت له کبله او د خپلو شهیدانو او مفقودانو د غم له دې ده یو قدم مخکښې روان دی او د غم کوکې یې بې اختیاره له خولې وځي .

هسې هم دې د هغه کورنۍ نه یو متحرک طبیعت لري او د هغه غه تحرک برکت دی د تعلیم او تحصیل په مدارجو وړ پېښ او پورې ویست .

د ده پلار دې خدای په جنت کړی زما او بلکه زما په شان د زرهاؤ استاذ او استاذ کل و اسم ګرامي یې مولوي صاحب یار محمد وردګ او د کابل د عربي

د زماني سيلۍ

د جهادي اشعارو مجموعه

ليکوال : ــــــــ عبد الباري غيرت

کال : ــــــــ ۱۳۶۸ ش

دارالعلوم سرمدرس ؤ . دا بزرگوار یو مجاهد شخص ؤ . د انګریزانو خلاف په قتال او سیاسي جهاد دواړو کښې شریک شوی ؤ . تر دې چه یو ځل یې د دوی سخت قید و بست په انګریزي دوره کښې له دیوبند نه د هند د اسلامي تحریک د زعامت یو لیک په داسې حال کښې چې د تعویذ په دول یې په غاړه کړی ؤ او د خامتا یو اوږد کمیس یې اغوستی ؤ او د لیونو یا مجذوبانو اکټ او پېښې به یې کولې د افغانستان د سرکاڼو خواکښې د چرکند قبایلي سیمې میشته مجاهدینو ته ورساوه.

د مرحوم مولوی صاحب یو مشر زوی مولوي عبدالباقي کمونستانو په ډېره بې رحمۍ شهید کړ او د هغوی بل کشر زوی دا عبدالباري جان دی چه کله به مو ترې د وړوکي صاحب الحق پوښتنه وکړه نو هغوی به وچولی راغونه کړ او موسک به شو ویل به یې لیونی دی ، لیونی سهار چه له خوبه راپاخي یوه اوږده لکړه راواخلي او تولو ورځ پرې ښکته پورته ځغلي چې دا مې آس دی . همدغه طبیعت ؤ چې دده استعداد ته یې رشد ورکړ او یو اسلامي

عالم، شاعر، وطن دوست او مجاهد يې تر جوړ کړی. په عربي او فارسي کښې نويسنده دی، پښتو خو يې خپله ژبه ده او په پښتو کښې يو ځوان شاعر دی چه بنايسته ښه ذخيره د اشعارو يې مينځ ته راوړې ده، هم په افغانستان کښې او د هم د هجرت په دوران کښې په رسمي او تنظيمي عهدو مامور پاتې شوی دی او د روس خلاف جهاد کښې ئې برخه په زړه پورې ده. مختلف او متعدد تاليفونه يې کړې دي، چه ځينې يې د بهرنيو امدادي مؤسسو له پلوه په مادي جائزه نمانځلی شوي هم دي.

د اشعارو دا مجموعه چه ستاسو په لاس کښې ده لکه چې مخکښې مو وويل د روس د بربندو او ناروا تجاوز برخلاف يو ځرګند او صريح احتجاج دی چه په حقيقت کښې د ټول افغان ملت اسلامي جامعې او بشري نړۍ ته آواز بلل کيږي. په دې کوکو او فرياد کښې زمونږ د افغاني جامعې لوی وړه او نر، ښځې ټول شريک دي. د غيرت او ميړانې نه ډک د رجز کومې برخې چه په دې مجموعه کښې وينئ، هغه د ملک

د شاه زلمو مجاهدینو د غیرت چینې دي، چې د غیرت
په ژبه او قلم جاري شوي دي.

د وحدت او بیدارۍ کومې نارې چې ستاسو
او د هر مخاطب غوږ ونو ته نوازش ورکوي هغه د
افغاني جامعې د علماؤ، مشایخو، قومي مشرانو
روشنفکرانو لار ښوونې دي، چې هر مسلمان افغان یې
د زړه له کومې تائید کوي.

زه ځکه ورورکي صاحب الحق ته د زړه له کومې
مبارکي وایم او هیله لرم چې د مولانا مرحوم یار محمد ورو ک
روح به پرې نور هم ښاد او خوشحاله شي.

محمد [redacted] گلاب ننګرهاري

د سرحداتو پښتوو او بلوڅ او د عبوري حکومت
مشاور وزیر.

د زماني سيلي

پورتني عنوان د هغه کتاب نوم دی چې د ګران ورور غيرت د شعري استعداد ښه ترجمان دی.

داچې زه شاعر نه يم نو د دې حق نلرم چې د ده د شعرو نو په برخه کښې څه ولیکم، خوځنګه چې غيرت صاحب[1] حق دی نوله دې کبله چې د دوی څه حق مې په غاړه کړای وی نو د ده د بیوګرافی او پيژندنې لپاره غواړم يو څه وليکم:

عبدالباري غيرت د خدای بخښلي مولوي يار محمد کشر زوی دی. مرحوم مولوي صاحب ډېره موده د عربي دارالعلوم په مدرسې کښې د حديث او تفسير استاذ او ډير پياوړي شاګردان يې د اسلام د خدمت لپاره د افغانستان اسلامي ټولنې ته وړاندې کړي دي. د مرحوم مولوي صاحب دا عادت و کوم وخت به يې چې

(۱) صاحب حق د استاذ زوی ته ويل کيږي.

وليدل شاګردان ستړي اوستومانه معلومېږي نو يوه ټوکه به يې وکړه او د شاګردانو ستوماني به يې لرې کړه ، د مولوي صاحب ټوکې هم ساده ټوکې نه وې بلکې ادبي او تعليمي جنبه به يې درلوده.

څرنګه چې مرحوم مولوي صاحب د هند په لويه برخه کښې تحصيل کړی ؤ نو د دوی دا تکيه کلام ؤ چې ويل به يې چلو! ، چلو! -

ګران ورور عبدالباري غيرت په وړوکتوب کښې لا شعر ويل ، که زما حافظې خطا کړې نه وي په ۱۳۳۶ هـ ش کال کښې د عربي دارالعلوم په مدرسه کښې د ميلاد النبي صلی الله عليه وسلم يو کنفرانس دائر شو ، د دغه کنفرانس رئيس تصادفاً زه تاکل شوی وم ، په هم دغه کنفرانس کښې نورو ورورو يو شعر ولوست د هغه شعر زما په ياد نه دی خو دومره مې په ياد دي چې په هغه وخت کښې د غه بناغلي ځان تر عابد ويل دا تخلص ورسره مناسب ؤ ، ځکه چې د دوی مرحوم پلار ډير عابد او متقي شخص ؤ ، دا چې اوس دا بناغلي ځان ته غيرت وايي دا هم ورسره وړ او مناسب دي ، ځکه

د ده ټول شعر ونه د غيرت نه ډک دي ، لوستونکي
او اوريدونکي په وجد او غيرت راولي لکه چې وائي:

په تشـلاس يې د غليم نه وسلې لوټ کړي
الهي برى يې مل دى په جګړو کښې

غيرت صاحب د ننې مخو روسانو مخونه چې د
افغان مجاهدو زامنو ور تور کړل د دوى د کاذبو
وعدو نه پرده لرې کړه ، وائي :

د بنګو کارګو دا حق و چې اداء شو
کړو نسکو ئي په کور لمبه کړه بلـه

د غم ځامى شاعرخپل غم او د يونيم مليون د
شهيدانو اُلم په دي غولوي؛

د افغان د شهيدانو تأثيرات دي
چې مسکو ښار زلزلې کړي په وار سا کښي
حقيقت چې شو څرګند خلکو ته ځکه
د کمون ټغر ټولېږي هره خوا کښي

خو عام مسلمانان او بې وزله افغانان دا دعا
کوي ؛

" رب لاتذر على الارض من الكافرين ديارًا "

دکتاب نوم : دزمانې سیلۍ
لیکونکی : عبدالباري غیرت
دچاپ کال : ۱۳۶۸ ش
خطاطان : نورالحبیب "نثار"، محمدالجان "مخلص"

ص - ب ـــ ۱۱۵۵ - پېښور پاکستان
P.O. BOX ——— 1155

د افغانستان داسلامي جهاد مؤسسه

دطبعې حق ساتلی دی

دا بناغلي کمونستي رژیم په لنډو عباراتو او دڅو
بیتو کښې داسې ښیي:

کمونست کښې اقتصاد که سیاست دی
دیو څو تنو محدود و پرې قدرت دی
دا چې دوی دغه قدرت له ځانه سلب کړي
ناممکن او مستحیل دغه حالت دی

څرنګه چې افغانان اسلام پالونکي او وطن دوست
خلک دي نو همغه وه چې د سرو روسانو د راتګ سره سم
دافغانانو په وینو کښې د عام پاڅون وینه په جوش
راغله، بزګرانو چوکۍ ته[(۱)] واخستې او کارګرانو کوتکونه
په لاس کښې ونیول، روس ته یې داسې ودباوه چې ټول
وجود یې تناکې شو او داسې وارخطاء کړ
چې د تیښتې لودن یې ورک کړ.

شاعرانو هم د زلفو او خط او خیال شعر ونه
هېر کړل د توري او ټوپک ستاینه یې پیل کړه، علماؤ
هم خپله د رنده وظیفه چې د قام وینسول ؤ په پوره امانت

(۱) چوکۍ هغه کلکه لخته ده چې د هقانانو د بانډ نلرله غوټا ډبوي

دافغانستان مسلمانان داریٔ سرته ورسوله نو همغه وه چې په یوه آواز او یوه غږ راپاڅېدل او دد غه وحشي دښمن په مخکښې «کأنهم بنیان مرصوص» ودرېدل تر څو ئې د روس د فرعونیانو او هامانیانو د کبر ښکرونه ورمات کړل.

زه غیرت او داسي ټولو غیرتیانو ته لا توفیق او بریالیتوب غواړم.

سید حکیم کمال شنواری

داوقافو د عالی اداري پخوانی رئیس

عضو لجنة العلماء وعضو المحكمة العليا لمجاهدي افغانستان

۴ـ عادل: د الازهر شریف ډاکتر .

ښکلي اشعار

د دا اثر د ښاغلی عبدالباری غیرت هغه وخت کښې مې په سر سري او عاجل شکل باندې و لید چه د تسوید په حال کښې و .

د دې اثر په لیدو سره مې مؤلف ته و ویل :
ستا استعداد چه د درد سره ملګری شي په رښتیا سره چه د دردونو ترجماني کولی شي او هغه وخت مې په یاد شو چه دده محترم پلار شیخ الحدیث مولوي یار محمد صاحب چه ډیر متقی عالم او د نامتوا شخاصو څخه و او د عربي دارالعلوم استاذ و کله چه د ا ذکي زوی په مدرسه کښې شاملولو ته ما ته او نورو استاذانو ته به يې ویل ؛ دده استعداد ته پام ولرئ چه د شعر او شاعری سلیقې ښائې ددینی پوهې په نور منوره شي . غیرت دارالعلوم په ښه شان پای ته ورساوه او د شرعیاتو په پوهنځي

کښې شامل شو. هلته يې هم خپل ليک او د دروڼو ترجانی کله په شعر او کله په نثر کوله.

کله يې چه د ماموريت دوره شروع شوه خپلې مطالعې ته يې دوام ورکړ او پس له ډيرو کلونو بيا هم په عملی ساحه کښې سره ننږدې شو. دی د قضاء د مجلې مسئول مدير او ماد هيئت تحريرياست په غاړه درلود. غيرت خپل غيرت ښکاره او څو رسالې يې وليکلې چه زياتره د مقدس اسلام د معرفی کولو په ساحه کښې وې.

د افغانستان د شوروی د کودتا سره دده درد څو واره اضافه شو ځکه چه محترم عالم او مشر ورور يې شهيد شو او نور ډير مصيبتونه ورته ورسيدل. دی د دې دردونو سره د درد او غم غمخانه شو، ډير ودرديد اما ډير کوښښ يې وکړ چه د جهاد په ساحه کښې خپل دينی او ملی مسئوليت د قدم او قلم له لارې ادا کړي.

ده په دې اثر کښې يو قاموس اختراع کړ مګر د صحت او عدم صحت ابتکار او نوی تعبير

ئې ګرانو لوستونکو ته پرېږنود چه دوی د وطن په موجوده حالاتو قضاوت وکړي او د انوی اصطلاحات تطبيق او د دغو دودونو په دګر کښې ئې مطالعه کړي.
پاك خدای دې ده ته توفيق نصيب کړي چه په دې حساس وخت کښې نور هم ښه ښه آثار لوستونکو ته وړاندې کړي.
د افغانستان د آزادۍ او د اسلامي حکومت په اميد او دعاء.

پېښنور ، بالاماني

د عبدالباري غيرت لنډه پيژندنه

عبدالباري غيرت د شيخ الحديث او لوی مفسر مولوی يار محمد زوی دی. د ده پلار د هند د فتح پوري د مدرسي فارغ او لومړی شخص ګڼل کيږي چه د احاديثو علم يې منطقي ته راوړی او د هغه تدريس يې رواج کړی دی.

مولوي يار محمد د شرعياتو د پوهنځي د حقوقو د پوهنځي - د عربی دار العلوم او د دار القضاة استاذ ؤ. ده مرحوم د کابلي تفسير په فارسی ترجمه کښي لويه برخه درلوده. ده د انګريزانو په خلاف د پاکستان په جهاد او بيا د پاکستان او هند په وېش کښی مهم رول درلود.

ده د هغه وخت د افغانستان حکومت ته د پاکستان او افغانستان د يوه واحد اسلامی حکومت نظريه وړاندي کړه، خو ونه منل شوه.

اهداء

د وطن هغو شهیدانو ته چې د اسلام
په لاره کښې قربان شوي او په تیره جناب
ضیاء المشایخ محمد ابراهیم مجددي او د ده تولې
کورنۍ ته چې په مظلومانه توګه شهید
شوي دي

عبدالباری غیرت په ۱۳۲۲ ه، ش کال د اسد د میاشتې په ۵ د پنجشنبې په ورځ د دوړ د گود حسن خیلو د برې کوډې په کلي کښې زیږیدلی دی .

دی د شرعیاتو لیسانسه د قضائي کدړ فارغ دی. کاله د چارد هي د محکمې قضائي نائب او څلور کاله د قضاء د مجلې مسئول مدیر وُ . د خلقیانو په دور کښې تعزیراً د مامورینو د اختصاصي محکمې کاتب او بیا د فامیلي محکمې قضائي غړی مقرر شو .

له دې کبله چه له یوې خوا د مجاهدینو سره په تماس کښې وُ له بلې خوا یُ د خلقیانو ظلم او وحشت په سترگو لیده او بیا په تیره په فامیلي محکمه کښې زیاتره فیصلې په زوره او خلاف د شرعي په تحمیلي صورت پرې اجراء کیدې ، نو یُ د مهاجرت لاره غوره کړه .

دی له دوولس کلنۍ څخه شاعر شوی او بیا یُ ورو ورو نوره لیکوالي پیل کړه.

د ه مطبوعاتو ادبي جائزه هم اخستې ده. ده اسلامي تحريک ته ډیاد وړ خدمت کړی دی. په مېښتنګو کښې یې برخه اخستې ، شعرونه یې ورکړي دي او په دې لاره کښې یې د دې تحریک تکړه غړي عبدالرحیم نیازي ته لازمي مشورې ورکړي او هغه یې یو صمیمي ملګری و .

دی د مولوي عبدالرب احدي شفقتونه او مهربانۍ نشي هېرولی ځکه له یوې خوا هغه محترم استاذ شاګرد و او له بلې خوا محترم احدي دده د پلار مولوي یار محمد یو مخلص شاګرد ګڼل کېده او دده پلار به تل د محترم احدي ستاینه کوله .

همدا دلیل و چه غیرت د خپل ورور مولوي عبدالباقي او خپل استاذ مولوي عبدالرب احدي په مصیبت یو شانته وځوریده او د خلقیانو سره یې په دې اسلام د بنمنه رویه سخته عقده په زړه کښې پیدا شوه .

لومړۍ برخه

پښتواني شعرونه

یادونه :

ددې اثر په چاپولو کښې د ډاکټر عبدالولي رفعت نظر د قدر وړ دی.

فهرست